خراسان غږ

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا الزَّكَوٰةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ

نو کله چي حرامي مياشتي تيري شي، نو مشرکان ووژنئ چيري چي يې ومومئ او هغوی ونيسئ او ايسار يې کړئ، او په هر څارنځي کښې د هغوی لپاره کښېنئ. نو که هغوی توبه وباسي او لمونځ قايم کړي او زکات ورکړي، نو خوشي يې کړئ. الله ښنونکی او رحم کوونکی دی .

[سُورَةُ التّوبَة : 5]

خراسان غږ 15

پنځه لسمه ګڼه / جمعه 15 جمادی الأولی 1444هـ

خراسان غږ پنځلس ورځنۍ مجله العزائم خپرندویه اداره یې وړاندي کوي

ديني، تاريخي، سياسي، ادبي او خبري مجله

خوری ...
هو ستاسې د عزتونو پوښتنه کولای شو

خــورې! مــوږ ژمنــه کړې وه چې له پاکستـاني مرتدينــو او د دوی له نيـابتي مليشــو طالب مرتدينو به ســتاد عــزت داســې غــچ واخلــو چې پــښې به يې ولړزيږي. د الله په توفيق همغسې وشول د پاکسـتان سفيـر چې د افغانستان لپاره د پاکســتان د وايســراې رول لري، د مـلا هيبت او ملا مداسن څخه يې موقف لوړ دی او دغه ټـول يې د اوامرو تابـع دي په همدې نجس د اسلامي دولت د انغماســې زمرو بريد په رښتيا چې د دوی زړونه له رعــــب او ډاره ډک کـړل. دا نه زمــوږ لومړی بريد دی او نه به وروستې وي ان شاء الله ... په دغه بريـــد مـوږ دوی ته وښــودله چې له دوی څخه د دې امــت اصلي وارثيــن د اسـلامي دولــت زمــري د اسـلامي امـت دلوېـو د عزتونو پوښتنه کولای شي....

تفصيل 25 صفحه کې





د مجلي له منځپانګې څخه

تفسير القرآن الكريم

د حنا کهر کوربانه

دسنګر او ممبر سرې

سيرت النبي صلى الله عليه وسلم

نثر الؤلؤ والمرجان

د اصحابو د ژوند پلوشې
أم سلمه رضی الله عنها

الفلاح والرشاد فی مسایل الجهاد

چې دا ميزونــه يې
څنګه نري شـــول ؟

لنډه کيسه | برګ سپی دليوه ورور وي

حمزه سره مې الله په اماني وکړه ، د طالب مرتدينو د مخابرو د کشف لپاره مې انتن نور هم لوړ کړ ، لږ وروسته يې په يو نمبر کې د دوه کسانو خپ غږ واوريدل شو ، يو بل ته وايي: حاجي اغا ته وايه دا خلک سخت مقاومت کوي، ورته وايه: هسې پرې ملګري نور مه خرابوه ، همغه د نورو په شان لوبه ورسره په کار ده.
له مقابل لوري ورته جواب وشو: خه ته صبر وکړه .
زه هم ورته همدې نمبر کې کيناستم، لږ وروسته غږ شو: مولوي صيب اوري ؟
ورته وايي: هو اورم څه غوري سوي.
مولوي صيب اجي صيب وآيي تاسې صبر وکړئ ، رابطې مو کړې ، دغه سر ايله اوس خارجيانوته مالوم سو ...

15 جمادى الأولى
1444

العزائم

ديني برخه

تفسير القرآن الكريم 03

نثر اللؤلؤ والمرجان في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان 08

الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد 13

سوال ځواب 19

سياسي برخه

خلافت پيژندنه 23

د حنا كهر كوربانه مامورين 28

دكفارو او مرتدينو سره سختي د نبي مختار او خلفاء راشيدينو په سيرت كې 32

انځوريز راپور 37

چې دا ميزونه يې څنګه نري شول ؟ 38

خورې هو! مورې ستاسې د عزتونو پوښتنه كولاې شو 39

ادبي برخه

برګ سپى د ليوه ورور وي 42

د ممبر او سنګر سرې 45

شعر (د خلافت د مجاهد پيغام) 47

تاريخي برخه

سيرة النبي صلى الله عليه وسلم 48

أم سلمة رضى الله عنها 56

سُورَةُ الأنفالِ

تفسير القرأن الكريم

١٥

أعوذ بالله من الشيطن الرجيم

سورت انفال شروع و، مخکې آيتونو کې الله تعالی د مال غنيمت حکم بيان کړو، چې دا د الله او د هغه رسول عليه السلام په حکم به تقسيمېږي او مومنانو پدغه کارونو کې د تصرف کوم حق نشته، بيا يې په تقوی او خپل منځي جوړجاړي باندې امر وکړو، او بيا يې د مومنانو صفات او غوره جزا بيانه کړه. اوس دې آيت کريمه کې الله تعالی علت د دغه حکم بيانوي چې مال غنيمت حکم د الله او د هغه رسول عليه السلام لپاره ځکه دی چې الله تعالی خپل نبي عليه السلام د کور څخه ويستلی و، او د مومنانو آمادګی او خوښې پرته يې قريشو لښکر سره مخامخ کړی و، دعا يې ورله قبوله کړه، حق يې سرلوړی او باطل يې مات کړ، ملائک او باران يې راوليږل نو ځکه حکم او پريکړه به په غنيمت کې يوازې د الله تعالی اود هغه رسول صلی الله عليه وسلم جاري کيږي. او دې ته د قرآن کريم لوړ اخلاق وايي چې کشرانو يوه مسئله کې اختلاف شو نو تش زور نه استعمالوي بلکې په دلائلو ورته قناعت ورکوي، دې لپاره چې د ملګرو قناعت وشي، د روښانه دليل پر اساس يو کار وکړي او له بل څخه منع شي. او صحابه خو ټول د الله والا خلک وو، په دليل سره به د هغوی اختلاف ختميدو، قال الله او قال الرسول صلی الله عليه وسلم به چې وويل شو نو تنازع به ختمه وه.

كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ (5)

ژباړه: لکه څنګه چې راويستلی يې ته، رب ستا د کور ستا څخه د حق لپاره او يقينا يوه ډله د مومنانو څخه خامخا خفه وه.

تفسير:

يو ربط يې مخکې بيان شو چې سابقه د غنيمت حکم لپاره دا آيت کريمه علت دی، دويم ربط يې دا هم کيدايشي چې مخکې د مومنانو صفات بيان شو، د ايمان او د تقوا ذکر وشو نو اوس د مومنانو يو بل صفت ذکر کوي، او د ايمان او د تقوا مَظهر ذکر کوي، چې مومن او متقي انسان هغه دی چې د الله تعالی په لار کې به جهاد کوي لکه څنګه چې صحابه کرامو په بدر کې پرته له آمادګی جهاد ته لبيک وويلو. ځکه د تقوا يو تعريف دا هم دی: [أَنْ لَا يَرَاكَ مَوْلَاكَ حَيْثُ نَهَاكَ وَلَا يَفْقِدكَ حَيْثُ أَمَرَكَ] ژباړه: کوم ځای (او کار) څخه چې رب منع کړې يې، بيا دې ستا مولا تا هلته ونه ويني او چيرته چې تا ته يې امر کړی وي نو بيا هلته دې غير حاضر ونه مومي (هلته بيا ورک نه شې).

نو مومن هغه څوک وي چې د جنګ او د قتال په ډګر کې حاضر وي، ورک نه وي.

د آيت کريمه شان نزول:

د دې آيت کريمه شان نزول اصلا د غزوه بدر سبب دی، واقعه داسې وه د هجرت د دويم کال د جمادی الأولی يا جمادی الاخر په مياشت کې چې د 623م کال له نومبر او ديسمبر سره سمون خوري، رسول الله صلی الله عليه وسلم له (150) يا (200) کسو مهاجرينو سره ووت. هيڅوک يې له ځان سره په زور نه و بوولي، ټول په خپله رضا او خوښه روان شول. له دوی سره يوازې ديرش اوښان و چې په نوبت به ورباندې سپريدل. هدف يې د هغه کاروان نيول و چې له مکې نه شام ته روان و. داسې خبر راغلی و د قريشو په خاص او قيمتي مالونو بار کاروان له مکې نه روان شويدی، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم مخکې لاړ تر څو د ذي العُشيرې سيمې ته ورسيد، هلته خبر شو چې کاروان څو ورځې مخکې تير شويدی، نو کوم جنګ ونشو او مسلمانان بيرته راوګرزيدل. نبي عليه السلام ابو سلمه بن عبد الاسد المخزومي په مدينه کې خپل خليفه پرې ايښی و، او پدغه غزا کې بيرغ حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عنه سره و. کله چې همدغه کاروان له شام نه بيرته راستنيده، پدې کاروان کې د قريشو ډير مالونه وو يعنې زر اوښان چې د پنځوس زره طلايي دينارونو (دوه سوه دوه شپيته نيم کيلو سره زر) په اندازه سامان وربانديې بار و، او يوازې څلويښت ساتونکي ورسره وو.

دا د مدينې د خلکو لپاره طلايي موقع وه، خو د مکې د مشرکينو لپاره لدې دومره ډير مال نه محروميدل ملاماتونکې نظامي، سياسي او اقتصادي ضربه وه. ځکه خو نبي عليه السلام دا موقعه د لاسه نه ورکوله.

نبي عليه السلام د وتلو اعلان وکړو خو په هيچا يې لازمي نکړل، ټول يې خپلې خوښې ته پريښودل، ځکه پدې وخت کې دا ګومان نه کيده چې د قافلې په ځای به د بدر په ميدان کې له مشرکينو سره يوه پريکنده جګړه صورت مومي. له همدې امله ډير صحابه په مدينه کې پاتې شول ځکه هغوی فکر کاوه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا عمليات به له پخوانيو عملياتو سره څه توپير ونلري. او په همدې سبب له جګړې نه پاتې شويو کسانو باندې څه عتاب او ملامتيا هم نه شته. رسول الله صلی الله عليه وسلم د روانيدو لپاره تيار شو، (313 يا 314 يا 319) کسان ورسره وو، له دې جملې نه 82 يا 83 يا 86 مهاجرين، نور انصار چې (61) له اوس او (170) له خزرج قبيلې څخه وو. دې لښکر د جګړې څه انتظام نه و کړی او نه يې پوره تياري نيولې وه، په ټول لښکر کې يوازې دوه آسونه و، چې يو يې د زبير بن عوام او بل يې د مقداد بن اسود کندي و. او د پاتې کسانو د هرو دوو يا دريو په سر يو اوښ رسيده ځکه ټول ايله اويا اوښان ورسره وو. رسول الله صلی الله عليه وسلم، علي او مرثد بن ابي مرثد غنوي رضي الله عنهما درې واړه

په يوه اوښ په نوبت سره سپريدل. رسول الله صلى الله عليه وسلم لومړی د مدينې د ادارې او لمانځه ادا کولو لپاره ابن ام مکتوم خپل خليفه وټاکه، خو کله چې روحاء ته ورسيد، نو ابو لبابه بن عبد المنذر يې په مدينه کې د خليفه په حيث ور وليږه.

د لښکر عمومي بيرغ سپين او علمبردار يې مصعب بن عمير قرشي و. لښکر يې په دوو برخو يا غونډونو وويشه:

1 – د مهاجرينو غونډ چې بيرغ يې له علي (رضي الله عنه) سره و.

2 – د انصارو غونډ او علمبردار يې سعد بن معاذ (رضي الله عنه) و.

د ميمنې (ښي اړخ) قوماندانې يې زبير بن عوام، او د ميسرې قوماندانې يې مقداد بن عمرو او د ساقې مشري يې قيس بن ابي صعصعه ته سپارلې وه، او د لښکر عمومي قومانده رسول الله صلى الله عليه وسلم پخپل لاس کې اخيستې وه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې غير مجهز لښکر سره روان شو، له مدينې نه ووت او مکې ته غزيدلې عمومي لاره يې ونيوه مخکې د روحاء تر کوهي پورې ورسيد. او کله چې له هغه ځاې نه وخوځيد نو د مکې لاره يې خپلې چپې خوا ته پريښوده او ښی خواته وګرزيد، نازيه سيمې ته ورسيد، د بدر په لور د نازيې له يوې برخې تير شو او د صفراء د تنګي او نازيې تر مينځ پرته رَحْقان نومې وادي يې ووهله بيا له تنګي تير، او د صفراء په خوا مخکې لاړ، له هغه ځاى نه يې د جُهينه قبيلې دوه کسه بسيس بن عمرو او عدي بن ابي الزغبا جهيني د کاروان په هکله د معلوماتو راټولولو پخاطر د بدر لور ته واستول.

له بل پلوه د کاروان مشر ابو سفيان په ډير احتياط سره د حالاتو څارنه کوله، ځکه هغه پوهيده چې د مکې لاره له ډيرو خطرونو سره مخامخ ده، هر وخت يې په اوضاع ځان پوهاوو او له نورو کاروانونو نه يې د لارې په هکله معلومات اخيستل. بالاخره پدې خبر شو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم قافلې باندې د حملې لپاره ځان تيار کړيدی، نو فورا يې ضمضم بن عمرو غفاري ته پيسې ورکړې او مکې ته يې واستاوه تر څو قريش د کاروان د نجات او مرستې لپاره راوبولي. ضمضم په ډيره بيړه ځان مکې ته ورساوه، او هلته يې د عربو د عاداتو سره سم د اوښ پزه او خپل کميس څيرې کړ، کجاوه يې چپه کړه او پاس پر اوښ ودريد او په لوړ آواز يې نارې کړې اې قريشو! قافله.... قافله...... محمد صلى الله عليه وسلم او صحابه يې له ابو سفيان سره ستاسې پر مالونو حمله کوي، فکر نه کوم چې په لاس به درشي، کومک... کومک.....

ددې اواز په اوريدو سره د مکې ټول مشرکين په حرکت راغلل، او ويې ويل: آيا محمد صلى الله عليه وسلم او صحابه يې فکر کوي چې دا هم د ابن حضرمي کاروان دی؟ قسم په الله چې ژر به پوه شي چې زمونږ معامله بل ډول ده ټول پدې سلا شول چې يا به هر څوك پخپله ځي او يا به خپل عوض ليږي، خو زياترو جنګ ته تلل غوښتل خصوصا مشرانو او رئيسانو. پدې سره له ابو لهب پرته نور ټول مشران جنګ ته تيار شول ابو لهب د ځان په عوض خپل پوره وړی واستاوه. قريشو شاو خوا عربي قبيلې هم له ځان سره ملګرې کړې او له بني عدي پرته چې يو کس يې هم جنګ ته ونه ووت نورې ټولې قريشي قبيلې جګړې ته روانې شوې.

د روانيدو په وخت کې ددې لښکر شميره يو زر او درى سوه (1300) جنګيالو ته رسيده چې ورسره سل آسونه (600) زغرې او بې شميره اوښان چې دقيقه شميره يې نده معلومه. عمومي قومندان يې ابو جهل و او د قريشو (9) مشرانو د لښکر لوژستيکي امور، تمويل او رسد په غاړه اخيستى و، دوى به هره ورځ (9) او کله (10) اوښان حلالول.

کله چې لښکر د تلو تياري ونيوله، نو قريشو ته يو ځل له بني بکر سره خپله دښمني او لانجه ورپه ياد شوه، او وويريدل چې هسې نه هغوى د شا له خوا ورباندې حمله وکړي چې پدې سره به دوى له دوو خواو نه راګير شي! نژدې و چې دا تشويش يې له مخکې تګ نه پښيمانه کړي، په همدې وخت کې شيطان د بني کنانه د مشر سراقه بن مالك بن جعشم المدلجي په شکل کې ورته راغى او ورته ويې ويل: زه ستاسې ملګرى يم او ضمانت درکوم چې کنانه به د شا له خوا ستاسې په حق کې داسې څه نه کوي چې تاسې يې نه خوښوئ.

لدې اطمينان او ډاډ ګيرنې وروسته د مشرکينو لښکر په ډير کبر او غرور سره له مکې نه روان شو. قرآنکريم د دوى حالت ته اشاره کوي فرمايي:(بَطَراً وَرِئَاءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ) (الانفال: 47).ترجمه :[په ډير کبر، خيال او خلکو ته ځان ښودنې په حالت (روان دي) او د الله له لارې نه منع کوي]

له خپل زور او وسلې سره پداسې حال کې چې له الله تعالى او رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې د دښمنۍ بيرغ اوچت کړی و د مدينې په لور وخوځيدل، لکه هغه باغ والا چې ويل: (وَغَدَوْا عَلَى حَرْدٍ قَادِرِينَ) (القلم: 25) [ترجمه: سهار مهال پداسې حال کې دخپل کښت د ريبلو لپاره ووتل او ځانونه يې توانمند شميرل. (چې فقيرانو ته د نه ورکولو نيت يې درلود)] د ټولو زړونه له کينې، غوسې او غضب نه په جوش راغلي وو تر څو له رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه وو نه ددې انتقام او پور واخلي چې هغوى څنګه او په کوم جرات سره د دوى په کاروان کې سترګې خښې کړيدي؟

لنډه دا چې په ډيره بيړه د شمال په لور د بدر خوا ته لاړل، د عُسفان له وادي، قديد او جَحَفه نه تير شول او هلته يې د ابو سفيان له طرفه داسې خبر تر لاسه کړ چې ورته وايي: تاسې د خپلو مالونو، کاروان، او افرادو د ساتلو پخاطر راوتلي ياست، الله تعالى هغه ټول وساتل، نجات يې ورکړ، نو بيرته ستانه شئ.

هلته ابو سفيان په ډير احتياط او تدبير سره په عمومي لار روان و، د څارنې او کشف عمليات يې څو چنده کړي وو، خو کله چې بدر ته را لنډ شول خپله د قافلې تر مخ شو وراندې لاړ او مجدي بن عمرو يې وليد د مدينې د لښکر په هکله يې معلومات ورنه وغوښتل. هغه ورته وويل: ما خو څه نا آشنا څوك ندي ليدلي، يوازې دوه سواره وو دلته راغلل له هغه غونډۍ سره يې اوښان چو کړل، ژې يې له اوبو ډك کړل او بيرته لاړل. ابو سفيان فورا دې ځاى ته ورغى او د اوښانو پچې يې راواخيستې، ماتې يې کړې که ګورې چې د خرما زړې دي پکې، نو ويې ويل: قسم په الله چې دا د مدينې واښه دي. بيا په بيړه خپل کاروان ته ورغى عمومي لاره يې چې په بدر ورغلې وه چپې خوا ته پريښوده، او په لويديځ کې د ساحل په لور روان شو، او پدې سره يې قافله د مدينې له لښکر نه خلاصه کړه او د مکې مشرانو ته يې هغه پيغام ورواستوه چې هغوى ته په جَحَفه کې ورسيد.

د ابو سفيان د پيغام له رسيدو نه وروسته د مکې لښکر د بيرته ستنيدو تکل وکړ، خو ابو جهل په ډير کبر او غرور سره وويل: نه والله که تر هغه ستانه شو تر څو بدر ته نه وو تللي او هلته مو درې شپې نه وي تيرې کړي. هلته به څو اوښان حلالوو، خلکو ته به ډوډۍ ورکوو، د شرابو څښلو ګرم محفلونه به د ډمانو په آوازونو او سندرو لا پسې ګرموو، تر څو عربان زمونږ د راتګ دبدبې او غونډيدو خبر واورې، او د تل لپاره زمونږ رعبورباندې کيني.

خو اخنس بن شريق د ابو جهل لدې خبرې سره سره د بيرته ستنيدو خبره وکړه، مګر چا وا نه وريده. بالاخره يوازې هغه د بني زهره له تقريبا درى سوه کسانو سره بيرته ستون شو. د بدر په غزا کې د بنو زهره قبيلې يوه فرد هم ګډون ونکړ، د اخنس پدې نظريه او عمل د بنو زهره خلك له حده زيات خوشاله وو، او هميشه يې ده ته خاص احترام او اطاعت درلود.

د بنو هاشم خلکو هم د بيرته ستنيدو اراده وکړه، خو ابو جهل په ډيره سخته او تونده لهجه ورته وويل:تاسې به له مونږ څخه نه جدا کيږئ، او تر هغه به راسره وئ تر څو مونږ ټول نه وو ستانه شوي.

د بنو زهره له جدا کيدو وروسته د مکې لښکر پاتې تقريبا زر کسان د بدر په لور روان شول مخکې لاړل، او د هغه غونډۍ شا ته يې واړول چې د بدر په وادي کې دننه له جنوبي خولې سره پرته ده.

رسول الله صلى الله عليه وسلم لا د لارې په اوږدو کې د ذَفِرَان له سيمې سره و چې استخباراتو ورته د کاروان او مکې د لښکر خبرونه راوړل. نبي عليه السلام ته پدې خبرونو کې له غور او څيړنې وروسته دا ثابته شوه چې بې له جګړې بله چاره نشته او اوس داسې يوه جراتمندانه، غيرتي او مدبرانه اقدام ته ضرورت دی چې د شرك د لښکر دا غرور ورمات کړي. واقعيت دا دی که چيرې قريش همداسې پريښودل شوي واى چې پدې سيمه کې د غرور او فساد نيلې وزغلوي، نو پدې سره به په عسکري ډګر کې د هغوى لاس نور هم مضبوط او په سياسي ميدان کې

به يې نفوذ او اثر زيات شوی وای.

او ددې په مقابل کې به د مسلمانانو شان او عظمت زيانمن کيده، بلکه اسلامي حرکت به د يوه بې روحه کالبد حيثيت غوره کاوه او د اسلام دښمنانو ته به نوره دا آسانه وه چې پر مسلمانانو باندې د حملې او تيري جرات وکړي.

بله مهمه خبره دا چې مسلمانانو ته ددې ضمانت چا ورکاوه چې د مکې لښکر به د مدينې په لور وړاندې نه ځي، او هملته به پر دوی حمله او تيری نه کوي؟! هيچا هم دا ضمانت نه شوی ورکولی، که پدې حساس وخت کې مسلمانانو ابتکار له لاسه ورکړی وی، نو د خلکو په مينځ کې به د دوی هيبت او عظمت ډير زيانمن شوی وای.

پدې خطرناک، او ناڅاپه رامخ ته شوي وخت کې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مشورتي شورى غونډه دايره کړه. ده پخپله په حالاتو رڼا واچوله، او له اصحابو سره يې پدې هکله نظريات تبادله کړل. ځنې خلک داسې هم وو چې په حالاتو له خبريدو وروسته ويرې واخيستل، زړونه يې په رپيدو راغلل.

خو د لښکر د قومندانانو موقف بل ډول و، ابوبکر، عمر، مقداد بن عمرو، سعد بن معاذ ډيرې ښې خبرې وکړې.

حَافِظ أَبُو بَكْر بْن مَرْدُويه خپل تفسير کې وايي: ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وايي: مونږ مدينه کې و، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ما ته د ابو سفيان قافلې په اړه خبر راغلی دی چې هغه راتلونکې ده آيا تاسې اراده لرئ چې دغه قافلې ته ورووځو، اميد دی چې الله به يې مونږ ته په غنيمت کې راکړي. مونږ ورته وويل: هو. نو هغه او مونږ ووتلو، کله چې مونږ يوه يا دوه ورځ مزل وکړو، هغه [صلى الله عليه وسلم] راته وويل: تاسې د قريشو جنگ په اړه څه نظر لرئ ځکه هغوی ته ستاسې د راوتلو خبر ورکړل شوی دی. مونږ ورته کړه چې قسم په الله مونږ د دښمن سره د جگړې توان نه لرو [آمادگي نه لرو]، مونږ خو د قافلې نيت کړی و. بيا يې وفرمايل: د قريشو جنگ په اړه مو څه خيال دی ؟ مونږ بيا هماغه شان جواب ورکړو. نو مقداد بن عمرو وويل: اې د الله رسوله ! مونږ تاته داسې جواب نه درکوو لکه څنگه چې د موسى عليه السلام قوم هغه ته جواب ورکړی و. {فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ} [الْمَائِدَة: 24] ژباړه: ته او ستا رب لاړ شئ جنگ وکړئ مونږ دلته ناست يو. وايي مونږ انصارو دا ارمان وکړو کاش که د مقداد په شان خبره مونږ کړې وی، دا به مونږ ته د لوی مال څخه زياته خوښه وی. نو الله تعالى دا آيت په نبي عليه السلام نازل کړو.{کَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ}. [المعجم الكبير للطبراني، هيثمي ورته حسن ويلي دي، (المجمع ٦/ ٧٣)خو سند کې يې ابن لهيعه دی، او طبري په حسن سند سره ذکر کړی دی، ځکه هلته عبد الله بن وهب روايت راوړی]

حافظ ابن مردويه بل روايت داسې راوړی: علقمة بن وقاص الليثي وايي نبي عليه السلام بدر ته تللو، کله چې روحاء سيمې ته ورسيد، خلکو ته يې خطبه وکړه او ويې فرمايل: ستاسې څه فکر دی ؟ ابو بکر رضي الله عنه ورته وويل: مونږ ته خبر راغلی چې هغوی فلاني ځای کې دي. وايي: بيا نبي عليه السلام خلکو ته خطبه وويله، او ويې وويل: ستاسې څه نظر دی ؟ نو عمر ورته د ابو بکر په څير جواب ورکړو. بيا يې خطبه وويله او تپوس يې وکړ: ستاسې څه نظر دی ؟ نو سعد بن معاذ وويل: يا رسول الله إيانا تريد؟ فو الذي أكرمك بالحق وأنزل عليك الكتاب، ما سلكتها قط ولا لي بها علم، ولئن سرت بنا حتى تأتي "برك الغماد" من ذي يمن لنسيرن معك، ولا نكون كالذين قالوا لموسى {فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ} ولكن اذهب أنت وربك فقاتلا إنا معكما متبعون، ولعلك أن تكون خرجت لأمر، وأحدث الله إليك غيره، فانظر الذي أحدث الله إليك، فامض له، فصل حبال من شئت، واقطع حبال من شئت، وعاد من شئت، وسالم من شئت، وخذ من أموالنا ما شئت. ژباړه: اې د الله رسوله لکه چې مونږ يادوې ؟ قسم مې دې په هغه ذات وي چې ته يې په حق سره عزتمند کړی يې او پر تا يې کتاب نازل کړی دی، زه خو کله برک الغماد ته نه تلی يم او نه يې راته لاړ معلومه ده، خو کچيرې ته مونږ د يمن برک الغماد ته هم بوزې مونږ به درسره خامخا ځو، مونږ د هغه خلکو په شان نه کيږو چې موسى عليه السلام ته يې ويل: ته او ستا رب لاړ شئ جنگ وکړئ مونږ دلته ناست يو. بلکې ته او ستا رب لاړ شئ جنگ وکړئ مونږ تاسې پسې يو، کيدايشي چې ته يو کار پسې راوتلی وې خو الله درته بل کار راپيښ کړ نو هغه کار چې درته الله تعالى راپيښ کړو هغه وګوره او هغه پسې لاړ شه، چا سره چې دې خوښه وې اړيکې ټينګه کړې، او چا سره چې دې خوښه وې اړيکې وشلوه، او چا سره چې دې خوښه وې دښمني وکړه او چا سره د خوښې مطابق روغه وکړه. او زمونږ د مالونو څخه چې څه غواړې واخله. نو الله تعالى دا آيتونه نازل کړل: [{کَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ}] [ددې روايت سند هم د سابق روايت له امله محققينو حسن گرزولی دی]

الله دې خير ورکړي سعد بن معاذ ته، دا هغه غيرتي انسان و، چې د سختې پرمهال يې د مسلمانانو امير ته ډاډ ورکړو، په ټولو انصارو کې ده ته الله تعالى دا توفيق ورکړو، او مشر سړی و، کشرانو يې اقتداء کوله، نو ټول انصار کلک ودريدل. داسې انصار نن سبا هم پکار دي، چې د اسلامي خلافت ترڅنگ ودريږي، دا سعد بن معاذ هغه انسان و چې دده په مرگ د الله رب العالمين عرش وخوځيد، علماء د ده د فضيلت يو علت دا بيانوي چې ده د نبي عليه السلام زړه ډير ساتلی دی، هيڅ وخت يې هغه خفگان ته ندی ورکړی، او نه يې دې گمان ته پريښی چې انصار دې د نبي عليه السلام او مهاجرينو څخه ځان جدا احساس کړي، خو بيا دا فضيلت د بل چا لپآره ثابت ندی، لکه طالبانو د ملا محمد عمر پسې نظمونه جوړ کړي، او ټول کائنات يې ورپسې ژړولي دي او وايي د الله تعالى عرش ستا په مرگ وخوځيدو نو دا د دوی خرافات دي، دوی ته د آسمانونو خبرونه چا راوړل ؟ څنگه معلومات ورته وشو ؟ وحي خو بنده ده، البته که کهانت او علم نجوم اټکلې کوي خو بيا بيله خبره ده. بس طالبان دې کوښش کوي خپل مشران ملا محمد عمر او دا نور د پيغمبرۍ درجې ته ورسوي، بيا چې څوک د امارت په کړنو اعتراض کوي نو دوی وايي دا خو ملا صيب ويلي و، دا خو ملا صيب داسې کړي وي، نو ملا صيب خو انسان و، چې هغه کوم کار د شريعت خلاف کړی وي هغه هم خطا شوی، دا خبره به په بعضې خلکو سخته تماميږي خو د يو اشد ضرورت او د امانت او مسؤوليت ادا کولو په نيت دا خبره کوو لکه د قطر سياسي دفتر پخوانی رئيس طيب آغا د اختر منصور سره وران شو، نو هغه دا وويل چې ما د قطر سياسي دفتر د ملا عمر په اجازه پرانيستی دی، نو لاندې کشرانو يې ويل چې مونږ خو اختر منصور نه پدې لړ خفه و چې د قطر سياسي دفتر ده پرانيستی دی خو چې لوی ملا صيب دا کار کړی وي بس خبره ختمه شوه، بيخي مطمين شو، نعوذ بالله، تاسې وګورئ طالبانو ملا محمد عمر څخه شارع جوړ کړو، د حلت او حُرمت واک يې هغه لپآره ثابت کړو، د بين المللي قوانينو منلو په ترڅ کې د قطر دفتر به ملا عمر نه وي پرانيستلی، ځکه هغه د سقوط په وختونو کې چيرې نادرکه شو، يا پاکستان چيرې خفيه زندانونو ته واچوه، خو کچيرې دا کار ملا عمر کړی وي او که اختر منصور کړی وي نو دا خو شکاره شرک دی، د ملا عمر يا اختر منصور يا هبت الله په قول خو شرک نه روا کيږي، نو دا وضاحت ځکه اړين دی چې راتلونکي نسلونو ته مونږ غلط منهج پرينږدو، چې د طالبانو په شان هغوی هم ملا محمد عمر يا نور داسې اشخاص خپل ايډيال وگرځوي، چې هغوی په نوم ډير ناوړه کارونه ترسره کيږي، شرکونه به کيږي او خلک به وايي دا فلاني صيب ويلي، اشخاص به د دين معيار وگرځوي، سره ددې چې دغه اشخاص به ددې خبرو څخه خبر هم نه وي، لکه امام ابو حنيفه، شافعي او مالک دي، د دوی مقلدينو څومره خرافات جوړ کړي دي او دغه امامانو ته يې منسوب کړي دي، خو د يوې خبرې متصل او صحيح سند نشي وړاندی کولی، نو د دې کشرانو دغه خبرې خو د منلو وړ نه دي، د امام ابو حنيفه او امام مالک مرگ نه به دوه سوه کاله يا درې سوه کاله پس يو کس پيدا شوی وي، او ځان نه به يې يو داستان جوړ کړی وي او نسبت به يې امام صيب ته کوي، سند او ثبوت نه لري نو دا خو ورسره نه منل کيږي.

الغرض دا د دې آيتونو شان نزول و، چې د بدر غزا لپآره نبي عليه السلام مشوره اخستله، بعضې صحابه وو

جنګ بد ګڼو چې جنګ نشو کولای خو کله چې قومندانانو رای او نظر ورکړو نو ټول مسلمانان جنګ ته چمتو شول.

[كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ]:

دلته دا پوښتنه پیدا کیږي چې دا کومه خبره ده چې الله تعالی یې دلته تشبیه ورکړې ده، چې دا خبره هم داسې ده لکه څنګه چې ته یې د کور څخه راوویستلی او یوې ډلې دا راوتل بند ګڼل. نو دې باره کې مفسرینو ډېر توجیهات بیان کړي دي، بعضو تر شلو پورې رسولي دي. البحر المحیط، تفسیر بغوي، تفسیر قاسمي، کشاف او نورو تفاسیرو توجیهات ذکر کړي چې معامله یې بیخي پیچیده کړې ده، مونږ به ترې یو څو واضحه توجیهات راواخلو.

اوله توجیه: ثقه امام ابو حیان الأندلسي په البحر المحیط کې وايي، خلاصه یې دا ده: دا (کاف) د تعلیل لپاره دی، او دا علت د اولې دعوې دی، حاصل به یې دا شي چې [الأنفال لله والرسول] مال غنیمت د تقسیم واک د الله او د رسول علیه السلام لپاره دی څکه چې تاسې خو مشرکانو سره جنګ ته زړه نه ښه کاوه بلکې الله تعالی راوستلئ او غنیمتونه یې درته درکړل نو اوس ولې اختلاف کوئ؟

دویمه توجیه: بغوي د مبرد څخه نقل کړې ده:

[الأنفال لله والرسول وَإِنْ كَرِهُوا كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنْ كَرِهُوا] ژباړه: مال غنیمت به د الله او د رسول په حکم تقسیمیږي اګر که بعضې خلک یې بدګڼې لکه څنګه چې ته خپل رب د کور څخه ویستلی په حق سره اګر که بعضې مومنانو هغه وتل بد ګڼل. [تفسیر البغوي]

دریمه توجیه: دا متعلق دی [لَهُمْ دَرَجَاتٌ] پورې، یعنې مومنانو سره ددې درجو لوظ په آخرت کې حق دی، لکه څنګه چې ته الله تعالی د کور څخه راوویستلی او غلبه یې درکړه نو آخرت کې به تاسې ته دغه شان درجې درکوي. دا توجیه نَحَّاس ذکر کړې او دا یې غوره ګڼلې ده. [فتح القدیر]

[مِنْ بَيْتِكَ]: د کور څخه مراد د مدینې کور دی، او یا مدینه ترې مراد ده. څکه دا د نبي علیه السلام د هجرت ځای و، نو دا هغه لپاره د کور په منزله وګرځیدو.

[بِالْحَقِّ]: إِخْرَاجًا مُتَلَبِّسًا بِالْحِكْمَةِ وَالصَّوَابِ. ژباړه: حکمت او په سمه توګه سره ویستل مراد دي.

[وَإِنَّ فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ]:

د مومنانو یوې ډلې دا وتل نه خوښول. دلته تفسیر النسفي لیکلي: قال الشیخ أبو منصور رحمه الله یحتمل أنهم منافقون کرهوا ذلك اعتقاداً ویحتمل أن یکونوا مخلصین وأن یکون ذلك کراه طبع لأنهم غیر متأهبین له. ژباړه: شیخ ابو منصور وايي احتمال لري چې دا کسان منافقان وي او دا وتل یې اعتقاداً بد ګڼلي وي او دا احتمال هم لري چې مخلصین وي او دا طبعي کراهت وي څکه هغوی دې [جنګ] ته تیاری کړی نه وو.

خو دا اول احتمال دلته سم نه دی، څکه سیاق د قرآن څخه معلومیږي چې دا مومنان وو، او دې غزوې ته د منافقانو تګ ثبوت مونږ ته چیرې ندی معلوم. او دلته کراهت طبعي مراد دی څکه دوی آمادګي نه وه نیولې نو د انسان په طبیعت باندې دا بد لګي چې پرته له اسبابو داسې قوي لښکر سره څنګه جنګ وکړي؟

[دا آیت کریمه هم ماقبل آیت پورې مربوط دی، د مومنانو یوې ډلې کراهت مزید وضاحت دی]

يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَمَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنْظُرُونَ (6)

ژباړه: بحث یې کوو دوی تا سره د جنګ په اړه، وروسته د هغې نه چې ښکاره شو [فرض کیدل د هغې] ګویا که بوتللی کیدل دوی مرګ ته او دوی ورته کتل.

تفسیر:

[يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ]:

د مجادلې څخه مراد بحث مباحثه ده، دوی ویل که تا مونږ ته مخکې خبر راکړی وی نو مونږ به ښه تیاری کړی وی. [فتح القدیر]

امام مجاهد وايي: يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ: فِي الْقِتَالِ. حق څخه مراد قتال دی چې دوی تا سره د قتال په اړه بحث کوي. [تفسیر الطبري 6 / 181]. مُحَمَّد بن إِسحاق وايي: يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ أَيْ كَرَاهِيَةً لِلِقَاءِ الْمُشْرِكِينَ. [تفسیر الطبري 6 / 182].

ژباړه: معنا دا چې مشرکانو سره مخامخ کیدل بد ګڼلو له امله دوی بحث کاوه. سُدِّي وايي: يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ أَيْ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّكَ لَا تَفْعَلُ إِلَّا مَا أَمَرَكَ اللَّهُ بِهِ.

ژباړه: کله چې دوی ته معلومه شوه چې ته د الله امر خامخا پرځای کوې نو دوی بحث کاوه. [تفسیر الطبري 6/ 182].

د ابن زید څخه امام طبري صحیح سند سره نقل کړي دي هغه وايي چې دا آیت کریمه د کفارو په اړه دی، دا مشرکان و چې د حق په ضد یې جدال او جنګ کاوه، او اسلام ته بلنه ورته مرګ ښکاري، او دا د کفارو صفت دی، د مسلمانانو نه دی.

خو بیرته پرې طبري رد کړی دی، چې پدې کې سم قول د عبد الله بن عباس او محمد بن اسحاق دی، چې الله تعالی لخوا د مومنانو د یوې ډلې خبر دی چې هغوی د دښمن ملاقات بد ګاڼه، او بحث یې کاوه چې اې د الله نبي علیه السلام تا مونږ خبر نه کړو چې دښمن مقابلې ته وځو چې مونږ ځانونه تیار کړی وی، اوس خو مونږ قافلې پسې راوتلي و. او مفسر طبري وايي د دې پسې وروسته آیت هم پدې دلیل دی چې دا مومنان یادوي، څکه هلته الله تعالی فرمایلي چې تاسې دا خوښول چې بې وسلې ډله درته الله تعالی درکړي، او وايي مخکې هم خبره د مومنانو روانه ده نو ډېره مناسبه ده چې دا دویم آیت هم د مومنانو اړوند شي، نه دا چې د مشرکانو مربوط شي چې د هغوی دلته تذکره نشته. [تفسیر الطبري ج ۱۱/ ص ۳۴]

[بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ]:

وروسته ددې څخه چې مومنان پوهه شول چې نبي علیه السلام د الله تعالی حکم خامخا مني او جنګ ته مخکې کیږي. څکه دغه وخت جهاد فرض عین کیږي، کله چې دښمن میدان ته راشي نو بیا به مسلمانان هم مقابلې ته ورزي.

[كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنْظُرُونَ]:

دلته عبارت مقدر دی: [یخافون] دوی واریږي چې مرګ ته بوتللي شي. او دا وار هم طبعي وار و، څکه دومره پیاوړي او مجهز لښکر سره جنګ کول مرګ په خوله کې ځان ورکولو مترادف دي. کنه همدا صحابه مخکې د جنګ په نیت هم وتلي وو، دوی کومه پاتې نه وه کړې خو دلته یې هدف دا و کچیرې مونږ خبر وای نو اسباب به مو برابر کړي وای.

[دې آیت کریمه کې [الأنفال لله والرسول] دویم علت ذکر کیږي، چې الله تعالی مخکې نه نبي علیه السلام ته په دوه ډلو کې د یوې د غلبې ژمنه ورکړې و، نو څکه حکم په مال غنیمت کې به هم یوازې د الله رب العالمین او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم وي]

وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ وَيُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ (7)

ژباړه: او کله چې لوظ وکړو تاسې سره الله تعالی د یو د دواړو ډلو څخه چې دا به ستاسې لپاره وي، او تاسې خوښول چې بې وسلې ډله دې ستاسې لپاره شي او غوښتل الله تعالی چې ښکاره کړي حق په لوظونو خپلو سره او پرې کړي جرړې د کافرانو.

تفسیر:

[وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ]:

دا ظرف دی، د فعل مقدر له امله منصوب دی، عبارت به داسې شي [وَاذْكُرُوا وَقْتَ وَعْدَ اللَّهُ إِيَّاكُمْ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ] تاسې هغه وخت یاد کړئ چې الله تعالی درسره د دوه ډلو څخه د یوې [درکولو] لوظ کړی و. دلته الله تعالی د هغه وخت یادولو امر کړی دی سره ددې چې مقصود هغه پیښې دي چې په دغه وخت کې ترسره شوي دي، هدف لیکې مبالغه ده. [فتح القدیر]

[إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ] وَالطَّائِفَتَانِ: هُمَا الْعِيرُ وَالنَّفِيرُ. دا دوه ډلې قافله او د مشرکانو لښکر وي.

إحدی الطائفتین دا په ترکیب کې د يَعِدُ لپاره دویم مفعول دی، او [أَنَّهَا لَكُمْ] ددې څخه بدل دی، بدل اشتمال. معنا یې ده: أَنَّهَا مُسَخَّرَةٌ لَكُمْ، وَأَنَّكُمْ تَغْلِبُونَهَا، وَتَغْنَمُونَ مِنْهَا، وَتَصْنَعُونَ بِهَا مَا شِئْتُمْ مِنْ قَتْلٍ وَأَسْرٍ وَغَنِيمَةٍ، لَا يُطِيقُونَ لَكُمْ دَفْعًا، وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنْفُسِهِمْ مِنْكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا. دا به ستاسې لپاره تابع کړې شوې وي، او تاسې به پدې غالبه کیږئ، غنیمت به ترې اخلئ، او تاسې چې د قتل، اسارت او غنیمت څه هم غواړئ هغه شان به ورسره کوئ، هغوی به ستاسې د دفاع توان نه لري، او ستاسې مقابل کې به د ځان لپاره ضرر او نفع واک هم نه لري. [فتح القدیر]

او پدې جمله کې د الله تعالی د نعمت یادونه ده، چې هغه رایاد کړئ او اختلاف مه کوئ.

[وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ]:

کله چې نبي علیه السلام ته د مشرکانو د لښکر راتللو راپور راورسید نو الله تعالی ورته وحي وکړه چې دوه ډلو کې درته یوه درکوم، یا

قافله او يا لښکر باندې فتحه، خو د مسلمانانو رغبت د قافلې په لور و ځکه دې کې جګړه نه وه.

دا [وَتَـوَدُّونَ] په [يَعِدُكُـمُ] باندې معطوف دی، او دا هم د غزوه بدر هغه پيښو ته اشاره ده چې الله تعالى يې د يادونې امر کړی دی. ځکه [غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ] هم په دغه دوه ډلو کې داخل ده.

[ذاتِ الشَّـوْكَةِ] څخه مراد قريشو لښکر و او د [غَيْرَ] څخه مراد د ابو سفيان قافله وه.

[وَالشَّوْكَةُ: النَّبْتُ الَّذِي لَهُ حَدٌّ] شوکه هغه بوټي ته وايي چې تيره والى لري، يعنې ازغي ته وايي، نو دا الشوکة استعاره ده د ازغي او تيره والي څخه چې اوس هرې اسلحې لپاره استعماليږي.

أَبُو عُبَيْدَةَ وايي: أَيْ غَيْرَ ذَاتِ الْحَدِّ.

ژباړه: هغه ډله چې اسلحه نه لري. يعنې تاسې په هغه ډلې باندې بريا غوښته چې اسلحه ورسره نه وه، او هغه د ابو سفيان قافله وه چې د قتال او جنګ څخه پرته لاس ته راتلله، ځکه ځلوېښت کسان ورسره و، او نبي عليه السلام سره ٣١٣ يا کم وزيات صحابه وو.

[وَيُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ]:

دا هم په [تَوَدُّونَ] باندې عطف دی، او دغه وخت يادونې امر د لاندې دی، عبارت به داسې شي: [وَيُرِيدُ اللَّهُ غَيْرَ مَا تُرِيدُونَ، وَهُوَ أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ بِإِظْهَارِهِ لِمَا قَضَاهُ من ظفركم بذات الشوكة وقتلكم لِصَنَادِيدِهِمْ، وَأَسْرِ كَثِيرٍ مِنْهُمْ، وَاغْتِنَامِ مَا غَنِمْتُمْ مِنْ أَمْوَالِهِمُ الَّتِي أَجْلَبُوا بِهَا عَلَيْكُمْ وَرَامُوا دَفْعَكُمْ بِهَا]. ژباړه: الله تعالى هغه څه غواړي چې تاسې يې نه غواړئ، چې هغه د اسلحې لرونکي ډلې باندې ستاسې د غلبې پريکړې سره د حق ښکاره کول دي. او ستاسې لخوا د هغوی د مشرانو وژل دي، او د هغوی څخه د ډيرو کسانو اسيرانول او غنيمت کول د هغه مالونو چې تاسې ترې غنيمت کړي دي، هغه مالونه چې ستاسې پرضد يې جمع کړي وو او په هغې سره يې ستاسې د ختمولو اراده کړې وه.

[بِكَلِمَاتِهِ: الْآيَاتُ الَّتِي أَنْزَلَهَا فِي مُحَارَبَةِ ذَاتِ الشَّوْكَةِ، وَوَعْدُكُمْ مِنْهُ بِالظَّفَرِ بِهَا. ژباړه: هغه آيتونه چې الله تعالى د اسلحې لرونکي ډلې سره د جنګ په اړه نازل کړي دي، او د هغه له طرفه تاسې سره په ډلې باندې د غلبې وعده مراد ده.

[وَيَقْطَعَ دابِرَ الْكافِرِينَ]:

دابر آخر او جرړې ته وايي، د دې نه مراد اِسْتِئْصَال دی، چې الله تعالى د کفارو بيخ کندي وکړي.

نو دا جمله علت دی چې الله تعالى د مشرکانو لښکر انتخاب ولې وکړو ، نو جواب کې دوه مقاصد بيان شو: اول: د حق اظهار او غلبه. دويم: د کفارو بيخ کندي کول.

اوس د انسانانو طبيعت دا و چې د ابو سفيان قافله چې لاس ته کړو نو مالونه به ترلاسه کړو خو الله تعالى د مشرکانو لښکر انتخاب کړو چې هم يې مال مسلمانانو ته ورکړو، او هم يې داسې فتحه ورنصيب کړه چې د مشرکانو ملا يې ورماته کړه، مشران يې ووژل شو، څه يې اسيران شول او پاتې لښکر يې په تيښته بريالى شو، په ټولو عربو کې وشرميدل، په مخالفينو باندې رعب راغى، د کفر امامان لکه ابو جهل، عتبه، شيبه وغيره پکې د منځه لاړل. ولله الحمد على ذلك.

د الله او د بنده اراده خو زيات توپير لري، د انسان نظر يوازې په حال باندې لګي او مستقبل ته يې دومره فکر نه وي، خو الله تعالى خو د کارونو عاقبت او انجام باندې پوهه دی، نو ځکه مسلمانانو ته داسې ترتيبونه راجوړوي چې عاقبت يې خه وي. ځکه خو فرمايي:

[كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ] { [الْبَقَرَة: 216] }

ژباړه: تاسې باندې جنګ کول فرض شويدي او هغه په تاسې سخت لګي، کيداى شي چې يو شی تاسې بدګڼئ او هماغه ستاسې له پاره بهتر غوره وي او کيداى شي چې تاسې يو شی خوښوئ او هماغه ستاسې له پاره بد وي الله پوهيږي تاسې نه پوهيږئ.

[راتلونکي آيت مبارکه کې هم د الله تعالى د ارادې علت او وضاحت ذکر دی، چې ولې يې د قريشو لښکر منتخب کړو ؟ او يا هم دې سره ربط لري چې کله د کفري نظام امامان ووژل شي نتيجه يې د حق غلبه وي]

لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ (8)

ژباړه: دې لپاره چې غالب کړي حق او ختم کړي باطل اګر که بد ګڼي مجرمان خلک.

تفسير:

[لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ]:

دا جمله علت د [ويريد الله] دی، [يُرِيدُ ذَلِكَ لِيُظْهِرَ الْحَقَّ وَيَرْفَعَهُ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَيَضَعَهُ] ژباړه: ددې اراده الله تعالى لري چې حق ښکاره او اوچت کړي، او باطل ختم او ټيټ کړي. يا دا لام متعلق دی محذوف پورې: [فَعَلَ ذلك ليحق الحق]، دا کار يې ځکه وکړو چې حق ښکاره کړي. يا دا قول هم شته چې دا متعلق دی [ويقطع] پورې.

[لِيُحِقَّ الْحَقَّ] بيا دلته تکرار نشته، ځکه مصداقات جدا جدا دي، مخکې آيت کې د انسانانو او د الله تعالى د ارادو ترمنځ توپير مراد و، او دلته د هغه توپير حکمت مراد دی. يا مخکې د حق اظهار و او اوس د حق پخول مراد دي. درېم دا چې مخکې د بدر غزا مراد وه، او اوس ټول دين مراد دی.

دې ځاى کې د انسان ايمان مضبوطيږي چې انسانانو د ځان لپاره څه خوښول او د الله تعالى اراده څومره خايسته وه!! داسې د ژوند په ټولو اړخونو کې په تقدير کامل ايمان د بريا راز دی.

کچيرې بدر په ورځ صحابه وو قافلة وهلې وی نو دا به د غنيمت حاصلولو يوه کوچنی پيښه وی خو د رب انتخاب دومره اعلى و چې دا يې تر ازله د عقيدې د ځلولو پيښه وګرځوله، د بشر په تاريخ کې دا د حق او باطل ترمنځ پرانيستی کتاب دی چې خلک يې تر قيامته لولي، د الله تعالى د نښو څخه يوه نښه ده، د هغه د سنتو څخه يو سنت دی، ترڅو چې آسمان او ځمکه ولاړ وي دا نښه به د لمر په څير پرقيږي، نو له دې ځايه د نن عصر مومنان او مبارزين هم دا الهام اخلي چې خپل عَدد او عُدد ته به نه ګوري، بلکې سپيڅلي منهج په پار به پياوړي ګامونه اخلي، يوه ورځ به د بريا منزل ته ورسيږي ان شاء الله.

ډيره لايقه ده چې د بدريانو په نهج روان موحدين د معاصر جاهليت پر وړاندې د غزوه بدر ټولو ابعادو ته سوچ وکړي، او د خپل مستقبل لپاره يو مناسب ليدلوری وټاکي، د بدريانو صفات د ځان لپاره جامه کړي او بيا د جنګ ميدان ته ورکوز شي، نو نتيجه به يې هماغه وي ان شاء الله.

[وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ]:

ددې مفعول حذف دی، عبارت داسې دی: [وَلَوْ كَرِهُوا أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ] اګر که د حق ښکاره والى او د باطل ختميدل دا مجرمان بد ګڼي.

ځکه داسې خلک خو شته چې د حق غلبې له امله خفه کيږي، الله تعالى فرمايي د دغه خلکو دې زړونه وچوي.

[الْمُجْرِمُونَ]: د قريشو مشرکان يا هم د کفارو ټولې ډلې مراد دي. بيا حکم يې عام دی، د هرې زمانې کافر، مرتد او مرجف او مخذل ته شامل دی.

[د دې ځاى نه وروسته د غزوه بدر نقشه او احوال بيانوي، چې د بدر ميدان کې د نبي عليه السلام حال څنګه و، په کوم تدبير سره الله تعالى د بدريانو کومک وکړو، څنګه يې کامله بريا وربه برخه کړه، د هغه معرکې انځور وړاندې کوي چې د فارس او روم د فتحې پيل نامه وه.

اوس په دې دوه آيتونو کې د [الأنفال لله والرسول] لپاره درېم علت دی، هغه داسې چې تاسې ته چې الله تعالى غنيمتونه درکړل نو پدې کې يو لوی سبب د محمد رسول الله عليه السلام د عاجزۍ ډکه دعا او د الله تعالى لخوا د هغې قبلول او د ملائکو راليږل و، چې دا فتحه او غنيمتونه الله تعالى درکړي دي نو تاسې پکې ولې اختلاف کوئ؟]

إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ (9)

ژباړه: کله چې فرياد کوو تاسې خپل رب ته نو قبوله يې کړه دعا ستاسې چې زه کومک کوم ستاسې سره په زرو ملائکو چې يو بل پسې به راتلونکي وي.

تفسير:

[إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ]:

دا معرکه ټوله د الله تعالى په مشيئت او قدرت، تدبير او تقدير باندې روانه وه. مهم راز پکې د مجاهدينو خپل رب ته زاري او تضرع کول و.

حافظ ابن کثير وايي: عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ او عَوْفِي د عبد الله بن عَبَّاس څخه نقل کړي دي: أَنَّ هَذِهِ الْآيَةَ الْكَرِيمَةَ قَوْلَهُ: {إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ} أَنَّهَا فِي دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. چې دا آيت کريمه د نبي عليه السلام دعا په اړه نازل شوی دی. او همدا قول د يَزِيدُ بْنُ يُثَيْعٍ، سُدِّي، او ابْنُ جُرَيْجٍ څخه نقل دی. [تفسير ابن کثير]

شان نزول ددې آيت په حديث د مسلم کې داسې راغلى دی: عبد الله بن عباس وايي ماته عمر بن خطاب رضي الله عنه حديث بيان

کړې چې کله د بدر ورز وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم مشرکانو ته وکتل، هغوی زر کسان وو، او د هغه ملګري ۳۱۹ کسان وو، نو نبي علیه السلام قبلې ته مخ کړو، بیا یې لاسونه اوږده کړل، او بیا یې په لوړ غږ رب ته فریاد شروع کړ: «اللهُمَّ أَنْجِزْ لِي مَا وَعَدْتَنِي، اللهُمَّ آتِ مَا وَعَدْتَنِي، اللهُمَّ إِنْ تُهْلِكْ هَذِهِ الْعِصَابَةَ مِنْ أَهْلِ الْإِسْلَامِ لَا تُعْبَدْ فِي الْأَرْضِ» اې الله! له ماسره خپله وعده پوره کړه، یا الله! ماته هغه څه راکړې چې تا یې راسره وعده کړې ده. اې پروردګاره! که ته د مسلمانانو دا ډله هلاکه کړې نو بیا به ځمکه کې ستا عبادت ونشي. نبي علیه السلام په لوړ غږ خپل رب ته فریاد کاوه او قبلې په لور یې لاسونه غوړولي وو، تر دې چې له اوږو څخه یې څادر وغورځیدو، نو ابو بکر راغی او د هغه څادر یې اوچت کړ په اوږو یې ورته واچوو، بیا شا له طرفه نبي علیه السلام سره جوخت شو او ورته یې وویل: اې د الله نبي، ستا د خپل رب څخه همدا سوال زاري بس دی، هغه به تا سره خپله وعده پوره کوي، نو الله تعالی دا آیت نازل کړو: {إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ} [الأنفال: 9] نو الله تعالی یې د ملائکو سره کومک وکړ.

او صحیح البخاري کې هم د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې نبي علیه السلام د بدر په ورز وفرمایل: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَوَعْدَكَ، اللَّهُمَّ إِنْ شِئْتَ لَمْ تُعْبَدْ» اې الله زه تا څخه ستا د لوظ او عهد په واسطې سره سوال کوم [یا قسم درکوم] یا الله که ته اراده وکړې [د مومنانو د هلاکت] نو ستا عبادت به ونه کړی شي. ابو بکر رضي الله عنه په لاس ونیوو، او ورته یې وویل: دا کافی دی ستا لپآره. نو نبي علیه السلام راووتلو او دا یې ویل: {سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ} [القمر: 45]. ژباړه: ډېر ژربه دغې ډلو ته ماتې ورکړی شي او دوی ټول به شاګاني راواړوي. [صحیح البخاري]

جهاد کې د عملیاتو د بریا یو ستر سبب د مجاهدینو اخلاص او عاجزۍ څخه ډکه دعا ده، څومره چې په اخلاص سره دعا وشي هغومره الله تعالی خوندوره فتحه انسان ته ورنصیب کوي. چې مجاهدین ددې خبرې عملي شاهدان دي.

عبد الله بن مسعود هم وایي چې ما د مقداد بن أسود څخه په یو جنګ کې داسې کارنامه لیدلې وه، کچیرې ما دا کار کړی وې نو ماته د ټولې دنیا څخه غوره و، هغه نبي علیه السلام خواته راغی، نبي علیه السلام مشرکانو ته ښيرې کولې نو ده ورته وویل: مونږ داسې نه وایو لکه څنګه چې د موسی علیه السلام قوم ویلي و: ته او ستا رب لاړ شئ وجنګیږئ، بلکې مونږ به ستا ښي، چپ، مخکې او وروسته اړخ ته جنګیږو. نو ما نبي علیه السلام ولیدو چې [ددې خبرې له امله] مخ یې پړقیدو او خوشحاله شو. [صحیح البخاري]

دا د نبي علیه السلام د عاجزۍ او تواضع حال و، سره ددې چې الله تعالی ورسره لوظ کړی و خو بیا هم دومره ژړا، فریاد او الحاح کوي چې ابو بکر او عمر رضي الله عنهما ورته وایي چې اې رسول الله علیه السلام دومره عاجزي او تضرع به کافي وي!! سبحان الله همدا علت و چې په زرګونو ملائک به د نبي علیه السلام کومک ته الله تعالی رالیږل، نن سبا مونږ تاسې خو زیات کمزوري یو، چې الله رب العالمین ته زارۍ وکړو.

[إِذْ تَسْتَغِيثُونَ] دا ظرف دی، متعلَق یې محذوف دی: وَاذْكُرُوا وَقْتَ اسْتِغَاثَتِكُمْ. ژباړه: خپل د فریاد وخت رایاد کړئ. یا چا دا قول هم کړی چې دا بدل دی د [وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ] څخه او د هغه عامل معمول دی. دریم قول دا دی چې دا متعلق دی: [لِيُحِقَّ الْحَقَّ] پورې.

[الِاسْتِغَاثَةُ: طَلَبُ الْغَوْثِ] ژباړه: استغاثه کومک غوښتنې ته وایي. یا فریاد کولو ته وایي، د مومنانو ظاهري اسباب کمزوري وو نو دوی خپل رب ته فریاد شروع کړو او له هغه څخه یې کومک وغوښتو، او هغه داسې ذات دی چې خپله پناهي کې نقصان نه راولي.

[فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ]:

دا [فَاسْتَجَابَ لَكُمْ] عطف دی په [تَسْتَغِيثُونَ] باندې، او دا مستقبل په معنا د ماضي دی ځکه یې په [اسْتَجَابَ] ماضي باندې عطف کړو. نبي علیه السلام او صحابه وو دعا وکړه او الله عزوجل قبوله کړه، ځکه الله تعالی قانون دا دی: {وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ} [غَافِرٍ: 60]

ژباړه: ستاسې رب وایي ماوبولئ زه به ستاسې دعاوې قبولې کړم. بل ځای کې فرمایي: [وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ (186)] سورة البقرة. ژباړه: او کله چې زما بندګان له تا نه زما په باب پوښتنه وکړي ؛ نو یقینا زه ډېر نږدې یم ، زه د بلونکي بلنه قبلوم کله چې ما رابولي، نو هغوې ته ښایي چې زما بلنې ته لبیك ووایي او پر ما ایمان راوړي، دې لپاره چې هغوی سمه لاره ومومي. نبي علیه السلام او صحابه وو بې انتهاء زیاته عاجزي وکړه نو الله ورته د پورته آسمان څخه ملائک راولیږل.

[أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ] دا اصل کې و [بِأَنِّي مُمِدُّكُمْ] بیا ترې حرف جر حذف شو او فعل د مفعول پورې وصل شو، او إني په کسرې د همزې سره هم ویل شوی.

[مُرْدِفِينَ] عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي: {مُرْدِفِينَ} معنا [مُتَتَابِعِينَ] پرلپسې یعني یو بل پسې راتلونکي. [تفسیر الطبري وسنده حسن] د عبد الله بنِ عَبَّاسٍ نه دا قول هم نقل دی: [وَرَاءَ كُلِّ مَلَكٍ مَلَكٌ] د هر ملک پسې وروسته بل ملک و. [تفسیر الطبري وسنده حسن] او قتاده هم دغه قول کړی دی.

امام مُجَاهِد، ابْنُ كَثِيرٍ الْقَارِئُ او ابْنُ زَيْدٍ وایي: {مُرْدِفِينَ} مُمَدِّينَ. یعني کومک کونکي. [تفسیر الطبري بأسناد عنهم یقوي بعضهم بعضا]

[مُرْدِفِينَ] نافع دا په فتحې د دال سره لوستلی دی [مُرْدَفِينَ] د اسم مفعول او نورو په کسرې سره لوستلی دی.

او علت د نصب یې په ترکیب کې حال واقع کیدل دي، په اول قراءت سره به معنا دا شي: [جَعَلَ بَعْضَهُمْ تَابِعًا لِبَعْضٍ] الله تعالی بعضې د بعضو تابع وګرځول. او دویم قراءت سره به یې معنا دا شي: [جُعِلُوا بَعْضَهُمْ تَابِعًا لِبَعْضٍ] بعضې د دوی د بعضو نورو تابع وګرځول شول.

او یا چا دا ویلي چې مردفین پدې دواړو قراءتونو سره د [أَلْفٍ] صفت ګرځیدلی.

سِيبَوَيْهِ وایي دې آیت کې دریم قراءت هم شته: [مُرُدِّفِينَ] په ضمې د راء او کسرې د دال مشدد سره. او څلورم قراءت پکې [مُرَدِّفِينَ] دی چې دې کې راء مفتوحه او دال مشدد دی. [فتح القدیر]

الله عزوجل د بدر غزا پرمهال ملائکې رالیږلې وې، امام بخاري خپل صحیح کې ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل کړي دي: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ بَدْرٍ: هَذَا جِبْرِيلُ، آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ، عَلَيْهِ أَدَاةُ الحَرْبِ. ژباړه: نبي علیه السلام د بدر په ورز وفرمایل: دا جبرائیل علیه السلام دی، د خپل آس سر یې نیولی دی او اسلحه پرې پرته ده.

او صحیح مسلم کې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه دا هم روایت دی: یو مسلمان یو مشرک پسې روان و، چې ناڅاپه یې د بره څخه د کوړې او د آس باندې سپریدونکي غږ واوریدو: حیزوم [آس نوم] مخکې شه، مشرک ته چې یې وکتلې نو هغه په ځمکه پروت و، په پوزه یې د وهلو نښه وه، مخ یې هم د کوړې ګزار په څیر شکیدلی و، او دا ټول شنه شوي وو، دغه انصاري نبي علیه السلام ته راغی او دا حالت یې ورته بیان کړو، هغه ورته وویل: «صَدَقْتَ، ذَلِكَ مِنْ مَدَدِ السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ» تا ریښتیا وویل، دا د دریم آسمان کومک و. پدغه ورز اویا مشرکان ووژل شول او اویا اسیران شول. [صحیح مسلم]

او دا بدر ته راتلونکي ملائک په نورو ملائکو باندې غوره وو، رفاعه رضي الله عنه وایي: جَاءَ جبريل إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَا تَعُدُّونَ أَهْلَ بَدْرٍ فِيكُمْ؟ قَالَ: " مِنْ أَفْضَلِ الْمُسْلِمِينَ" -أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا -قَالَ: "وَكَذَلِكَ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ. [صحیح البخاري] ژباړه: نبي صلی الله علیه وسلم ته جبرائیل راغی، ورته یې وویل: تاسې بدریان خپلو کې څنګه شمارئ ؟ هغه ورته وویل: له غوره مسلمانانو څخه [یې شمیرو] یا دغه شان خبره یې ورته وکړه، هغه وویل: او کوم ملائک چې بدر ته حاضر شوي دي، هغوی هم دغه شان دي.

د ملائکو رالیږلو کې حکمت و، کنه دومره په زرګونو ملائکو ته حاجت نه و، رب العالمین په کُنْ امر سره هر کار ترسره کیږي. خو د بندګانو طبیعت دا دی چې الله باندې توکل کوي خو بیا هم ظاهري اسبابو سره یې زړه ډېر ډاډه کیږي، دا د انسان فطرت دی، لکه یو سنګر کې لس ملګري وي او د دښمن لخوا د حملې خوف وي، نو چې لس نور ورشي دوی هم ورسره ډاډه شي. نو د انسانانو د مزاج موافق الله تعالی ملائک راولیږل.

د بدر غزا کې څومره ملائک راغلي و ؟

دلته سورت انفال کې زر ملائک ذکر دي، او سورت آل عمران کې درې زره او بیا پنځه زره ذکر دي، بعضې علماؤ یې تطبیق داسې کړی چې پنځه زره ملائکې راغلې وې خو اول زر ملائک راغلې، بیا ورپسې زر نورې راغلې، داسې یو بل پسې راغلې.

دویم قول دا چې مشرکانو ته کومک راتلو خبره وشوه نو الله تعالی ورته وفرمایل چې کچیرې دوی ته کومک راغی نو تاسې ته هم درې زره ملائک رالیږم، بیا پنځه زره رالیږم، خو هغوی ته کومک رانغې نو نورو ملائکو ته حاجت نه و، همدا زر ملائک بدر کې راغلي و. ځکه کفارو تعداد هم دومره و. دغه دوه تطبیقات علماؤ کړي دي.

وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (10)

ژباړه: او نه دی ګرځولی الله تعالی [د ملائکو رالیږل] مګر زیری او دې لپآره چې کلک شي په دې سره زړونه ستاسې او نه ده غلبه مګر له طرفه د الله تعالی څخه ده، یقینا الله تعالی زورآور دی حکمت والا دی.

تفسير:

دې آیت کریمه کې د ملائکو رالیږلو دوه فوائد ذکر کړي دي او دفع د توهم پکې ده.

[وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ]:

[وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ] دا راجع دی امداد ته، [إِلَّا بُشْرى] معنا [إِلَّا بِشَارَةً لَكُمْ بِنَصْرِهِ] ژباړه: ستاسې لپاره د الله تعالی د کومک زیری دی. دا استثناء مفرغ ده، عبارت به داسې شي: مَا جُعِلَ إِمْدَادُكُمْ لِشَيْءٍ مِنَ الْأَشْيَاءِ إِلَّا لِلْبُشْرَى لَكُمْ بِالنَّصْرِ.

نو دوه فایدې د ملائکو راتللو شوې:
اوله فایده: زیری او خوشحالي ده.
دویمه فایده: د زړه اطمینان.

الله عزوجل د آسمان څخه ملائکې د مختلفو مقاصدو په پار نازلوي، د وحې راوړلو لپاره، د زنانه وو رحمونو کې د ماشوم ډانچې کې روح اچولو لپاره، د انسانانو اعمال لیکلو لپآره، د انسانانو حفاظت لپاره، د روح قبض کولو لپاره او دغه رنګ مختلف قومونو ته عذاب ورکولو لپآره به هم الله تعالی ملائک رالیږل نو دلته یې وضاحت وکړو چې د ملائکو د راتګ هدف د مومنانو د زړه تسلي وه. کنه الله تعالی پدې هم قادر و چې د جهاد پرته یې مسلمانانو ته غلبه ورکړې وی ځکه یې وفرمایل: {وَمَا النَّصْرُ إِلا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ}. دغه رنګ سورت محمد کې الله تعالی فرمایي: {فَإِذا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ذَلِكَ وَلَوْ يَشَاءُ اللَّهُ لانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلَكِنْ لِيَبْلُوَ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَنْ يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ} [مُحَمَّدٍ: 6-4]

ژباړه: نو کله چې مخامخ شئ کافرانو سره نو ووهئ په څټونو د دوی باندې، تر دې پورې چې کله تاسې هغوې ښه وټکوئ هله نو بندیان کلك وتړئ، له هغه وروسته (ستاسې خپله خوښه چې) ښېګنه کوئ او که دفدیې معامله کوئ تر هغه پورې چې جګړه خپله وسله وغورځوي. دغه دی ستاسې دکولو کار. که الله غوښتي وای نو پخپله به یې له هغو نه غچ اخستی و خو (دغه کړنلاره هغه د دې لپاره غوره کړیده) ترڅوچې تاسې یو دبل په وسیله وازمائي. او کوم کسان چې دالله په لاره کښې ووژل شي الله به دهغو عملونه هیڅکله ضایع نکړي. الله به هغوته لارښوونه وکړي، دهغو حالت به سم کړي. او هغوی به هغه جنت ته ننباسي چې هغوته یې ورپیژندلی دی. [یا خوشبوی کړی یې دی]

او بل ځای هم رب العالمین وایي: {وَتِلْكَ الأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ} [آلِ عِمْرَانَ: 140، 141]

ژباړه: دا ورځې دي چې مونږ یې د خلکو تر مینځه اړوو را اړوو او دې لپاره چې ښکاره کړي الله تعالی مومنان او ونیسي ستاسې څخه شهیدان، او الله تعالی ظالمان نه خوښوي. او ددې لپاره چې مومنان بېل چاڼ کړي او کافران هلاك کړي.

حافظ ابن کثیر وایي: دا هغه حکمتونه دي چې له امله یې الله تعالی د کفارو سره جهاد فرض کړی دی، مخکې وختونو کې به الله تعالی د انبیاؤ نافرمانه قوم یا تکذیب کونکې خلک د مصیبتونو او عذابونو په واسطه ختمول چې هغه به په ټول امت باندې راتلل، لکه نوح علیه السلام قوم یې طوفان سره هلاک کړو، عادیان په سیلۍ سره، ثمودیان په چیغې سره، لوط علیه السلام قوم په خسف، د کاڼو باران او کلي چپه کولو سره، د شعیب علیه السلام قوم باندې د سیوري څخه عذاب راولیږه، موسی علیه السلام پرضد فرعونیان یې په دریاب کې غرق کړل، بیا موسی علیه السلام باندې تورات نازل شو او هغه کې د کفارو سره د جهاد حکم و، د هغه وخت راهیسې جهاد مشروع شو، او کفار په توره او ټوپک سره وژل کیږي. او د مومنانو په لاس د کفارو وژنه د دوی لپآره لوي ذلت دی او د مومنانو سیني پرې یخیږي لکه سورت توبه کې چې الله تعالی فرمایي: {قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ} [التَّوْبَةِ: 14]

همدغه ډول د بدر په میدان کې د مشرکانو سرداران الله تعالی د هغه صحابه وو په لاس ووژل چې دوی ته ډیر سپک ښکاره کیدل. د ابو جهل پدې معرکه کې د منځه تلل د هغه لپاره لوي سپکاوی و، په مقابل ددې کې چې الله تعالی پرې بل عذاب راوستلی وی او په خپل بستر مړ شوی وی لکه ابو لهب باندې چې الله تعالی مرض ولګوو او هغه په خپل بستر مړ شو، چې هیڅ خپلوان ورته خواته نه ورتلو، او لرې نه یې وربانديې اوبه وشیندلې او بیا یې په کاڼو ویشتو تر دې چې هغه یې د کاڼو په ډیرې کې پټ کړو، خو بیا هم د ابو جهل مرګ د هغه لپآره ستر ذلت و.

[وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ]:

پدې جمله کې دفع د توهم ده چې د چا دا خیال رانشي چې دا کومک ملائکو وکړو، بلکې الله تعالی د مسلمان د عقیدوې اصلاح په خاطر په واضحه ټکو وویل چې د دعا قبولیت، دغه کومک او دغه خبرونه دا ټول یوازې زیری و چې ستاسې زړونه پرې مطمین شي او نصرت خو د الله تعالی لخوا دی. دا ملائک د الله تعالی په امر راغلي وو، ملائکې خو یوازې سبب و، نو نسبت سبب ته نه کیږي بلکې منعم حقیقي ته کیږي.

بیا مخلوق څخه کومک غوښتل په دوه قسمه دي، یو ماتحت الأسباب دی او بل مافوق الأسباب، ماتحت الأسباب کې د مخلوق څخه کومک غوښتل هم روا دي او مافوق الأسباب کې د مخلوق څخه کومک غوښتل شرک دی. دلته بعضې مفسرینو ویلي دي چې د بدر په ورز ملائک یوازې د بشارت او اطمینان لپاره راغلي وو او هغوی جنګ ندی کړی، خو دا خبره یې کمزورې ده، مخکې احادیث تیر شو چې په آسونو باندې ناست و، او کافر یې ووهو، پوزه او مخ یې تک شین شول، انصاري نبي علیه السلام ته واقعه بیانه کړه، هغه ورته وویل: دا د دریم آسمان ملائک وو.

[إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ]:

{عَزِيزٌ} یعني الله تعالی، د هغه رسول او مومنانو لپاره په دنیا او آخرت کې عزت دی. لکه الله تعالی فرمایي: {إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الأَشْهَادُ [يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ] } [غَافِرِ: 51، 52] ژباړه: مونږ د خپلو پیغمبرانو او مومنانو مرسته ارومرو د دې دنیا په ژوند کښې هم کوو او په هغه ورځ به یې هم وکړو چې کله شاهدان ولاړ وي. په هغه ورځ چې ظالمانو ته دهغو معذرت هیڅ ګټه ونه رسوي.

عزیز کې دا اشاره هم ده چې دا خو صحیح ده چې جهاد مشروع دی خو دا کفار به څنګه ووهل شي، دوی خو دومره ټیکنالوجي لري، اسباب او امکانات لري، پرمختللي وسایل لري، راډار سیستمونه لري خو الحمد لله خراسان په خړ پړ غرونو کې یې دا ټول اسباب ناکام شول، د بي دوه پنځوس، جیټ، بي ون، چورلکی او د بمونو مور پورې هر څه یې کار پریښود، د امریکایانو تر ټولو سترې پوځي اډه باګرام باندې خلافت مجاهدینو ۴۸ میزایل ګزار کړل، په ارګ باندې یې ورګزار کړل، الحمد لله چې اکثره یې په خپلو اهدافو باندې ولګیدل. نو [عَزِيزٌ لا يُغَالَب] یعني الله تعالی زورآور دی، مغلوبه کیدای نشي، خپل قدرت سره به ستاسې مرسته وکړي، او ددې مرستې دوه صورتونه وي: یا خو الله تعالی ددې ټیکنالوجي د ماتولو آسانه طریقه مجاهدینو ته ذهن کې اچوي او یا بیا دغه اسباب ورله د کاره وباسي.

{حَكِيم} فِيمَا شَرَعَهُ مِنْ قِتَالِ الْكُفَّارِ، مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى دَمَارِهِمْ وَإِهْلَاكِهِمْ، بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ، سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى. ژباړه: د کفارو قتال فرض ګرځولو کې یې حکمتونه دي، سره ددې چې خپل قوت سره د هغوی په هلاکولو قادر دی. [تفسیر ابن کثیر]

نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

څوارلسم درس

الحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيّنتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمو لوستونکو!

مونږ د الله عزوجل د معرفت سلسله شروع کړې وه، تیر درس کې مونږ د هغه تعالی د مجیئة اتیان او اسمان د دنیا ته د نزول د صفاتو متعلق د کتاب او سنت نه دلائل ذکر کړل اوس دی درس کې د لوی الله تبارک تعالی د لاسونو د اثبات متعلق دلائل ذکر کوو، خو له دی مخکې او دی ته ورته د جمله صفاتو متعلق د یو څو اهل السنة والجماعه د علماو نه په دی باب کې یو څو أقوال پیش کوو، چې هغو د جمله صفاتو متعلق دا عقیده لرله چې دی باب کې راغلي ایاتونه او احادیث به یې په خپل ظاهر باندی حمل کول، بغیر له دې چې یا په کې تحریف وکړي یا یې کیفیت بیان کړي او یا یې تعطیل او یا هم په کې تأویل وکړي.

الإعتقاد الحق والباهر على إجراءايات الصفات والأحاديث على الظاهر

١: الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ،رحمه الله فرمايي: قَالَ: سُئِلَ الْأَوْزَاعِيُّ وَمَالِكٌ وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَاللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ هَذِهِ الْأَحَادِيثِ الَّتِي جَاءَتْ فِي التَّشْبِيهِ فَقَالُوا: أَمِرُّوهَا كَمَا جَاءَتْ بِلَا كَيْفِيَّةٍ.

ژباړه: د امام اوزاعی، امام مالک، امام سفیان الثوری، امام اللیث بن سعد رحمهم الله د دې ټولو نه پوښتنه وکړای شوه د دغه احادیثو باره کې چې د متشابهاتو څخه دی، نو هغوی وفرمایل بیان یې کړئ لکه څنګه چې راغلي بغیر له کیفیت بیانولو څخه [الأسماء والصفات ٢/ ٢٧٨]

٢: امام بغوی رحمه الله د نزول د حدیث متعلق فرمايي: فَهَذِهِ وَنَظَائِرُهَا صِفَاتٌ لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَرَدَ بِهَا السَّمْعُ، يَجِبُ الإِيمَانُ بِهَا، وَإِمْرَارُهَا عَلَى ظَاهِرِهَا مُعْرِضًا فِيهَا عَنِ التَّأْوِيلِ، مُجْتَنِبًا عَنِ التَّشْبِيهِ، مُعْتَقِدًا أَنَّ الْبَارِي سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى لَا يُشْبِهُ شَيْءٌ مِنْ صِفَاتِهِ صِفَاتِ الْخَلْقِ، كَمَا لَا تُشْبِهُ ذَاتُهُ ذَوَاتِ الْخَلْقِ، قَالَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى: لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ.

ژباړه: پس دغه احادیث او دې ته ورته احادیث د متشابهاتو، دا د الله عزوجل صفات دي، سمعي دلائلو پرې راتلل کړي، ایمان لرل پرې واجب دي او چلول د دې په خپل ظاهر د دې تأویل نه به په کې اعراض کونکی اوسې د تشبیه نه به په کې اجتناب کونکی (یعنی په ډډه) اوسې دا عقیده لرونکی به یې چې بېشکه باری تعالی هیڅ نوع مشابهت نه لري، په صفاتو کې د مخلوق سره لکه څنګه چې د هغه ذات د مخلوق د ذواتو سره مشابهت نه لري الله سبحانه وتعالی فرمایلي: او نه شته په مثل د هغه هیڅ شې او هغه اوریدونکی او لیدونکی دی. [شرح السنة ١/١٦٢]

٣: مشهور امام ابو الحسن الأشعري رحمه الله فرمايي: ونقول: إن الله عز وجل يجيء يوم القيامة، كما قال سبحانه: وجاء ربك والملك صفا صفا.

ژباړه: او مونږ وایو چې بېشکه الله عزوجل به راشي په ورځ د قیامت لکه څنګه چې هغه سبحانه فرمایلي: او را به شی رب ستا او ملائکی صف صف. [الإبانة ١/٣٠]

٤: امام ابن القيم رحمه الله فرمايي: أنه تعالى قال: {وأشرقت الأرض بنور ربها} فأخبر أن الأرض يوم القيامة تشرق بنوره، وهو نوره الذي هو نوره، فإنه سبحانه يأتي لفصل القضاء بين عباده وينصب كرسيه بالأرض، فإذا جاء الله تعالى أشرقت الأرض وحق لها أن تشرق بنوره، وعند المعطلة لا يأتي ولا يجيء ولا له نور تشرق به الأرض

ژباړه: بېشکه الله تعالی فرمایلي: رڼا به کړای شي ځمکه په نزد د رب د هغه نو پس بېشکه ځمکه به په ورځ د قیامت روښانه شي په نور د هغه او دا نور هغه نور دی، پس بېشکه هغه سبحانه وتعالی به راشي د فیصلې کولو د پاره په منځ د بنده ګانو کې او وبه درولی شي کرسي د هغه په ځمکه، نو پس چې کله الله تعالی راشي نو ځمکه به روښانه شي او لایق ده هغه ته چې روښانه شي په نور د هغه.

د معطله و په نزد الله نه راځي او نه به راشي او نه هغه نور لري چې ځمکه پرې روښانه شي. [الصواعق المرسلة ١/٤٢٢]

٥: امام دارمي رحمه الله فرمايي: هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِنَ الْغَمَامِ وَالْمَلَائِكَةُ} وَقَوْلُهُ: {وجاء ربك وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا} وَهَذَا يَوْمُ الْقِيَامَةِ إِذَا نَزَلَ اللَّهُ لِيَحْكُمَ بَيْنَ الْعِبَادِ.

ژباړه: دوی انتظار نه کوي مګر د دې چې راشي دوی ته الله په سیورو د وریځو کې او ملائکې هم راشي، او دا به د قیامت ورځ وي چې کله الله راکوز شي د دې د پاره چې فیصله (پریکړه) وکړي په منځ د بنده ګانو کې [الرد على الجهمية صـ٧٤].

٦: مشهور مفسر امام قتادة رحمه الله فرمايي: جنبتيه الجنة والنار؛ قال: هذا حين ينزل من عرشه إلى كرسيه، لحساب خلقه، وقرأ: (وجيء يومئذ بجهنم).

ژباړه: دوه طرفونو د ده ته به جنت او جهنم وي، بیا فرمايي: او دا هغه وقت دی چې کله هغه د خپل عرش نه خپلې کرسۍ ته راکوز شي د مخلوق سره د حساب د پاره او ویې لوسته دا ایت چې ژباړه: او رابه وستلی شي په دغه ورځ جهنم لره. [تفسير الطبري ٢٤ / ٣٨٩]

٧: امام إِسْحَاقُ بْنُ رَاهَوَيْهِ رحمه الله فرمايي: سَأَلَنِي ابْنُ طَاهِرٍ عَنْ حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعْنِي فِي النُّزُولِ فَقُلْتُ لَهُ: النُّزُولُ بِلَا كَيْفٍ.

ژباړه: له مانه ابن طاهر تپوس وکړ د نبی صلی الله علیه وسلم د حدیث چې(د الله تعالی) د نزول باره کې دې نو ما ورته وفرمایل نزول د الله بلا کیفیته دی. [الأسماء والصفات ٢/٣٧٦]

٨: ابو سُلَيْمَانَ الْخَطَّابِيُّ رحمه الله د نزول د حدیث متعلق فرمايي: هَذَا الْحَدِيثُ وَمَا أَشْبَهَهُ مِنَ الْأَحَادِيثِ فِي الصِّفَاتِ كَانَ مَذْهَبُ السَّلَفِ فِيهَا الْإِيمَانَ بِهَا، وَإِجْرَاءَهَا عَلَى ظَاهِرِهَا وَنَفْيَ الْكَيْفِيَّةِ عَنْهَا.

ژباړه: دا حدیث او ده ته ورته هغه احادیث چې د الله د صفاتو متعلق دي، د سلفو مذهب د دې باره کې دا و چې، په دې یې ایمان لرلو چې

دا حق دی، او دا یې په خپل ظاهر باندې جارې کول، تأویل یې په کې نه کولو، او د دې صفاتو د کیفت بیانولو نه یې نفي (منع) کوله. [الأسماء والصفات ۲/۳۷۷]

۹: امام اوزاعي رحمه الله د امام زهري او امام مَكْحُول رحمهم الله نه نقل کړي چې قَالَامْضُوا الْأَحَادِيثَ عَلَى مَا جَاءَتْ.

ژباړه: دوی دواړو وفرمایل چې دا احادیث په هغه معنا په کوم چې راغلي دي. [الاسماء والصفات للبیهقي ۲/۳۷۷]

۱۰: امام احمد بن حنبل رحمه الله د دې احادیثو متعلق فرمایي: وَنَحْنُ نُؤْمِنُ بِالْأَحَادِيثِ فِي هَذَا وَنُقِرُّهَا، وَنُمِرُّهَا كَمَا جَاءَتْ بِلَا كَيْفٍ، وَلَا مَعْنًى إِلَّا عَلَى مَا وَصَفَ بِهِ نَفْسَهُ تَعَالَى، نَسْأَلُ اللَّهَ السَّلَامَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الزَّلَلِ، وَالِارْتِيَابِ وَالشَّكِّ إِنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

ژباړه: او مونږ ایمان لرو په تولو احادیثو چې په دې باب کې راغلي، او په خپل ځاي یې پریږدو او جارې کوو یې لکه څنګه چې راغلي بغیر له کیفیة نه، بغیر له معنی نه د خپل ځان نه، مګر هغه معنا چې الله تعالی په هغی ځان موصوف کړي، مونږ سلامتیا غواړو د الله څخه په دنیا او اخرت کې، او پناه غواړو د خویدلو نه او د تردد او د شک نه بیشکه هغه په هرځه قدرت لرونکي دي. [الإبانة الكبرى لابن بطة ۷/ ۵۸ رقم الأثر ۵۰].

۱۱: امام محمد بن حسين الآجري رحمه الله د نزول په باب کې د راغلو احادیثو متعلق فرمایي: الإيمان بهذا واجب، ولا يسع المسلم العاقل أن يقول: كيف ينزل؟ ولا يرد هذا إلا المعتزلة. وأما أهل الحق فيقولون: الإيمان به واجب بلا كيف، لأن الأخبار قد صحت عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أن الله عز وجل ينزل إلى السماء الدنيا كل ليلة، والذين نقلوا إلينا هذه الأخبار هم الذين نقلوا إلينا الأحكام من الحلال والحرام، وعلم الصلاة والزكاة والحج والجهاد، وكما قبل العلماء منهم ذلك كذلك قبلوا منهم هذه السنن وقالوا: من ردها فهو ضال خبيث، يحذرونه ويحذرن منه.

ژباړه: ایمان په دې واجب دي او هیڅ عقل لرونکي مسلمان ته جائز نه دي چې ووایي: الله څنګه راکوزیږي او نه رد کوي دا حدیث مګر معتزله او کوم چې اهل الحق دي نو هغوی وایي: ایمان په دې بلاکیف واجب دي، ځکه احادیث په دې باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه صحیح نقل دي چې بیشکه الله عزوجل د دنیا اسمان ته هره شپه راکوزیږي، او کومو خلکو چې مونږ ته دا احادیث رانقل کړي هغوی مونږ ته د حلالو او د حرامو احکام هم رانقل کړي، او د لمونځ، زکاة، حج، او د جهاد علم یې هم رانقل کړي، نو لکه څنګه چې ترینه علماو دا قبول کړي، نو دغه دول یې ترینه دا سنت احکام هم قبول کړي او فرمایلي یې دي: چا چې دا رد کړل هغه ګمراه او خبیث دی، دوی د هغه له ځان نه لرې کړي او ځانونه دی ده هغه بچ وساتي. [الشريعة صـ۳۰۶].

۱۲: إمام الأئمة أبو بكر بن خزيمة رحمه الله د صفاتو د احادیثو متعلق فرمایي: نشهد شهادة مقر بلسانه مصدق بقلبه، مستيقن بما في هذه الأخبار من ذكر نزول الرب، من غير أن يصف الكيفية، لأن نبينا المصطفى لم يصف لنا كيفية نزول خالقنا إلى سماء الدنيا، وأعلمنا أنه ينزل، والله جل وعلا لم يترك ولا نبيه عليه السلام بيان ما بالمسلمين إليه حاجة من أمر دينهم، فنحن قائلون مصدقون بما في هذه الأخبار من ذكر النزول، غير متكلفين القول بصفته أو بصفة الكيفية، إذ النبي صلى الله عليه وسلم لم يصف لنا كيفية النزول.

وفي هذه الأخبار ما بان وثبت وصح أن الله جل وعلا فوق السماء الدنيا الذي أخبرنا نبينا صلى الله عليه وسلم أنه ينزل إليها، إذ محال في لغة العرب أن يقول: ينزل من أسفل إلى أعلى، ومفهوم الخطاب أن النزول من أعلى إلى أسفل. ژباړه: مونږ ګواهي ورکوو، ګواهي او اقرار کوونکي یو په ژبه، تصدیق کوونکي یو په زړه او یقین لرونکي یو په هغه څه چې په دې احادیثو کې نقل دي د یادونې د نزول (راکوزیدو د الله تعالی) بغیر له دې چې مونږ یې کیفیت ذکر کړو ځکه چې زمونږ نبي مصطفی صلی الله علیه وسلم نه دي بیان کړي، مونږ ته کیفیة د نزول د خالق زمونږ اسمان د دنیا ته او خبر یې مونږ ته راکړي، دا چې هغه راکوزیږي او الله جل وعلی نه دي پریښي، او نه د هغه نبي علیه السلام بیان د هغه څه چې د مسلمانانو ورته حاجت وي، د أمر د دین د دوی نه پس مونږ قائل یو او تصدیق

کوونکي یو، د هغه څه چې په دې احادیثو کې دي، د ذکر د نزول د هغه نه او نه یو تکلّف کوونکي د دې صفت په ذکر کولو کې او نه د کیفیت د دې ځکه چې مونږ ته نبي صلی الله علیه وسلم نه دي بیان کړي، کیفیت د نزول او په دی احادیثو کې هغه څه چې ښکاره دي او ثابت دي، او صحیح دي هغه دا دي چې بیشکه الله جلّ وعلی د دنیا د اسمان نه بره (پاس) دی، هغه چې مونږ ته خبر راکړی نبي صلی الله علیه وسلم دا چې هغه تعالی راکوزیږی هغه اسمان د دنیا ته ځکه د عربو په لغة کې دا محال ناممکنه ده.

دا چې یې د لاندې بره راکوزیږی بلکې ځکه مفهوم د خطاب داسې وي چې کوزیدل د بره نه لاندی ته کیږي.

[التوحيد صـ ۱۲۵ و صـ ۱۲۶]

۱۳: امام أبو عبد الله أحمد بن سعيد الرباطي رحمه الله فرمایي: حضرت مجلس الأمير عبد الله بن طاهر وحضر إسحاق بن راهويه فسئل عن حديث النزول أصحيح هو قال نعم فقال له بعض قواد الأمير يا أبا يعقوب أتزعم أن الله ينزل كل ليلة قال نعم قال كيف ينزل قال له إسحاق أثبت الحديث حتى أصف لك النزول فقال له الرجل أثبته فقال له إسحاق قال الله تعالى (وجاء ربك والملك صفا صفا).

فقال الأمير عبد الله بن طاهر يا أبا يعقوب هذا يوم القيامة فقال إسحاق أعز الله الأمير ومن يجيء يوم القيامة من يمنعه اليوم.

ژباړه: زه د امیر عبدالله بن طاهر مجلس ته حاضر شوم او اسحاق بن راهویه هم حاضر شو نو د ده نه د نزول د حدیث باره کې پوښتنه وشوه چې ای ابو یعقوبه دا حدیث صحیح دی؟ هغه اسحاق بن راهویه وفرمایل هو! نو د امیر بعض قائدینو ورته وفرمایل ای ابو یعقوبه ایا ته باور لرې چې الله هره شپه راکوزیږی هغه ورته وفرمایل: هو! نو قواد وویل چې څنګه راکوزیږي نو اسحاق ورته وفرمایل: حدیث ثابتوم بیا یې درته کیفیت ذکر کوم نو سړی ورته وفرمایل: ثابت یې کړه، نو اسحاق وویل الله عزوجل فرمایي: رابه شي رب ستا او ملائکې صف صف نو امیر عبدالله بن طاهر وفرمایل: ای ابو یعقوبه دا خو د قیامت په ورځ وي نو اسحاق وفرمایل: الله دی امیر عزتمند کړي، نو هغه څوک چې د قیامت په ورځ راتللی شي نو نن به یې څوک منع کړي. [أقاويل الثقات صـ۱۲۰].

۱۴: امام حرب بن إسماعيل رحمه الله فرمایي سمعت إسحاق بن إبراهيم يقول ليس في النزول وصف قال وقال إسحاق لا يجوز الخوض في أمر الله كما يجوز الخوض في أمر المخلوقين لقول الله تعالى (لا يسأل عما يفعل وهم يسألون) ولا يجوز أن يتوهم على الله.

ژباړه: ما د اسحاق بن ابراهیم نه واوریدل هغه فرمایل چې: نه شته په نزول (راکوزیدو) د الله کې بیان د کیفیة، فرمایي: اسحاق وفرمایل جائز نه دي غوپه وهل (ژور تلل) په کار (وصف) د الله کې لکه څنګه چې ژور تلل د مخلوق په هغه کې جایز دي د وجهې د قول د الله نه چې فرمایي: پوښتنه نه شي کیدای د الله نه د هغه څه چې هغه یې کوي د هغوو انسانانو نه او د هغوو د کارونو پوښتنه کیدای شی او جایز نه دي چې ګمان وکړای شي په الله د هغه څه چې علم یې درسره نه وي. [اقاويل الثقات صـ۲۱۰]

۱۵: امام ابن تیمیه رحمه الله د نزول د احادیثو متعلق فرمایي: وكانت الصحابة والتابعون تذكره وتؤثره وتبلغه وترويه في المجالس الخاصة والعامة، واشتملت عليه كتب الإسلام التي تقرأ في المجالس الخاصة والعامة، كصحيحي البخاري ومسلم، و موطأ مالك و مسند الإمام أحمد و سنن أبي داودو الترمذيو النسائي وأمثال ذلك من كتب المسلمين، لكن من فهم من هذا الحديث وأمثاله ما يجب تنزيه الله عنه، كتمثيله بصفات المخلوقين، ووصفه بالنقص المنافي لكماله الذي يستحقه، فقد أخطأ في ذلك، وإن أظهر ذلك منع منه، وإن زعم أن الحديث يدل على ذلك ويقتضيه فقد أخطأ أيضا في ذلك فإن وصفه سبحانه وتعالى ـ في هذا الحديث بالنزول هو كوصفه بسائر الصفات؛ كوصفه بالاستواء إلى السماء وهي دخان، ووصفه بأنه خلق السموات والأرض في ستة أيام ثم استوى على العرش، ووصفه بالإتيان والمجيء في مثل قوله تعالى: هل ينظرون إلا أن يأتيهم.

ژباړه: او وو صحابه کرام او تابعین چې دغه حدیث به یې ذکر کولو او تأثیر به یې ترینه اخذ کولو او د دې تبلیغ به یې کولو او په خپلو خاص او عام مجالسو کې به یې روایت کول او د اسلام ټول هغه کتابونه پرې مشتمل دي کوم چې په خاص او عام مجالسو کې لوستلی شي، لکه صحیحین د بخاری، مسلم، موطأ د.امام مالك ، مسند د امام أحمد، سنن أبي داود، سنن الترمذي، سنن النسائي او د دې په شان نور د مسلمانانو کتابونو نقل کړي دي.

ها! که څوک له دې او د دې په مثل حدیثونو نه هغه څه فهم کړي چې د الله په حق او شان کې د

هغه نه پاکي واجب وي، لکه مثال ورکول د هغه د صفاتو د مخلوق سره او یا موصوف کړي هغه لره په نقص سره داسې نقص چې منافي وي د هغه کمال چې حق يې لري، نو پس خطا شو په دې کار کې، او که دغه اعتقاد يې ښکاره کولو نو منع کيدلی به شي دا کس. او که دا ګمان يې وي چې دا حديث په دې دليل دی او د دې تقاضا کوي، نو بيا هم دې کې په خطا دي، ځکه دې حديث کې صفت د نزول د الله سبحانه وتعالی داسې دی لکه د هغه د نورو صفاتو غوندې لکه: صفت د هغه په استواء سره د هغه اسمان ته چې هغه لوړ و، او صفت د هغه چې ببشکه هغه اسمانونه او ځمکه پيدا کړه په شپږو ورځو کې او بيا پورته شو په عرش باندې او همدارنګې موصوفول د هغه په اتيان او مجيئة راتلو باندې، په شان د دی قول د الله تعالی چې فرمايي: دوی انتظار نه کوي مګر د دې چې راشي، دوی ته (الله به سيورو د وريځو کې) [شروح النزول صـ ٥].

دا شو محترمو عزتمندو مسلمانانو د دين اسلام د يو څو معتبرو محدثينو فقهاو او امامانو اقوال چې په دې پارمو ذکر کړل، چې دا د امت اجماعي عقيده ده چې هغوې الله تبارک وتعالی ته هر هغه صفت مني چې هغه تعالی ځان ته ثابت کړی او هغه چې هغه ته د هغه رسول صلی الله عليه وسلم ثابت کړی، هر ايت او حديث چې دی باب کې راغلي هغه يې په خپل ظاهر حمل کړي، د هيڅ معتبر امام او محدث نه ثابت نه ده او نه به يې ترينه څوک ثابت کړای شي چې هغه په يو صفت د صفاتو د الله تبارک وتعالی کې يا تأويل کړې وي يا يې د هغه تشبيه د مخلوق سره ورکړې وي، او يا يې د هغې کيفيت بيان کړې وي، او يا هغه د خپل ظاهر نه غير په بله معنا او مقصود باندې حمل کړې وي او دا بحث مونږ بار بار ذکر کړې دې!

باب إثبات اليدين لرب المشرقين ومعبود الثقلين

د لوی الله په خاص فضل او توفيق سره په مخکې ابوابو کې الله تبارک وتعالی ته د کتاب اوسنت څخه د إتيان نزول او مجيئة په اثبات دلائل ذکر کړل، اوس په دی مختصر باب کې د الله متعال د ذاتي صفاتو څخه هغه ته د يدينو (يعنی د دواړو لاسونو) په اثبات کتاب، سنت او اجماع د امت څخه دلائل ذکر کوو، اول خو خلاصه ذهن کې دا کيښنول په کار ده، چې د امت مسلمه په دې اجماع ده چې الله تبارک وتعالی لاسونه لري او دغه لاسونه الله تبارک وتعالی ځانته په کتاب يعنې قرآن او رسول صلی الله عليه وسلم هغه ته په احاديثو کې ثابت کړې دي بيا په زرګونو صحابه کرامو رضوان الله عليه اجمعين، او بيا په لکونو تابعين او د هغوې أتباع دغه اياتونه اوري، دغه احاديث اوري يو هم په دې کې د الله تبارک وتعالی د ذاتي او يا هم د فعلي صفت نه نه انکار کوي او نه هم په هغه کې تأويل کوي چې د خپل حقيقت نه يې واړوي، او همدا د الله متعال د ټولو صفاتو باره د جمله مسلمانانو عقيده (کما مر فی فصل الاعتقاد الحق والباهر) خو متأسفانه چې ډيرو طائفو د مسلمان په نوم مسلمانانو کې د داسې عقيدو او نظريو سره ظهور وکړ چې د شريعت د ډيرو احکامو تر څنګ يې د الله عزوجل په ذاتي او فعلي صفاتو کې هم د تحريف او تأويل مذموم کردارونه ادا کړل نو د دې باطلو دريز درډ او بطلان په مناسبت راځو او د الله عزوجل ذاتي صفت چې يدين (لاسونه) دي د هغه متعلق بحث شروع کوو.

فصل خيرالأبد، بفهم أقسام معاني اليد

د يد لفظ داسې يو مشترک عربی کلمه ده چې په ډيرو معنا ګانو سره استعماليږي.

١: يد په معنی د قدرت او طاقت سره هم استعمال شوې لکه: صحيح مسلم کې د نواس بن سمعان حديث دې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: أن الله يوحي إلى عيسى أني أخرجت عبادا لي لا يدان لأحد بقتالهم.
ژباړه: الله تعالی به عيسی عليه السلام ته وحې وکړي چې ما خپل داسې بنده ګان راوويستل چې د هيڅ چا ورسره د جنګ د پاره لاسونه (قدرت او طاقت) نه شته (رقم الحديث ٢٩٣٧).
نودلته يد په معنی طاقت او قدرت سره استعمال شوی دی.

٢: يد په معنی د نعمت هم استعمال شوی چې يو له هغه څخه د عروة بن مسعود قول دی چې قريشو حديبيه کې راليږلي و، او هغه ابوبکر رضی الله عنه ته وويل لولا يد لک عندى لم أجزك بها، لأجبتك.
ژباړه: خبردار که چيرته ما سره ستا نعمت احسان پيرزوينه نه وي د کوم چې ما تر اوسه بدله نه ده درکړې، نو ما داسې نه پريښودي خامخا به مې جواب درکړی و، نو غرض دا چې دلته يد په معنی د نعمت سره ذکر شوی دی.

٣: يد په معنی د واک، اختيار، ملک او سلطنت سره هم راځي لکه: عرب وايي: لايد لك عليه او لا سلطان لك عليه يعنې ستا په دې کار باندې مثلا قدرت، واك او اختيار نه شته.

٤: د جماعت او انصارو په معنا هم راځي، لکه عرب وايي: چې هم يده يعني أنصاره يا دا چې هم يد على غير هم يعنې هم مجتمعون متفقون فيما بينهم يعنې دوی د بل په مقابل کې يو موټی دي

٥: يد د برخې او مهارت په معنا هم راځي، لکه عرب وايي: له اليد الطولى في هذا المقام يعنې دا په دې فلاني کار کې مثلاً ډير مهارت تجربه پوهه او برخه لري.

٦: يد د سخا په معنا هم راځي، لکه عرب وايي: فلان طويل اليد يعنې فلانی ډير سخي (ورکړې) والا دی.

٧: يد د قوت په معنا هم استعمال شوی، لکه صحيح حديث کې راځي چې: فإن يد الله على الجماعة، فإن الشيطان مع من فارق الجماعة يركض. يعنې قوت د الله دا د جماعة سره وي او ببشکه شيطان د هغه چا سره ملګری کيږي چې دجماعت نه بهر شي سکونډې هغه لره. [سنن النسائي رقم الحديث٤٠٢٠]

٨: يد په خپله حقيقي معنا باندې هم ډير استعمال شوی چې هغه لاس دې، لکه سورة المائده ٦٤ نمبر ايت کې دي چې (بل يداه مبسوطتان).
ژباړه: بلکې لاسونه د الله متعال کولاو دي. او صحيح حديث کې هم دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: يد الله ملآى لاتغيضها نفقة سحاء الليل والنهار أرأيتم ما أنفق مذ خلق السماوات والأرض، فإنه لم يغض ما في يمينه...
ژباړه: د رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: لاس د الله ډک ده نه شي تشوي هغه لره نفقه کول د شپې او نه د ورځې ما ته خبر راکړئ هغه څه چې الله يې خرچ کوي د کله نه يې چې اسمانونه او ځمکې پيدا کړې، پس دغه کار کم نه کړل هغه څه په ښي لاس د هغه کې دي. [صحيح البخاري رقم الحديث٧٤١٩] .

همدارنګه نبي عليه الصلاة والسلام فرمايي: "يطوي الله تعالى السماوات بيمينه والأرض بيده الأخرى.
ژباړه: راتاو به کړي الله تعالی اسمانونه په ښي لاس کې او ځمکه په بل لاس کې. [متفق عليه]

او صحيح مسلم کې روايت ده چې نبي صلى الله عليه وسلم په هغه کې د الله متعال د لاسونو متعلق فرمايي: كلتا يديه يمين. ژباړه: يعنې دواړه لاسونه د الله ښي دي. [صحيح مسلم رقم الحديث ١٨٢٧]

نو د دې احاديثو کې د يد نه مراد لاس دي چې دا د يد خپله حقيقي معنا ده .

ليکن دلته يوه خبره ياد ساتئ کله يد ذکر کيږي او مراد ترينه نفس الذات د ذواليد وي مثلا قران عظيم الشان کې الله سبحانه وتعالی په سورة الروم ٤١ نمبر ايت کريمه کې فرمايي: ظهر الفساد في البر والبحر بما كسبت أيدي الناس [الاية] دلته د بما كسبت ايدي الناس معنا ده ای بما كسبوا نو بيا برابره ده چې دا کسب د دوې په لاسونو شوی، په ژبو شوی او که په بدنونو، خو دلته محض تعبير د نفس فاعل نه په يد سره شوی دی، نو دلته بحمدلله تعالی خپله هغه اعتراض ختم شو چې معترضين يې پيش کوي چې کله سياق تقاضا د دې وکړي، چې دلته له يد نه مراد معنا حقيقي مراد ده خو دا به په مفرد او تثنيه کې ومنو اما چې جمع راشي نو بيا مونږه څنګه د دې نه مراد حقيقي معنا واخلو، لکه مثلاً د سورة يس دا ايت کريمه چې الله تبارك وتعالی فرمايي: أَوَلَمۡ يَرَوۡا أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعَٰمٗا فَهُمۡ لَهَا مَٰلِكُونَ الاية

نو جواب دا دی چې په هيڅ وجه مونږ دا نه شو ويلی چې الله سبحانه وتعالی څاروي په خپلو لاسونو پيدا کړي دي، بلکه معنا دا ده چې الله سبحانه وتعالی د خپل طرف نه د هغه د پيدايښت خبر ورکړی، نو بيا برابره خبر ده چې که هغه يې په هره طريقه پيدا کړی وي نو دا ښکاره فرق شو په مابين د (مما عملت أيدينا) او په مابين د (لما خلقت بيدي) کې، نو

د (مما عملت ايدينا) نه مراد ذات د الله مراد دی، هغه ذات چې لاس لري نو ګويا چې معنا د دی ايت [مما عملنا] دې،

او د (لما خلقت بيدي)نه مراد دوه لاسونه بغير له ذات نه مراد دي.

اوس دلته سوال راځي چې مونږ به دا فرق له کومې نښې څخه پيژنو چې مثلا يو ځای کې د (يد) کلمه ذکر شي او مونږ پوه شو چې دا حقيقي يا مجازي معنا باندې حمل ده، نو د دې اسان فرق او د معرفت سبب هغه سياق د کلام او قرائن د هغه دي مثلاً يو سړی ووايي (لي يد طولی علی هذا الأمر) نو دلته سياق تقاضا د دې کوي چې دلته ديد نه مراد مجازي معنا ده او هغه خاص مهارت تجربه او ځانګړې برخه ده، ځکه حقيقي معنا دلته ممکنه نه ده، دغه ډول مخکې حديث د صحيح مسلم کې هم تير شو چې د(لا يدان لأحد) کې هم همدا مجازي معنا مراد ده ، چې هغه قدرت دی، دغه ډول د ابوبکر رضی الله عنه په جواب کې چې عروه کومه جمله ويلي وه چې (لولا يد لك عندي) نو دلته هم سياق متقاضی د دې ده چې دا (يد) دې په معنی د احسان او نعمت باندې شي، نه په خپله حقيقي معنا او که څوک ووايي چې(إن في يدي كذا وكذا) زما په لاس کې دا او دا دي او د عقل له مخه دا محال وي چې دا کوم اشياء چې دا يادوي هغه دا په لاس کې نه شي راخيستلی نو دا قرينه او سياق شو چې دلته د يد معنا اختيار ملك واك او سلطنت ده، خو چې کله سياق دلالت په دې کاوه چې دغه مجازي معناګانې محال دي، نو بيا دې صورت کې د يد حقيقي معنی مراد ده، مثلاً الله سبحانه وتعالی د يهودو د طعن مقابل کې چې هغو په الله تعالی لړولي وو چې (يد الله مغلولة).

ژباړه: لاس د الله تړل شوی دی، نو الله سبحانه وتعالی جواب کې وفرمايل: (بل يداه مبسوطتان)

ژباړه: نه بلکه لاسونه د الله متعال کولاو دي، دغه ډول رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: يطوي‌الله تعالى السماوات بيمينه والأرض بيده الأخرى [متفق عليه] دغه ډول بل مقام کې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: كلتا يديه يمين(حيح مسلم). نو دې احاديثو کې سياق د همدې تقاضا کوي چې د يد نه مراد لاس دی، چې دا د يد خپله حقيقي معنا ده.

ردُّ المقال في زعم التشبيه بإثبات يد المتعال

که اوس کوم منکر الصفات اعتراض وکړي چې تاسو وويل چې يد الله سبحانه وتعالی ته په حقيقي معنا سره هم نسبت کيدای شي چې هغه لاس د يو نو که په دی کې فکر وشي نو له دې نه خو د تجسيم او تشبيه عقيده وجود ته راغله، ځکه چې لاس ثابتولو سره الله سبحانه وتعالی ته جسم ثابت شو، او بل د دې نه مشابهت لازميږي د مخلوق سره ځکه لکه څنګه چې مخلوق لاس ته محتاج دي، او د دې لاس د ده نه انفصال او جدا والی هم راتللی شي او تاسو الله سبحانه وتعالی ته هم د دی لاس نسبت وکړ، نو دا خو عين مشابهت راغې د خالق د مخلوق سره.

الجواب بعون الله الوهاب:

نو د اهل السنة والجماعة له طرف نه جواب دا دی چې: اول خو دا قاعده ذهن کې کيښنول پکار دي چې الله سبحانه وتعالی چې کوم صفات ځان ته او يا هم رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته ثابت کړي د هغه د اثبات نه تشبيه او تجسيم نه لازميږي، او همدا د اهل السنة والجماعة اتفاقي مسلك او عقيده ده او که لږ سوچ وکړئ نو د تعطيل عقيده او مرض هم له همدې صورت نه منځ ته راغلې چې د دوی په ګمان د صفاتو د اثبات نه تشبيه لازميږی، لکه ابن القيم رحمه الله فرمايي: ولهذا قال بعض أهل العلم إن كل معطل مشبه ولا يستقيم له التعطيل إلا بعد التشبيه.

ژباړه: او د دی وجهې نه بعضو اهل علمو فرمايلي چې: يقينا هر معطل د (صفاتو نه انکار کوونکی) دا اول مشبه وي ځکه دی معطل نه ګرځي مګر وروسته د تشبيه کولو نه. [الصواعق المرسله ۱/۲۴۴] نو معلومه شوه چې د چا ذهن کې د مخکې نه د الله رب متعال باره کې د تشبيه او تمثيل خاکه موجوده نه وي نو هغه هرګز د خپل رب باره کې د دغه نوع خرافاتو نه ښکار کيږي، نو معطله دې ويرې ديته مجبور کړل چې د رب د پاکو او کريمه صفاتونه يې انکار وکړلو نو له دې وجهې نه علماء فرمايي: هر معطل دا اول مشبه وي، ځکه چې دا کله هم د الله تبارك وتعالی صفت واوري نو فورا يې ذهن ته تشبيه راشي، او همدا بيا باعث د دې شي چې له ثابت صفاتو انکار ته غاړه کيږدي، او همدا تعطيل بيا د دې سبب شي چې تحريف ته وغزيږي او د الله سبحانه وتعالی د صفاتو په باره کې د الله په کلام او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې تحريفونه کوي، مثلا د يد معنا په قدرت او د استوی معنا په استولی سره کوي.

نو اوس که معطله په دې جواب نه قانع کيږی او خامخا دا وايي چې د يد د اثبات نه تشبيه لازميږي نو بيا مونږ له ده نه پوښتنه کوو چې که ته بالفرض د يد نه قدرت مراد کوې چې د دې نه د الله متعال قدرت مراد ده ځکه ستا په ګمان که حقيقي معنی ترينه اخذ کړئ نو مخلوق سره يې تشبيه لازميږي، ځکه مخلوق هم لاس لري نو دغه فکر خو تا ته په قدرت کې هم پکار دي ځکه مخلوق هم قدرت لري! (فما كان جوابهم فهو جوابنا)

بل دغه يد چې تثنيه راغلې هغه کې به بيا د قدرت متعلق څه معنا کوئ چې الله دوه قدرته لري؟!

او که مثلا ته د يد نه مرات نعمت د الله متعال مراد کوې نو بيا درنه پوښتنه کوو چې په دې معنا به هغه وخت ځان ته قناعت ورکړې چې کله يد مفرد ذکر وي خو چې کله دغه يد تثنيه ذکر شوی وي، هلته به بيا څه معنی کوې چې الله دوه نعمته لری؟! او حال دا چې الله متعال په سورة النحل ۱۸ نمبر ايت کې فرمايي: {وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّـهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ اللَّـهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ} [الاية]

ژباړه: که تاسې د الله د نعمتونو شمېرل وغواړئ، نو نه يې شئ شمېرلای. حقيقت دا دی چې هغه ډېر بښونکی او مهربان دی، همدا ډول به سورة ابراهيم ۳۴ نمبر اية کې هم ذکر دي نو معلومه شوه چې ستا دغه معنا د قران د دی مقصد نه خلاف ده.

بله پوښتنه هم زمونږ دا ده چې ايا ته د الله سبحانه وتعالی همدا د قدرت او نعمت صفت منئ که نه په نورو ورته هم قائل يې نو که ته وايي چې هيڅ صفت يې نه منم نو دا خو بيا فرعوني او نمرودي تعطيل دې چې انسان پرې د ملت څخه خارجيږي او که وايي چې نور يې منم نو بيا پوښتنه کوم چې د [حَيٌّ عليم كلام وغيره] باره کې دې څه عقيده ده الله حی دی، که نه که وي نو ته ځان ته وګوره فعلا ته هم حی يې او که نه؟!

که يې نو اوس څه جواب کوئ؟ همدارنګه چې ته الله ته علم او کلام ثابتوئ نو بيا پوښتنه کوو چې دا تا ته هم ثابت دي، او که نه نو انکار خو کولی نه شي ځکه چې ته هم دغه صفات لرئ او دا تا الله سبحانه وتعالی ته هم ثابت کړل، نو اوس ووايه چې دينه تشبيه لازميږي او که نه؟ نو تا جواب وکړ چې زما حيات، علم او کلام جدا دی، او د الله تبارك وتعالی علم او حيات جدا نو همدا قاعده او عقيده د يد باره کې هم پيدا کړه چې ستا يد جدا او د الله تعالی يد جدا ده، ځکه دا قاعده ياده ساته چې په بعضې صفاتو کې قول کول دا به په ټولو صفاتو کې قول وي مثلا يو کس له يو صفت نه انکار کوي، نو دا به له ټولو منکر حسابيږي او که يو صفت مني نو په ده واجب ده چې نور ټول صفات هم قبول کړي، نو لکه څنګه چې الله تبارك وتعالی ته سمع، بصر، کلام، حيات وغيره مني نو د يد، قدم، رِجل، نزول الی سماء الدنيا استوی علی العرش وغيرها به ټول منې او بيا د صفاتو باره کې دا هم ياد ساته چې څنګه مونږ د الله سبحانه وتعالی د ذات د کيفيت نه خبر نه يو او علم يې نه لرو نو دغه شان د هغه د صفاتو کيفيت هم مونږ ته معلوم نه دی، نو له دی نه دا قاعده راوتله چې القول فی الذات كالقول فی الصفات او د اهل السنة والجماعة همدا عقيده ده چې هغوې ټول صفات د الله تبارك وتعالی منې خو څنګه چې د هغه د ذات سره لائق او مناسب وي، نو هسې د فايدې د پاره دا هم واوره چې الله حيواناتو ته هم لاسونه او پښې ورکړي، مثلا ميږی، فيل، اوښ، اس، زمری وغيره ټولو ته نو د دوی لاسونه د يو د بل سره مشابه نه دي چې دا ټول يو مخلوق دی، نو د خالق باره کې به څنګه څوك دا سوچ وکړي چې دا به په صفاتو کې د مخلوق سره يو شان وي، ابن ابی العز الحنفي رحمه الله د عقيدة الطحاويه په شرح کې د ابو حنيفه رحمه الله نه نقل کړی چې

هغه وفرمایل: لهُ يد ووجه ونفس، كما ذكر تعالى في القرآن من ذكر اليد والوجه والنفس، فهو له صفة بلا كيف، ولا يقال: إن يده قدرته ونعمته، لأن فيه إبطال الصفة.
ژباړه: الله لره لاس مخ او نفس ثابت دی لکه څنګه چې هغه په قران کې د لاس مخ او نفس باره کې ذکر کړی دي، نو پس دا د هغه تعالی صفت ده بلا کيف او نه به شي ويلی چې لاس نه يې قدرت او يا نعمت مراد دی، ځکه دې کې تکذيب د صفاتو راځي. [شرح العقيدة ٢٦٤].
بل دلته په مذکره موضوع کې د يد معنا په لاس باندې کولو ته نور قرائن او شواهد هم په احاديثو کې ذکر شوي چې هغه دې ته ترجيح ورکوي چې يد دې په خپله حقيقي معنا باندط حمل شي مثلا صحيح حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم الله تبارك وتعالی ته كف (ورغوي) او د لاس ګوتې هم ثابت کړې دي او فرمايي: فرأيته وضع كفه بين كتفي حتى وجدت برد أنامله بين ثديي.
ژباړه: پس ما وليدل ايښودل د ورغوي د هغه (الله تعالی) زما د ورو ترمنځ تر دې چې ما مونده کړه يخ والې د ګوتو د هغه د خپلو دواړو سينو ترمنځه [جامع الترمذی رقم الحديث ٣٢٣٥]
امام ترمذي رحمه الله د دې حديث متعلق فرمايي: هذا حديث حسن صحيح سألت محمد بن إسماعيل، عن هذا الحديث، فقال: هذا حديث حسن صحيح بل حديث چې په صحابو کې د متعدو صحابه کرامو څخه نقل ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: إن قلوب بني آدم كلها بين أصبعين من أصابع الرحمن، كقلب واحد يصرفه كيف يشاء [الحديث]
ژباړه: بيشکه د انسانانو زړونه ټول د رحمان ذات د ګوتو څخه په دوه ګوتو کې زړه په شان دي کوم طرف يې چې خوښه وشي اړوي يې. [صحيح مسلم كتاب القدر رقم الحديث ۴۸۰۴]
دغه ډول صحيح البخاري کې حديث دی، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي: يو حبر (د يهودو عالم) رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی ورته يې وويل : يا محمد إنا نجد: أن الله يجعل السموات على إصبع والأرضين على إصبع، والشجر على إصبع، والماء والثرى على إصبع، وسائر الخلائق على إصبع، فيقول أنا الملك، فضحك النبي صلى الله عليه وسلم حتى بدت نواجذه تصديقا لقول الحبر، ثم قرأ رسول الله صلى الله عليه وسلم: {وما قدروا الله حق قدره، والأرض جميعا قبضته يوم القيامة، والسموات مطويات بيمينه، سبحانه وتعالى عما يشركون}
ژباړه: ای محمده عليه السلام مونږ (په تورات کې) مونده کوو چې الله تبارک وتعالی به اسمانونه په يوه ګوته کيږدي او ځمکې (به ۷ واړه) په بله ګوته کيږدي او ونې به په بله ګوته کيږدي اوبه او لمده بله په بله ګوته کيږدي او نور پاتې ټول مخلوق به په بله ګوته کيږدي پس وبه فرمايي زه بادشاه يم نو پس نبي صلی الله عليه وخندل تر دې چې د ژامې مبارکې غاښونه يې ښکاره شول د پاره د تصديق کولو د خبرې د خبر بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم قراءت که دا آيت چې: {وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحٰنَهُ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُونَ} [الاية]
ژباړه: دوی هغسې د الله قدر ونه کړ لکه څنګه چې د هغه د قدر کولو حق دی (د هغه کامل قدرت خو داسې دی چې) د قيامت په ورځ به ټوله ځمکه د هغه په موټی کې وي او اسمانونه به د هغه په ښی لاس کې نغښتل شوي وي.
الله د هغه شرک څخه پاک او لوړ دی چې دوی يې کوي. [صحيح البخاري رقم الحديث ۴۸۱۱]
نو دا او د دې په شان داسې زيات نور احاديث هم شته چې هغه د معطله عقيده له بيخه ړنګوي، اوس خپله صفا معلومه شوه چې دلته په موضوع کې د مذکور يد نه مراد حقيقي يد د الله عزوجل دی.



ألفلاح والرشاد في مسائل الجهاد

څوارلسم درس: صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:
محترمو مسلمانانو ورونو او خوېندو! مونږ مخکې درس کې د لوی الله په توفيق سره د (الفلاح والرشاد په سلسله واره لړۍ) درسونو څخه په تېر شوي درس کې د {۳۷} حديث شرح شروع وه، چې بعضې برخه مخکې درس کې ذکر شوې وه او پاتې برخه به دې درس کې ذکر کړو.
ان شاء الله تعالی!

المذبح والمسلخ
لمن أنكرعذاب القبروالبرزخ
(واعوذبك من عذاب القبر)

نبي "صلی الله عليه وسلم" به د قبر د عذاب نه هميشه پناه غوښتله، د قبر د عذاب متعلق دأهل السنة والجماعة مذهب او مسلک دا دی، چې د قبر عذاب حق دی او انکار ترېنه د قران د يو شمېر آياتونو او د ګڼ شمېر احاديثو نه انکار کول دي، د قبر عذاب او راحت ته د برزخ عذاب او راحت هم وايي.

برزخ څه ته وايي؟
نو دا د عربو په ژبه کې دا د دوه ځيزونو تر منځ حاجز يعنی پردې ته وايي.
الله سبحانه وتعالی فرمايي: {وجعل بينهما برزخا}
دغه ډول فرمايي: {ومن ورائهم برزخ الى يوم يبعثون}
امام مجاهد {رحمه الله} د دې په تفسير کې فرمايي:
"هی مابين الموت والبعث "
دا د مرګ او د دوباره ژوند ترمنځ حالت او وخت دی.
امام شعبي ته وويل شو، چې "مات فلان" فلانی خو وفات شو، نو هغه ورته وفرمايل: "
"ليس هو فی دارالدنيا ولاهو فی الآخرة" دا اوس نه په دنيا او نه په اخرت کې دی، يعنی دا د دې دواړو ترمنځه په برزخ کې دی.
[التذكرة للقرطبی ص {۱۷۷}]
علامه ابن القيم {رحمه الله} فرمايي: "عذاب القبر ونعيمه اسم لعذاب البرزخ ونعيمه، وهو ما بين الدنيا والآخرة، قال تعالى: (ومن ورائهم برزخ إلى يوم يبعثون)
نو هغه دلايل چې دقران کريم نه د قبر د عذاب او په هغې کې د سوال او جواب متعلق ثابت دي هغه دا دي:
لومړی دليل:
{سورة ابراهيم "۲۷" نمبر آيت} کريمه دی، چې الله تبارک وتعالی فرمايي: {يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت في الحياة الدنيا وفي الآخرة}
ژباړه: ثابت قدمه پاتې کوي، الله هغه انسان چې ايمان يې راوړی په ثابتې وينا باندې، په ژوند د دنيا کې او په اخرت کې.
دا شوه د آيت لفظي معنا، خو د دې متعلق تفسير مرفوعا له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه نقل شوی چې هغه وفرمايل:
"نزلت في عذاب القبر، يقال له: من ربك؟ فيقول: ربي الله ونبيي محمد، فذلك قوله {يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت"
ژباړه: دا د عذاب قبرمتعلق نازل شوی، چې ويلی به شي دې (مړی ته په قبر کې)
چې ستا رب څوک دی؟
نو دابه ورته وايي:
زما رب الله دی او نبي مې محمد دی، نو دا د الله د دې وينا مقصد دی، چې فرمايي:
"يثبت الله الذين امنوا......"
د دې متعلق چې دا آيت د عذاب قبر متعلق نازل شوی، د ابن عباس، عکرمه عائشه مور او امام مجاهد رضي{ الله عنهم أجمعين} له دې ټولو نه هم دا ثابت دي چې دا آيت د قبر د عذاب باره کې نازل شوی دی.
دوهم دليل:
په اثبات د عذاب قبر هغه دا دی:
په سُوۡرَةُ المؤمن/غَافر "۴۶" نمبر آيت کريمه کې الله تبارک وتعالی فرمايي: {النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ}
ژباړه: د جهنم اور دی، چې هغه ته به سهار او ماښام (په عالم برزخ کې) هغوی وړاندې کول کيږي او کله چې د قيامت ساعت راشي، نو امر به وشي، چې د فرعون ډله (هغه) ډېر سخت عذاب ته ورننباسئ،
د دې متعلق علامه جمال الدين الغزنوي الحنفي رحمه الله په أصول الدين رساله کې فرمايي:
"عذاب القبر حق لقوله تعالى: {النار يعرضون عليها غدوا وعشيا} ثبت عرض آل فرعون على النار قبل يوم القيامة غدوا وعشيا وليس ذلك إلا عذاب القبر"
ژباړه: د قبر عذاب حق دی، په دليل د دې قول د الله تعالی چې فرمايي: اور به پيش کېدلی شي، په دوی باندې سهار او ماښام نو ثابت شو، چې فرعون به سره له خپل آل نه په اور باندې مخکې له قيامت نه سهار او ماښام پيش کېدلی شي او نه دی دغه مګر د

قبر عذاب دی. [صفحه ۲۱۵]

درېیم دلیل:

الله تبارک وتعالی د سورة نُوح "۲۵" نمبر آیت کریمه کې فرمايي: {مِّمَّا خَطِيٓـَٔتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَنصَارًا}

ژباړه:

یوازې د خپلو ګناهونو په اساس هغوی (اوبو کې) غرق کړی شول او اور ته داخل شول، بیا هغوی له الله پرته د ځان لپاره نو دلته د نوح {علیه السلام} قوم سمدستي روسته د غرقېدو نه اور ته داخل شول او دغه اور نه وو، مګر به برزخ کې ځکه جهنم ته داخلېدل نه کیږي، مګر له حساب نه وروسته په قیامت کې.

څلورم دلیل:

هغه د الله تبارک وتعالی دا قول دی، چې د {سورة طه په "۲۴" نمبر آیة} کریمه کې فرمايي: {ومن أعرض عن ذكرى فان له معيشة ضنكا} ژباړه: او څوک چې زما د وحې نه مخ واړوي، نو بې شکه د دې لپاره به تنګ د مشکلاتو، مصیبتونو، پرېشانیو او غمونو نه ډک ژوند ورپه برخه وي.

د دې تفسیر کې هم مرفوعا له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی، چې هغه فرمايي: د دې نه مراد د قبر عذاب دی.

وګورئ! [أصول السنة لابن أبی زمنین۱/۱۵٦]

دغه ډول عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: چې له دې تنګ ژوند نه مراد د قبر عذاب دی، همدا تفسیر له ابو صالح الحنفي رحمه الله نه هم نقل دی.

وګورئ! [السنة لعبدالله بن احمد ۲ / ٦۰۰ او۲/ ٦۱۲]

پنځم دلیل:

الله تبارک وتعالی په سورة (الطور ۴۷ نمبر اية) کریمه کې فرمايي: {وإن للذين ظلموا عذا با دون ذالك} ژباړه: او هغه خلکو چې هغوی ظلم (شرک) کړی هغوی ته عذاب دی، بغیر د جهنم د لوی عذاب نه.

زاذان رحمه الله فرمايي:

"عذابُ القبرِ" دا د قبر عذاب دی.

[السنة لعبدالله بن احمد ۲/٦۱۴]

شپږم دلیل:

د قرآن نه هغه د الله تبارك وتعالى دا قول دی چې په {سورةالتوبه ۱۰۱ نمبر ایت} کریمه کې فرمايي: {سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ} ژباړه: زر دی، چې موږ هغو ته دوه کرته سزا ورکړو، بیا به هغوی د ډېرې سترې سزا لپاره بېرته بوتلل شي.

په فقه الأبسط کی له امام ابوحنیفه رحمه الله نه نقل دي، چی هغه فرمايي: "من قال لا اعرف عذاب القبر فهو من الجهمية الهالكة لأنه انكر قوله تعالى {سنعذبهم مرتين} يعني عذاب القبر"

ژباړه: او څوک چې ووايي، چې زه د قبر عذاب نه پېژنم، نو دا د هلاک شوو جهمیه وو څخه دی، ځکه چې دې د الله تعالی له دې قول څخه انکار وکړو، چې فرمايي: ژباړه: "زر دی، چې موږ به دوی ته دوه ځلې عذاب ورکړو، نوله دې نه مراد د قبر عذاب دی. [ص ۱۳۷]

دې باب کې د مزید دلائلو لپاره وګورئ! (باب اثبات عذاب القبر للبيهقى تفصيلا) دغه ډول د قبر او برزخ د عذاب متعلق احادیث معنوی تواتر ته رسیدلي احادیث دي، وګوره!

[الاعتصام للشاطبى ۲/۸۴۹ التبصير للأسفرائنى ۱/٦۷]

او دا د ډېرو صحابه کرامو نه په صحیح سندونو سره نقل دی، نو د قبر د عذاب مسأله عقیدوي مسأله ده او اهل السنة والجماعة سلفو چې د عقیدې متعلق څومره تصانیف او تألیفات لیکلي، په هغې ټولو کې ذکر ده، چې دا د اهل السنة والجماعة د علامو او عقائدو او اصولو څخه ده، چې دوی به د قبر عذاب مني، البته معتزله خوارج جهمیه او روافض د قبرله عذاب نه منکر دي، په عقل سره د دې صحیح اوصریح نقل نه انکار او مخالفت کوي.

انس بن مالک رضي الله عنه ته یو کس وویل، چې دلته څه کسان دي، هغوی د قبر عذاب دروغ ګڼي، نو هغه ورته وفرمایل: "لاتجالسوهم" ژباړه: د هغوی سره مه کیني. [اعتقاد أهل السنة للالكائى ٦/۱۱۳۸]

نو د قبر د عذاب متعلق أهل السنة والجماعة دا عقیده لري، چې دا حق دی او بیا صرف کافرانو دپاره هم نه دی، بلکې دغه عذاب مؤمنانو ته هم د بعضی ګناهونو په وجهه ورکول کیږي (اعاذنا الله منه) او دا په بې شماره احادیثو کې ثابت دی، خو البته د خفت او شدت صورتونه به یې د حال او وصف موافق هر چاته خپل، خپل ورپه برخه کیږي. (اللهم أعذنا من عذاب القبر)

او دا هم چې دغه عذاب صرف د دې قبر د ډېرو پورې خاص نه دی، بلکې چرته چې هم د دې جسد وي، هلته دې ته عذاب ورکول کیږی.

مثلاً، که یو کس سمندر کې ډوب شو او ماهیانو وخوړ نو د ماهیانو خېټه یې قبر او برزخ شو، که هوا کې مرغانو وخوړو او یا په ځمکه ګیدړانو وخوړو، نو د دوی خېټې یې قبر شو او دغه عذاب روح ته ورکول کیږی، خو د جسد سره پوره اړیکه لري او جسد ته یې هم درد ورکول کیږي. مثال: دا لکه یو انسان چې ویده وي او خطرناک او د وېرې او رعب والا خوب ویني، خو چې راویخ شي، نو دا زړه یې سم درزیږي او خولې پرې راماتې وي او ګډوډ وي، نو ګوره دلته خوب روح ویني خو جسد هم مشقت درد او تکلیف محسوسوي، نو بعينيهِ د مرګ نه بعد د روح سره معامله کولو باندې دغه ډول جسد هم د دې مشاهده کوي، نو که قبر د جنت له روضو څخه روضه او باغیچه وي، نو روح او جسد دواړه خوشحال او په ارام وي (اللهم ارزقناه) او که دا قبر ورته د جهنم له کندو څخه یوکنده وي، نو بیا هم دروح سره سره جسد هم دغه درد او عذاب کې نا راحته او ناقراره وي؛ الغرض د قبر د عذاب متعلق چې څومره مسائل په کتاب اوسنت کې ثابت دی، هغه منل د دین تقاضا ده اګر که عقل سره سمون نه خوري، خو بیا به هم عقل په دې کې د نقل تابع کوي او لکه د باطلو فرقو چې مونږ مخکې ذکر کړل د عقل نه خلاف والی، به د دې سبب نه شي ګرځېدلی، چې له دې نه انکار وکړې؛ [علیهم من الله مایستحقون

شفاء الأمراض بدفع الشبهة والاعتراض

د قبر متعلق راځي، چې دا مؤمن ته د سترګو د دید موافق پراخیږي او دا ورته د جنت د قالینو نه فرش کیږي او د جنت طرف نه ورته کړکۍ کولاویږي او د هغې هواګانې او خوشبوګانې ورته راروانې وي او کافر ته تنګیږي تر دې چې د یوطرف پوښتۍ یې د بل طرف په پوښتیو کې ننوځي او د اوسپنو په ګوزارونو وهل کیږي او ذره ذره کیږي او دا ورته له اور نه فرش کیږي او نهه نوی (۹۹) ماران پرې مسلطیږي، خو مونږ تر اوسه چرته د یو قبر نه دا بالحس مشاهده نه کړه، چې هغه کې چرته چا قالین یا فراخ والی یا که کافر وي، د اور تپ داغ یا توروالی او یاهم ورته دغه لحد تنګ شوی او یا په کې دغه یاد ماران په دې شمېر لیدل شوي وي او نه عقل دا مني چې یو مقبره کې قبر دومره پراښ شي، چې د سترګو د نظر په اندازې وي، نو دا نور مړي به چرته ځي وغېره چې دا ټول د حس او عقل دواړو نه خلاف دی، نو منل یی ضروري نه دي.

الجواب بعون الله الوهاب:

هغه دا دی، چې په دې کې شک نه شته، چې زمونږ د دین او شریعت احکام دا عقل او فطرت سره بلکل موافق دي، البته که کوم امر او حکم له هغې څخه داسې وو، چې عقل د هغې ادراک نه شو کولی، نو بیا به مؤمن انسان خپل عقل د نقل تابع ګرځوي او على الرأس والعين به دغه منلو ته منقاد کیږي، نو چې کله انسان دغه عقیده ولري، نو دغه پورته اعتراض ته هیڅ فرصت نه پیدا کیږي.

دوهم جواب: دا دی، چې که زمونږ د عقل او حس نه یو خبره مخالفه وي او حال دا چې په صحیح دلیل سره هغه ثابت وي، نو بیا له هغې نه انکار هسی مکابره او له دین نه مخ اړول دي او بیاخاصکر په هاغه أمورو کې چې د غیبي حالاتو سره تعلق لري، لکه دغه د قبر عذاب وغېره نو که عقل دا نه مني، کوم اعتراض چې پورته ذکر شوی، نو بیا دا څنګه منې چې یو مړی دې خاورې شي او بیا دې راپورته شي، دا څنګه منې چې د جهنم په منځ کې شنه ونه ولاړه ده، دا څنګه منې، چې یو انسان دی په لامثاله خطرناک اور او خوټېدلو اوبو کې وي او مرګ دې ورته نه راځي، نو بس بیا باید دې هر څه باندې ایمان

راوړل پرېښودل شي(والعياذ بالله تعالى) ځکه پخوانيو مشرکانو دغه أمور مذکوره د خپلو عقلونو نه مخالف او خپل حواس يې د دې په ادراک ناکام مونده کړ.
نو د الله او د هغه د رسول نه انکار ته مجبور شول او که د قبر د عذاب منکرين دغه ذکر شوي أمور مني، نو بيا د قبر عذاب ولې نه مني، حال دا چې د دواړو کوونکی الله تبارک وتعالی دی او دغه په کتاب اوسنت کې صحيح ثابت هم دي. دريم جواب: دا دی، چې دا برزخي زنده ګي ده، د دنيا دژوند او په دې کې د ژونديو سره تعلق نه لري او نه د دې ضرورت شته، چې دوی دې دا په حواسو مشاهده کړي، بلکې دا هم د هغه امتحاناتو څخه ده، چې الله پرې خپل منوونکي او نه منوونکي راښکاره کوي، بلکې زه به دا ووايم، يو انسان دی، هغه بې غمه ويده دی، په دې خوب کې هغه ويني، چې په سختو مشکلاتو کې ګېر دی منډې وهي، دشمن يا بل کوم خطرناک مخلوق ورپسې دی، دا چغې وهي، فرياد کوي، ساه، ساه شوی، زړه يې مرئ ته راغلی، خو خوا کې يې بل کس ويخ ناست دی او هغه دغه بلکل نه ويني، نو اوس که دغه ويده کس راويخ شي او دې کس ته کيسه وکړي، نو آيا دا به يې نه مني، چې دا د عقل نه خلاف ده، نه بلکې دا دروح معامله ده، د ويخ او ژوندي کس په دې باندې اګاهي ضروري نه ده، البته چې مؤمن وي، هغه به دغه حکم ته منقاد کيږی.
بل جواب دا دی:
چې په شرعي غيبي امورو کې مونږ مکلف په دې نه يو، چې مونږ يو څه وانه ورېده او يا مو ونه ليده، نو ګويا چې بس نه به يې منو، د (يؤمنون بالغيب) درجه به څنګه حاصله شي او چې دا حاصله نه شي، نو مؤمن به څنګه شي او په څه به ايمان حاصل کړ، نو آيا مونږ پوښتنه کوو، چې کرام کاتبين دغه ډول حفظه ملائک تر اوسه چا وليدل، الله په قران کې په (سورة الأنفال "٥٠" نمبر ايت) کريمه کې فرمايي: {وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُوا ۙ الْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ} ژباړه: که چرته تا هغه حال وليدو، چې څه وقت ملايکې روح اخلي له هغه خلکو نه، چې هغوی کافران دي، چې وهي مخونه د هغوی او شاګانې د هغوی او ورته وايي، وڅکئ عذاب سوځونکی.
دغه ډول په (سورة محمد ٢٧ نمبر ايت) کريمه کې هم فرمايي: {فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ} ژباړه: نو څه حال به وي، هغه وخت چې ملائک د دوی ارواح اخلي او ګوزارونه ورکوي په ،مخونو او شاګانو باندې.
نو اوس خو د دې قران د نزول تقريباً پنځلس سوه (١٥٠٠) کاله وشو، خو تر ننه مونږ يو مشرک او کافر هم ونه ليده، چې د مرګ نه بعد د هغه په مخ يا شاه باندې د کوم ګوزار نښه او اثر ښکاره شوی وي، نو اوس به څه کوو او د دی آياتونو نه به انکار کو (والعياذ بالله نه کلا وحاشا) بلکې په الله او رسول قران او قيامت باندې ايمان لرل دا دی، چې ځان عقل او حواس به هميشه د شريعت تابع ګرځوي، نه چې له هغې مخکې - نه مخکې، مخکې کيږې او خپل عقل ته د خالق او مالک په حکم شرع او نقل باندې ترجيح او مخکې والی ورکوې دا کار د هغه چا دی، چې هغه صحيح ايمان په الله او د الله په شريعت نه لري (والعياذبالله نو لهذا) د عذاب متعلق دغه شبهات او اعتراضونه د محض جسارت او د تقدم بين يدى الله ورسوله په نتيجه کې منځ ته راغلی، چې په شريعت کې هيڅ مقام اوحيثيت نه لري، والحمد لله رب العالمين (فحدثت به مصعبا) يعنې دغه حديث مې چې د عمرو بن ميمون نه واورېده، نو بيا مې مصعب ته هم بيان کړه، نو هغه يې هم تصديق وکړو، چې او بلکل همداسې دی.

[فوائدالحديث]

[١] خپل اولاد ته دسنت اذکارو تعليم ورکول پکار دي!!
[٢] تعليم ورکولو کی اخلاص او محنت کول پکار دی!!
[٣] د هر فرض مونځ نه پس دعا کول د رسول الله سنت دي.
[٤] رسول الله (صلی الله عليه وسلم) هم د خير په طلب او د شر او ضرر په دفع کولو کې الله ته محتاج وو.
[٥] صحابوو د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) عمل دليل او قابل د اتباع ګڼلو.
[٦] د ګنده او قبيح صفاتو نه پناه غوښتل د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سنت دي.
[٧] بزدلي بې کاره او قبيح صفت دی.
[٨] ذليل عمر نه پناه غوښتل پکار دي.
[٩] دقبر عذاب حق دی.
[١٠] د قبر دعذاب نه پناه غوښتل لازم او ضروري دي، ځکه رسول (الله صلی الله عليه وسلم) پرې مداومت کړی دی.
(اللهم أعذنی ووالدی وجميع أهل بيتی وأقربائی وأُمرائی وجميع المسلمين من عذاب القبر امين ياالله العالمين).
(حديث ٣٨) (رقم الحديث ٢٨١٩)
أنس بن مالك -رضي الله عنه- قال: "كان النبي -صلى الله عليه وسلم- يقول: اللهم إني أعوذ بك من العجز والكسل, والجبن والهرم. وأعوذ بك من فتنة المحيا والممات. وأعوذ بك من عذاب القبر". ژباړه:
انس بن مالك (رضي الله عنه) وفرمايل: چې وو نبي صلی (الله عليه وسلم) چې فرمايل به يې: ای الله!
زه په تا باندې پناه نيسم، د بې وسی او سستی نه، د بزدلی او زيات بوډاوالي، او زه په تا پناه نيسم، د فتنې د ژوند او مرګ نه، او زه په تا پناه نيسم د قبر د عذاب نه.

التفكروالمراقبة بذكرالتطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري (رحمه الله) استاذ هغه مسدد البصري (رحمه الله) چې د توثيق او تعديل په باب کې د"ثقة" او "حافظ" وصف لري، پوره نوم يې دا دی:
مسدد بن مسرهد بن مرعبل بن ارندل بن سرندل بن غرندل بن ماسك بن مستورد الاسدي دی.
امام بخاري (رحمه الله) له دې نه دا حديث په سند سره د انس بن مالک (رضي الله عنه) نه نقل کوي، بيا مناسبت د حديث د ترجمة الباب سره لفظاً موافق دی، چې هغه د جبن (ډار او رعب) څخه پناه غوښتل دي او هم دا مناسبت يې په باب کې لا مخکې ذکر شوی، حديث سره هم دی. والله اعلم.

إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

كان النبى صلى الله عليه وسلم، دلته (كان) دا ستمرار لپاره ده، يعنې اکثرا به يې دا دعا لوستله، د ابوذر په نسخه کې د "نبي" د لفظ په ځای "رسول الله صلى الله عليه وسلم" ذکر شوی (من العجز) دا داسې ناتوانی او پاتې راتلو ته وايي، چې د انسان طاقت او قدرة بالكلية ختم شي. (من الكسل) دا هغه سستي او لټ والي او بې همتئ ته ويلی شي، چې انسان وسه او توان د يو کار لري، خو ليکن مشقت نه د ځان بچ کولو او اسانی لاس ته راوړلو لپاره هدف او مقصود پريږدي. (الجبن) د دې معنا مخکې ذکر شوې، خلاصه دا چې دا دې ته وايي، چې په جنګ کې د ډار او بزدلی د وجهې نه جنګ ته نه ورمخکې کيدل. (والهرم) دا د عمر هغه اندازه ډېروالی دی، چې اندامونه د انسان له قوت او توان څخه وغورځيږي، نو بيا انسان د رب عبادت او دغه ډول خپل خدمت نه شي کولای، نو لهذا د دې نه يې هم پناه وغوښته. (وأعوذبک من فتنة المحيا)
(محيا) دا مصدر ميمي دی، ژوند ته ويلی شي يعنې؛
ای الله! زه به تا پناه نيسم، د ژوند د فتنو څخه يعنې هسې نه چې د دنيا دغه خوند او زينت زما اخرت خراب نه کړي او په دې کې مې مصروف والی دا خرت دغم څخه غافل نه کړي، د الله نبي که څه هم الله تبارک وتعالی له داسې حوادثو څخه محفوظ ساتلی، خو اصل کې دې کې يو اظهار د کاملې بنده ګی او احتياج د نبي (صلى الله عليه وسلم) دی، الله تبارک وتعالی ته او هم دې کې تعليم دی امت ته د أدعيه او اذکارو.
علامه قسطلانی (رحمه الله) فرمايي: "وقد قال -صلى الله عليه وسلم- يتعوذ من جميع ما ذكر تشريعا لأمته ليبين لهم المهم من الأدعية"
(والممات) دا مرګ ته وايي او د دې

نه مراد د زنکدن په وخت کې شیطان د تخبط نه ساتنه او امان غوښتل دي او دغه ډول قبر کې د نکیر او منکر په سوالونو کې د جواب توفیق غوښتل او په هغې کې د پاتې او ناکام راتلو نه پناه غوښتل او د عذاب قبر نه پناه غوښتل ټولو ته شامل دي.

(وأعوذبک من عذاب القبر) د دې شرح مخکې حدیث کې ذکر شوې.
\

فوائدالحدیث

د دې حدیث فواید، د مخکې حدیث په فوائدو کې ذکر شوې.

فلیراجعها من یشاء

-۲۶ باب من حدث بمشاهده في الحرب

ژباړه: باب ثابت دی، په بیان د هغه چا کې چې هغه بیان کړي، خپلې هغه کارنامې چې په جنګ کې یې کړې دي.

حصول الأجروالثواب بتشریح الکلمات مافی ترجمةالباب

دلته هم د نورو بابونو غوندې د (باب) د کلیمې نه مخکې (هذا) مقدر دی، بیا له (باب) نه بعد(فی بیان) هم مقدر دی، یعني، هذا باب فی بیان من حدث.... (مشاهد) جمع د (مشهد) ده، مشهد د ظرف صیغه ده، د حاضریدو ځای او مکان ته ویلی شي، یعني هغه ځای چې دا په هغې کې جنګ ته حاضر شوی وي، نو اوس دا ترجمة الباب داسې لوستل په کار دي: (هذاباب فی بیان من حدّث بمشاهده فی الحرب)

بیا غرض د امام بخاري (رحمه الله) د دې ترجمة الباب نه هغه دا دی، چې که یو کس په اسلام کې د اسلام د دفاع او علو لپاره کومې سختې او تکالیف برداشت کړې وي او جهادونه یې کړي وي او دا نورو ته ذکر کوي، د دې لپاره چې نورخلک هم دې طرف ته شوقمند شي او دعوت شي او ریاء او سُمعة یې غرض او مقصود نه وي، نو بیا دا جائز دي او که محض د خپلې بهادرئ او شجاعت تذکره یې غرض وي او فخر یې مقصود وي، نو بیا دا کار حرام ریا او سمعة دی، چې د دې نه په کتاب او سنت کې سخته منع ذکر شوې.

امام بخاري (رحمه الله) په دې دعوه دوه دلایله ذکر کوي، یو د سعد بن أبی وقاص رضي (الله عنه) قول چې دلته معلق په دی الفاظو سره ذکر کړی فرمایي: قاله أبو عثمان عن سعد.

او بیا یې دغه روایت په کتاب المغازي کې موصول په رقم (۴۳۲۶) باندې ذکر کړی، یاده دې وي چې دلته د ابو عثمان نه مراد ابو عثمان، عبدالرحمان النهدی رحمه الله او د سعد نه مراد بن أبی وقاص (رضي الله عنه) دی.

مطرالرحمة والسحاب بذکرمناسبة ترجمة الباب مع الکتاب

دا باب د کتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمیر په اعتبار سره (۲۶) شپږ ویشتم نمبر باب دی.

امام بخاري (رحمه الله) په دې کې د سعد بن أبی وقاص (رضي الله عنه روایت تعلیقا او د طلحه بن عبیدالله (رضي الله عنهما) حدیث موصولا ذکر کوي، بیا مناسبت د ترجمة الباب هغه د کتاب الجهاد سره موافق دی، په دې ډول چې کتاب الجهاد کې د جهاد متعلق د احادیثو د راوړلو التزام شوی او دلته ترجمة الباب کې جهاد ته د ترغیب او دعوت په نیت د قتال او بهادرئ ذکر کول جائز ګرځول شوي دي.

والله أعلم

(حدیث ۳۹) (رقم الحدیث ۲۸۲۰)

عن السائب بن یزید قال: ” صحبت طلحة بن عبید الله وسعدا والمقداد بن الأسود وعبد الرحمن بن عوف -رضي الله عنهم-، فما سمعت أحدا منهم یحدث عن رسول الله -صلی الله علیه وسلم- إلا أني سمعت طلحة یحدث عن یوم أحد“.

ژباړه: سائب بن یزید نه روایت دی فرمایي:

چې ما د طلحه بن عبیدالله، سعد بن ابی وقاص، مقداد بن اسود او د عبدالرحمن بن عوف (رضی الله عنهم) سره وخت تېر کړی، ما په دوی کې د یو نه هم نه دي اورېدلي، چې هغوی د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ملګرتیا کې د جنګونو د کیسو بیان کړی وي، مګرصرف طلحه به د أحد د جنګ متعلق کیسې کولې.

التفکروالمراقبة في ذکرالتطبیق والمناسبة

دې حدیث کې د امام بخاري (رحمه الله) شیخ او استاذ هغه ابو رجاء سعید بن قتیبة الثقفی البغلاني (رحمه الله) دی، چې د"ثقة ثبت" په صفاتو موصوف امام اومحدث دی، د دې نه امام بخاري دغه حدیث په سند سره له طلحه بن عبیدالله (رضي الله عنه) څخه ذکر کوي، بیا مناسبت د حدیث د ترجمة الباب سره موافقت په دې الفاظو کې لري چې: (الا انی سمعت طلحة یحدث عن یوم أحد) والله أعلم.

إغاثة المغیث في ذکر شرح الحدیث

(صحبت) دا ملګرتیا او چاسره وخت تېرولو او اوسېدلو ته وایي.

(طلحة بن عبید الله) عبید په پېش د عین سره مصغر دی او دا د "مُبشّرین بالجنة" والاوو څخه یو دی.

(وَ) دلته دا واو عاطفه دی، مخکې صحبت به دلته هم مراد وي، یعني و (صحبت سعدا) چې له دې نه مراد هغه ابن أبي وقاص (رضي الله عنه) دی، چې دا هم د "مُبشّرین بالجنة "والاوو څخه یو دی. (وَ) او دلته هم واو عاطفه دی، یعني (وصحبتالمقداد بن الأسود) رضي الله عنه (و صحبت عبد الرحمن بن عوف (رضي الله عنه) او دا هم د"مُبشّرین بالجنة "والاوو څخه یو دی، چې دلته راوي فرمایي: ما د دې څلور واړه مذکوره صحابؤ کرامو سره وخت تېر کړی.

(فما سمعت أحدا منهم) نو ما په دوی کې له یو څخه هم نه دي

اوريدلي،

(يحدث عن) چې حديث يې بيان کړی وي، د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نه شارحين ليکي دا يې چې نه بيانول، نو د دې وجهې نه چې (خشية التزايد والنقصان والدخول في الوعيد) د دې نه يريدل، چې مونږ نه په بيان کې زيادت يا نقصان واقع نه شي او په هغه وعيد کې داخل نه شو، چې دې باب کې ذکر دی. [کمافي هدي الساري وشرح ابن بطال]

او د دې عدم بيان نه مراد دا هم کېدی شي، چې مراد له دې نه د دوی خپلې هغه شخصي کار نامې او حماسې وې، چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سره يې په جهادونو کې کړې وې، هغه به يې نه بيانولې د وجهې د دې نه چې رياء او سمعة واقع نه شي، ځکه د هغوی دا عادت نه وو، لکه زمونږ د زماني چې د لږ معمولي عبادت نه هم اعلانونه کوي، ها البته که کله به دعوت ضرورت او تحريضي مقام ورته ښکاره شو، نو بيا به يې دا واقعات بيانول لکه دا د ترجمة الباب نه هم معلوميږي، چې د دې عدم بيان وجه هم دا وه، ځکه ګڼې احاديث خو د دې ټولو صحابؤ نه چې دلته ذکر شوي نقل شوي دي او ماته هم دا مقصود اولی او د ترجمة الباب سره موافق ښکاري. والله اعلم

(إلا أني سمعت طلحة) بن‌عبيد الله (يحدث عن يوم أحد) يعنې چې د أحد په ورځ چې دې کومه بهادري او کارنامه تر سره کړې وه او د ثابت قدمۍ کوم اظهار يې کړی وو، نو هغه به يې بيانول البته دلته د هغې بيان نه دی ذکر شوی. حافظ بن حجر (رحمه الله) د دې متعلق فرمايي: "لم يبين ما حدث به من ذلك وقد أخرج أبو يعلى من طريق يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيد عمن حدثه عن طلحة أنه ظاهر بين درعين"

ژباړه: دلته امام بخاري (رحمه الله) دا نه ده واضحه کړې، چې طلحه (رضي الله عنه) د څه بيان کړی، خو ابو يعلی د يزيد بن خصيفة نه او هغه د سائب بن يزيد او هغه له هغه چانه چې هغه د طلحه نه نقل کړی، چې طلحه د احد (د غزاء) په ورځ په دوه زغرو سره مبارزه کړې وه

[فتح الباری ٣٦/٦].

فوائد الحديث

[١] حديث دليل دی، په فضيلت د جهاد.

[٢] صحابؤ کرامو به د خپل جهاد او شجاعت تذکرې خلکو ته نه کولې.

[٣] که دعوتي او ترغيبي ضرورت راشي، نو انسان د خپل صالح عمل تذکره کولی شي.

باب وجوب النفير، وما يجب من الجهاد والنية

ژباړه: باب دی، په بيان د واجب والي د نفير کې او په هغه څه کې چې واجب ګرځي د جهاد او نيت څخه:

حصول الأجروالثواب بتشريح الكلمات مافي ترجمة اللباب

(نفير) د نون په زبر سره دا د يو مکان نه بل مکان ته جدا کېدو او وتلو ته وايي. دلته ترينه د کفارو سره د قتال لپاره وتل مراد دي.

(ومايجب من الجهاد) دا عطف دی، په وجوب النفير باندې او مراد دا دی. يعنې (وفی بيان قدرالواجب من الجهاد) يعنې او دا باب په بيان د هغې اندازې کې چې واجب دی، له جهاد څخه او (والنية) دا عطف دی، په مخکې جمله، نو ټول ترجمة الباب کلمات به داسې لوستی شو (هذا باب في بيان وجوب النفير وفي بيان قدرالواجب من الجهاد وفي بيان مشروعية النية في ذلك) (وقول الله عز وجل) دا مجرور دی، عطف دی په ما قبل(وجوب النفير) باندې او بعضو نسخو کې(قوله تعالى) ذکر دی، فقط يعنې او باب دی په بيان دالله تعالی د دې قول کې چې فرمايي : {انفروا خفافا وثقالا، وجاهدوا بأموالكم وأنفسكم في سبيل الله ذلكم خير لكم إن كنتم تعلمون، لو كان عرضا قريبا، وسفرا قاصدا لاتبعوك، ولكن بعدت عليهم الشقة وسيحلفون بالله} [الآية] ژباړه: ووځئ سپک او درانه او جهاد وکړئ، په لاره د الله کې دا تاسو ته وايم غوره دی، ستاسو لپاره که چېرته تاسو پوهيږئ او که چېرته وي سامان (دګټې) نږدې (حاصليدونکی) او سفر اسانه نو خامخا به يی(بيا) ستا تابعداري کړې وی (په دې نفير کې) لېکن سخته (لره تمامه) شوه، په دوی باندې دغه مسافه (د سفر) او زر دی، چې قسمونه به وکړي (تا ته) په الله باندې (چې کله ته دوی ته واپس شې) ......الآية

د سفيان ثوري (رحمه الله) نه نقل دي، چې دا ايت د سورة البراة څخه ړومبی نازل شوی دی، [عمدة القاری ١٢٠/١٤وقوله] دا مجرور دی، ځکه عطف دی په ما قبل :يعنې او باب دی په بيان دالله تعالی د دې وينا کې چې فرمايي: {يا أيها الذين آمنوا ما لكم إذا قيل لكم انفروا في سبيل الله اثاقلتم إلى الأرض، أرضيتم بالحياة الدنيا من الآخرة}

ژباړه: ای د ايمان والاوو څه شوي په تاسو، چې کله وويل شي تاسو ته چې ووځئ (جهاد ته) په لاره دالله کې، نو درانه شئ د ځمکې طرف ته آيا تاسو راضي يئ، په ژوند د دنيا په مقابل د ژوند د اخرت کې .

إلى قوله يعنې دغه ايت تر دې ځايه دی، چې فرمايي {على كل شيء قدير}

ژباړه: الله په هرڅه قدرت لرونکی دی.

تر دې ځايه امام بخاري (رحمه الله) په ترجمة الباب کې د قران آياتونه راوړل، اوس ورپسې دسورة النساء د (٧١) نمبر ايت کريمه کې د (ثبات) وضاحت د ابن عباس (رضي الله عنهما) نه ذکر کوي. فرمايي:

يذكر عن ابن عباس: {انفروا ثبات} (سرايا متفرقين) او دابن عباس نه ذکر کېدلی شي، چې د ثبات نه مراد جدا، جدا سريې (لښکرې) مراد ديو د ابن عباس (رضي الله عنهما) دغه معلق روايت امام طبري موصول ذکر کړی دی، بيا د ثبات وضاحت کوي او فرمايي يقال:

"أحد الثبات ثبة" ويل کيږي، چې واحد د ثبات ثبة راځي.

مطرالرحمة والسحاب بذكرمناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب دصحيح البخاري د ابوابو د عدد او شمېرې په اعتبار اوه ويشتم (٢٧) نمبر باب دی، امام بخاري (رحمه الله) په دې کې د ابن عباس (رضي الله) دغه يو حديث ذکر کوي، دغه حديث يې مخکې هم په باب فضل الجهاد کې ذکر کړی دی. بيا مناسبة د باب هغه د کتاب الجهاد سره په باب وجوب النفير کې دی، چې دلالت کوی، په وجوب او فرضيت د جهاد.

السهولة والتيسير في فهم بعض مشاكل التفسير

دلته په آياتونو کې بعضې داسې کليمې ذکر شوي چې معنی کې يې مشکل دی، نو د دې لپاره چې د دې په فهم کې اساني او سهولت واقع شي، نو دغه بحث ته ضرورت راغی، راځو او په ترجمة الباب کې په ذکر شوي اول آيت کې د (خفافا) او(ثقالا) معنا ذکر کوو، خو له دې نه مخکې دا هم ذهن کې کينوئ، چې دغه خفافا اوثقالا ته چې نصب ورکړ شوی، نو دا بنابرحاليت دی، چې په (انفروا .....) کې د مستتر ضمير څخه حال دی اوس راځو معنا ته؛

(١) ابوطلحه (رضي الله عنه)

د (خفافا) نه مراد شبابيت (ځواني) او د (ثقالا) نه مراد کهولت (بوډاوالی) مراد دی، نو په دې اعتبار سره معنی دا شوه، چې ځوانان او بوډاګان ټول ووځئ!

(٢) امام مجاهد (رحمه الله) بيا له دې سره مالداري او غربت هم مراد کړی، يعنې ځوانان، بوډاګان، مالدار او غريبانان ټول ووځئ!

(٣) حسن بصري (رحمه الله) د دې سره عسر (سختي) او يسر (اساني) هم مراد کړي، يعنې ځوانان او زاړه دې که سختۍ کې وي او که اسانۍ کې، نو دوی دې ووځي!

(٤) ابن عباس (رضي الله عنه) بيا له دې سره نشاط(خوښ) او غير نشاط (ناخوښ) هم مراد کړي، يعنې دغه ځوانان او زاړه که خوشحال وي او که خفه، نو په هرحال کې دې ووځي!

(٥) حکم بن عتيبه (رحمه الله) ترې نه فارغ (غير مشاغيل) او مصروف (مشاغيل) مراد کړي، يعنی دغه ځوانان او بوډاګان که فارغ وي او که مصروف وي، د دې باوجود دې هم ووځي!

دغه ډول د دې متعلق دا هم ويل شوي، چې ناواده، واده لرونکي، صحت لرونکي او مريضان، اسلحه

لرونکي او غیر اسلحي والا، سواره او پیاده وغیره په هرحال کې دې ووځي!

چې دا ټول دلالت کوی، چې کله نفیر اعلان شي، نو بیا جهاد په هر چالازم او فرض ګرځي.

والله اعلم

او د (عرضا) نه مراد غنیمت او مال مراد دی (قریبا) یې صفت دی، یعنی که دغه مال د غنیمت لاس ته راوړنه اسانه او نزدې وي (سفرا قاصدا) یعني سفر اسان وي (الشقة) سخت والي ته ویلی شي، یعنی دغه مسافه د سفر په دوی لرې تمامه شوې، نو سخته شوې ده ورته

او دا یاتونه د تبوک دغزا په وخت کې د منافقانو متعلق نازل شوي دي.

نو دلیل دی، چې د فرضي جهاد نه د دنیا د راحت د حصول لپاره تخلف کول دا نفاق دی، والعیاذ بالله والله اعلم ترجمة الباب کې ذکرشوی.

دوهم ایت کې چې (إثاقلتم) ذکر دی، نو د هغې لفظي وضاحت دا دی، چې دا په اصل کی تثاقلتم وو، نوتا په ثا کې مدغم شوه، نو ثا ساکنة پاتې شوه، نو همزه وصلي یې راوړه د پاره د خفة النطق او معنا یې دا ده، تاسو مایل شوئ د دنیا او د هغې د لذت او رونق طرف ته په مقابل د جهاد کې، نو مطلب ښکاره دی، کوم چې په ایت کې واضح ذکر شوی، چې د جهاد په ځای تاسو د دنیا لذتونو ته ترجیح ورکوئ او حال دا چې ددنیا ټول ژوند او د هغی مال متاع او زینت هغه د اخرت د راحتونو اونعمتونو مقابل کې ډېر کم او بې ارزښته دی، چې دا هم صریح دلیل دی، په فضیلة د جهاد.

(حدیث ۴۰)(رقم الحدیث ۲۷۲۱) - عن ابن عباس رضي الله عنهما: أن النبي صلى الله عليه وسلم قال يوم الفتح: لا هجرة بعد الفتح ولكن جهاد ونية، وإذا استنفرتم فانفروا"

ژباړه: دابن عباس (رضي الله عنهما) نه روایت دی، چې بې شکه نبي (صلى الله عليه وسلم) د فتح مکه په ورځ وفرمایل: د فتح مکه نه بعد هجرت نه شته لیکن جهاد کول او نیت کول دي او چې کله درنه د نفیر مطالبه وکړی شوه، نو نفیر ته ووځئ.

التفكروالمراقبة فى ذكرالتطبيق والمناسبة

په دې حدیث کې د امام بخاري (رحمه الله) شیخ او استاذ هغه ابوحفص عمرو بن علي الباهلي البصري (رحمه الله) دی، چې د تعدیل او توثیق په باب کې د "ثقةٌ حافظٌ" په صفاتو موصوف دی، د دې نه بخاري (رحمه الله) دغه حدیث په سند سره د ابن عباس (رضي الله عنهما) نه ذکر کوي، بیا مناسبة د حدیث د ترجمةالباب سره په دې ډول دی، چې هغې کې د نفیر د وجوب دعوې شوي او په حدیث کې یی پرې د "فانفروا" الفاظ دلیل راوړی دی.

والله اعلم .

إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

د دې حدیث د الفاظو شرح او فوائد په باب فضل الجهاد کې د دوهم حدیث په شرح او فوایدو کې د "الفائدة الكِبرة فى معنا الهجرة" او دغه ډول د "العبرة فى بقاء الهجرة "دوه فصلونو کې تېر شوي، دوباره ذکر کول به یې دلته د قبیلې د تکرار څخه وي البته دا یو وضاحت ضرور دی، چی وشي او هغه دا چې

هغه اسباب چې په یو مکلف باندې جهاد فرض عین ګرځوي، هغه کوم- کوم دي،

نو هغه درې صورته دي:

اول صورت: چې کله د قتال په صف کې وي او جنګ شروع شي، نو بیا له دې جنګ او قتال نه تخلف کول او شا ګرځول بغیر د حربي تخنیکاتو او ستراتیژي ضرورت نه ګبیره ګناه ده.

دلیل دا دی: الله سبحانه وتعالی فرمایي: {ياأيها الذين آمنوا اذالقيتم الذين كفروا زحفا فلاتولوهم الأدبار.....}

ژباړه: ای د ایمان والاؤ، چې کله تاسو کافرو سره د جنګ په وخت کې مخامخ شئ، نو بیا هغوی ته شاګانې مه ګرځوئ.

نو دا دلیل دی، چې دغه وخت که دغه جهاد فرض کفایي هم وي، خو چې ته په صف کې یې او دا جنګ شروع شي، نو بیا فرض عین ګرځي.

دویم صورت: چې کله کفار دمسلمانانو په ښار او منطقه باندې حمله وکړي، نو بیا هم په هر مکلف دغه جهاد فرض عین ګرځي او دلیل په دې باندې هغه اجماع قاطبه دامة مسلمه ده او دا بحث مقدمه کې تیر شوي والحمد لله رب العالمین!

دریم صورت: هغه دا دی، چې کوم په دې حدیث کې ذکر شوی او هغه دا چې کله امام او خلیفه او یا د هغه نائب د نفیر اعلان وکړ، نو بیا هم په هر مکلف دغه مطالبه منل او جهاد ته وتل فرض عین او تخلف او قعود له دې جهاد نه کبیره ګناه ده!

سوال ځواب

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! په دې ګڼه کې مو هم ستاسې ځينې رالېږلې پوښتنې ځواب کړې دي ،که تاسې نورې ورته پوښتنې لرئ نو زموږ په ادرسونو يې موږ ته راواستوئ

سوال: جهاد دکومو اهدافو او حکمتونو لپاره مشروع او فرض شوی دی ؟

جواب: د الله په لاره کې د جهاد حکمتونه او اهداف ډير زيات دي خو بعضی يې په لاندی ډول دي :

١ـ د الله تعالی په ځمکه د هغه دين او شريعت قائمول .

2ـ د الله تعالی د ځمکې نه شرک او فساد ختمول الله تعالی فرمايي: [وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ انتَهَوْا فَلَا عُدْوَٰنَ إِلَّا عَلَى الظَّٰلِمِينَ [سُورَةُ البَقَرَة : 193]

ژباړه: او تاسي له هغو سره وجنګيږئ تر دې پورې چې فتنه پاته نشي او دين د الله لپاره شي، بيا که هغوی لاس په سر شول، نو وپوهيږئ چې له ظالمانو پرته د بل چا په ضد لاس غځول روا نه دي.

3ـ خلکو ته هدايت کيدل او د دعوت د مخی څخه خنډونه ختميدل .

4ـ د پنځو ضرورتونو حفاظت کيدل چې دين، نفس، عزت، عقل او مال دی.

5ـ د الله تعالی په ځمکه د اسلام او مسلمانانو قدرت او غلبه راتلل .

6ـ د الولاء والبراء عقيدی عملي نمونه پيش کول چې د موحدينو سره به محبت او مدد کيږي او د کافرانو سره به دښمني او جنګ کيږي .

7ـ د الله تعالی په ځمکه حق ته غلبه ورکول او د ظلم او فساد ختمول او مخه يې نيول الله فرمايي:[وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَٰلَمِينَ] [سُورَةُ البَقَرَة : 251]

ژباړه: که الله تعالی د يوې ډلي مخنيوی په بلې ډلي نه کولای، نو د ځمکی نظام به ګډوډ شوی وای؛ خو پر نړيوالو د الله لوی فضل دی (چې هغه په دغه ډول د فساد د مخنيوي لاري چاري برابروي).

8ـ د مسلمانانو د عزت او حريم ساتنه کول او د کمزورو مسلمانانو مدد کول الله تعالی فرمايي: [وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَٰنِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا [سُورَةُ النِّسَاء : 75]

ژباړه: اخر څه دليل دی، چې تاسي د الله په لاره کښي د هغو بېوسو نارينه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګيږئ چې کمزوري کړای شوي، تر فشار لاندي نيول شويدي او فريادونه کوي چې: «اې زمونږ ربه، مونږ له دې وطنه چې اوسيدونکي يې ظالمان دي وباسه؛ او له خپل لوري څخه زموږ کوم سرپرست او مرستندوی پيدا کړه.»

9ـ د منافقانو او مؤمنانو جدا کيدل او ښکاره کيدل الله تعالی فرمايي:[مَّا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِى مِن رُّسُلِهِ مَن يَشَآءُ فَـَٔامِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا

فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ [سُورَةُ آل عِمـرَان : 179]

ژباړه: الله به مؤمنان په دې حالت کې هېڅکله پرېنږدي چې تاسي اوس په کښې ياست؛ هغه به سپېڅلي خلك له ناپاکو خلکو څخه بېل کړي؛ خو د الله داسي عادت نه دی چې تاسي په غيبو خبر کړي؛ د پټو خبرو د ښوونې لپاره چې د هغه له خپلو رسولانو څخه چا ته خوښه شي، ټاکي يې. له دې امله (د پټو چارو په اړه) پر الله او پيغمبر ايمان ولرئ. که تاسي د ايمان او له الله د وېرېدو چلن غوره کړئ، نو لوی اجر به در په برخه شي.

د جهاد د وجوب شرطونه:

سوال: جهاد په چا واجب دی؟

جواب: جهاد په هغه چا واجب دی چې شپږ شرطونه پکې موجود شي چې هغه په لاندې ډول دي :

١ـ اسلام: ځکه چې د کافر يو عمل هم نه قبليږي.

الله تعالى فرمايي: [يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَـٰرَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ [10] تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَـٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ] [سورة الصف :11]

ژباړه: ای د ايمان والاؤ ايا زه تاسو ته داسی تجارت ونه ښايم چې تاسو ته د دردناک عذاب څخه نجات درکړي تاسو به ايمان راوړئ په الله او په رسول د هغه او جهاد به کوئ د الله په لاره کې پخپلو مالونو او ځانونو سره دا ستاسو لپاره ډير غوره دي که چيرته تاسو پوهيږئ.

نو په دی ايت کې يې ايمان مخکې کړو د جهاد څخه.

او په حديث کې نقل دي:عن البراءبن عازب رضي الله عنه قال: أَتَى النبيَّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ رَجُلٌ مُقَنَّعٌ بالحَدِيدِ، فَقالَ: يا رَسولَ اللَّهِ أُقَاتِلُ أوْ أُسْلِمُ؟ قالَ: أسْلِمْ، ثُمَّ قاتِلْ، فأسْلَمَ، ثُمَّ قاتَلَ، فَقُتِلَ، فَقالَ رَسولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ: عَمِلَ قَلِيلًا وأُجِرَ كَثِيرًا [صحيح البخاري]

ژباړه: د براء بن عازب رضی الله عنه څخه نقل دي هغه فرمايي:

چې نبي صلی الله عليه وسلم ته يو سړی راغی چې د وسپنې زغره يې أچولې وه نو وی ويل: ای د الله رسول صلی الله عليه وسلم جهاد ته لاړ شم او که اسلام راوړم؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: اسلام راوړه بيا جهاد ته لاړ شه نو هغه سړي اسلام راوړو بيا جهاد ته لاړو او شهيد شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: لګ عمل يې وکړو او ډير أجر ورته ورکړی شو.

2ـ بلوغ :په ماشوم باندی جهاد فرض نه دی.

دليل پرې حديث د ابن عمر رضی الله عنهما دی چې فرمايي: [عُرِضْتُ على النبيِّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ يومَ أُحدٍ وأنا ابنُ أربعَ عشرةَ فلم يُجزْني في المقاتلةِ.....][رواه مسلم]

ژباړه: زه په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندی په جنګ أحد کې پيش شوم چې زه څوارلس کلن وم نو ما ته يې جهاد ته د تللو اجازه رانکړه.

3ـ عقل: په ليوني باندی هم جهاد نشته .

دليل: حديث کې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: [رُفِعَ القَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ، عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ، وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَعْقِلَ] [ابوداود رقم: 4392]

ژباړه: قلم د تکليف د درى کسانو څخه اوچت شوی دی د ويده انسان څخه تر دی چې راويښ شي او د ماشوم څخه تر دی چې بالغ شي او د ليونی څخه تر دی چې پوه شي.

4ـ الحرية: يعني آزاد به وي نو په غلام جهاد نشته .

دليل: حديث د جابر رضى الله عنه کې نقل دي: أنَّ عبدًا قدِم على النَّبيِّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم فبايعه على الجهادِ والإسلامِ ، فقدِم صاحبُه فأخبره أنَّه مملوكٌ ، فاشتراه صلَّى اللهُ عليه وسلَّم منه بعبدَيْن ، فكان بعد ذلك إذا أتاه من لا يعرِفُه ليبايعَه ، سأله أحرٌّ هو أم عبدٌ ، فإن قال حرٌّ بايعه على الإسلامِ والجهادِ ، وإن قال مملوكٌ بايعه على الإسلامِ دون الجهادِ . [أخرجه مسلم في صحيحه : 1602]

ژباړه: يقينا يو غلام نبي عليه السلام ته راغی نو په جهاد او په اسلام يې بيعت وکړو نو د غلام مالک راغی او نبي عليه السلام ته يې خبر ورکړو چې دا خو غلام دی نو بيا ترينه نبي عليه السلام دغه غلام د دوو غلامانو په بدل کې واخستو نو ددينه روسته چې به نبي عليه السلام ته داسی څوک د بيعت لپاره راتلو چې هغی به نه پيژندلو نو پوښتنه به يې ترينه کوله چې آزاد يې که غلام يې؟ نو که ورته به وويل شو چې آزاد يم نو په اسلام او جهاد دواړو به يې ترينه بيعت واخيست او که وبه يې ويل چې غلام يم نو يواځې په اسلام به يې ترينه بيعت اخيستلو نه په جهاد.

5ـ الذكورة :نارينه به وي نو په زنانه جهاد فرض نه دی.

دليل: عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتِ : اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجِهَادِ، فَقَالَ :"جِهَادُكُنَّ الْحَجُّ " [أخرجه البخاري 2875]

ژباړه: د عائشة رضى الله عنها څخه نقل دي هغه فرمايي چې ما د نبي عليه السلام نه د جهاد اجازه وغوښتله نو نبي عليه السلام وفرمايل: ستاسو جهاد حج کول دي.

6ـ الاستطاعة المالية والبدنية: مالي او بدني وس به لري نو په بې وسه او عاجز انسان باندی جهاد نشته.

دليل: الله تعالى فرمايي:[لَّيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِن سَبِيلٍ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ] [سورة التوبة:91]

ژباړه: نشته په کمزورو او نه په مريضانو او نه په هغه کسانو چې نه مومي هغه شی چې خرچ يې کړي څه ګناه ـ جهاد ته په نه وتلو ـ کله چې اخلاص کوي الله او د هغه رسول ته نشته په احسان کونکو باندی هيڅ ملامتيا او الله تعالى ښښنه کونکي رحم کونکې دی.

سوال: کله چې د جهاد او د حج په فريضه کې تعارض راشي نو کوم يو به مخکې کولې شي؟

جواب: ددی لپاره دری حالته دي :

١ـ کله چې جهاد فرض عين وي :لکه اوسنی زمانه کې نو جهاد به په حج باندی مخکې وي [مشارع الاشواق : 1/205 والسيل الجرار2/185]

2ـ کله چې جهاد فرض کفايي وي او حج نفلي وي :نو جهاد به په حج باندی مخکې وي ځکه چې جهاد أفضل دی د حج نه او د جهاد فائده عامه ده او د حج فائده خاص ده.[المغني: 13/10 مجموع الفتاوی: 28/353]

3ـ کله چې جهاد فرض کفايي وي او حج فرض عين وي: نو پدی صورت کې به حج مخکې وي. [المغني: 13/10 وغيره]

سوال: د کوم کافر وژل جائز دي او د کوم جائز نه دي؟

جواب: په جهاد کې د هر هغه کافر وژل جائز دي چې حربي وي او د جنګ توان او طاقت لري او د اسلام نه خبر وي [أنظر المبسوط 5/10 ـ وبدائع الصنائع 6/46 ـ والمغني 13/179]

د حربي کافر تعريف :

د حربي کافر تعريف :[كل كافر ليس له مع المسلمين عهد أو ذمة أو أمان] دا هر هغه کافر ته وايي چې مسلمانانو سره يې د صلح يا د امن او يا د جزيې ورکولو تړون او وعده نوي شوی نو په دی معنا باندی ټول کافران حربيان دي چې په دوی کې به د نظاميانو او غير نظاميانو يا د عوامو تميز نه کيږي بلکې د ټولو حربي کافرانو وژل او مال غنيمت کول يې جائز دي که جنګ ته حاضر شوی وي او که نه سوا د هغه کافر نه چې مستأمن وي يا ذمي او يا معاهد وي ددوی په قتل دليل: الله تعالی فرمايي:[فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ.[سورة التوبة: 5]

ژباړه : پس ووژنئ مشرکانو لره کوم ځائ کې چې مونده کړئ دوی لره او ونيسئ دوی لره او راګير کړئ دوی لره او کينئ دوی ته په هر مور چل کې پس که چيرته دوی توبه وويستله او لمونځ يې قائم کړو او زکات يې ورکړو نو لاره ورته خالي کړئ يقينا الله بښنه کوونکې رحم کوونکې دی.

هغه کافر چې قتلول يې جائز نه دي:

سوال: د کومو کافرانو وژل جائز ندی ؟

جواب: په قران او حديث کې د بعضی کافرانو د قتلولو نه منع راغلې ده چې هغه دادي :

١ـ ماشوم

2ـ ښځه

3ـ شيخ فاني

4ـ شل

5ـ ړوند

6ـ ليوني

7ـ راهب

8 أجير يعني مزدور .

اول دليل: عن راشد بن سعد قال : نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن قتل النساء والذرية والشيخ الكبير الذي لا حراك به . [رواه ابن ابي شيبه في مصنفه]

ژباړه: راشد بن سعد نه نقل دي هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم منع کړی ده د وژلو د زنانه او ماشومانو نه او د هغه سپينګيري دوژلو نه چې هيڅ حرکت په کې نه وي.

دويم دليل: وعن سعيد بن منصور في سننه عن ضمرة بن حبيب أن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن قتل النساء والصبيان والشيوخ.

ژباړه: سعيد بن منصور په خپل سنن کې د ضمرة بن حبيب نه نقل کړي دي چې يقينا رسول الله صلی الله عليه وسلم منع کړی ده د قتلولو د زنانه او ماشومانو او بوډاګانو نه.

دا ځکه چې دوی د ماشومانو او زنانه په شان د جنګ أهل نه دي او هر چې شل، ړوند، او ليوني دی نو دوی په شيخ فاني قياس دي ځکه چې دوی هم د جنګ أهل نه دي.

دريم دليل: حديث أبي بكر رضى الله عنه في وصيته ليزيد بن أبي سفيان ستمرون على قوم في صوامع لهم احتبسوا أنفسهم فيها فدعوهم حتى يميتهم الله على ضلالتهم " [أخرجه مالك 2/447ـ 448 ـ وسعيدبن منصور 2/148]

ژباړه: په حديث د ابوبکر رضی الله عنه کې راغلي دي چې يزيد بن ابي سفيان ته يې وصيت کړې وو چې تاسو به په يو قوم ورتيريږئ چې په خپلو ګيرجو [د عيسايانو عبادة خانه] کې به ناست وي او هلته به يې خپل ځانونه بند کړي وي نو دوی پريږدئ تر دی چې الله يې په خپلې ګمراهی کې مړه کړي.

څلورم دليل: عَنْ رَبَاحِ بْنِ رَبِيعٍ قَالَ : كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ...... وفيه ـ وَعَلَى الْمُقَدِّمَةِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ : " قُلْ لِخَالِدٍ : لَا يَقْتُلَنَّ امْرَأَةً وَلَا عَسِيفًا.[رواه ابوداود باب قتل النساء وسنده حسن صحيح]

ژباړه: د رباح بن ربيع نه نقل دي وايي چې مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په يوه غزا کې وو چې په هغه حديث کې دي چې د لښکرو مخکنی حيصه باندی خالدبن الوليد رضي الله عنه امير وو نو نبي عليه السلام وريسی يو سړی وليږلو چې ورته يې اوويل خالد ته اووايه چې زنانه او مزدور [خادم] مه وژنه. دغه حديث[احمد او حاکم 3/133] کې راوړی دی علامه سندي ويلي دي [والمراد بالعسيف هو الأجير على حفظ الدواب لا الأجير على القتال]

ژباړه: د عسيف نه مراد د کافرانو هغه مزدور دی چې د هغوی د څاروو په ساتلو مقرر وي جنګي مزدور به نه وي

١ـ تنبيه: د ذکر شوو خلکو په نه وژلو کې شرط دادی چې دوی به هيڅ قسم شرکت په جنګ د مسلمانانو کې نوي کړی نه په رأيه ورکولو سره او نه په عمل سره خو که چيرته دوی شرکت

په رأيې يا په عمل سره کړی وو نو د علماؤ اجماع ده چې دوی به هم وژلې شي، چا چې ددوی نه عملا په جنګ کې حيصه اخستې وي د هغوی په قتل دليل: حديث د رباح بن الربيع دی دا وايي: [كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ، فَرَأَى النَّاسَ مُجْتَمِعِينَ عَلَى شَيْءٍ، فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ : " انْظُرْ عَلَامَ اجْتَمَعَ هَؤُلَاءِ". فَجَاءَ فَقَالَ : عَلَى امْرَأَةٍ قَتِيلٍ. فَقَالَ : " مَا كَانَتْ هَذِهِ لِتُقَاتِلَ. [روه ابوداود 2669 ـ وابن ماجه 2842 ـ وسنده صحيح]

ژباړه " مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يوی غزا ته تللي وو نو خلک يې وليدل چې په يو شي راجمع شوي وو نو يو سړی يې وليږلو ورته يې اوويل چې وګوره دغه خلک په څه راجمع شوي دي نو هغه سړی راغی او ويې ويل چې په يوی وژل شوی زنانه راجمع شوي نو نبي عليه السلام وويل چې ددی ښځې لپاره جنګ پکار نه وو.

او چا چې ددوئ څخه د جنګ په رأيه ورکولو کې حيصه اخستې وي د هغوی په قتل دليل: ثبت في الصحيحين أن دريد بن الصمة قتل يوم حنين وهو شيخ كبير لا يقدر على القتال وقد خرجوا به يتيمنون به ويستعينون برأيه فلم ينكر النبي صلى الله عليه وسلم قتله.[بخاري 4323 ـ و مسلم 2498]

ژباړه: درید بن الصمه په جنګ حنين کې وژل شوی وو او هغه سپينګيری بوډا وو د جنګ وس يې نه درلوده خو کافرو جنګ ته راوستی وو چې برکت يې پرې حاصلولو او د هغی د رأيې نه يې مدد اخستلو نو نبي عليه السلام د هغی په قتل انکار ونه کړ او بد يې ونه ګڼلو.

2ـ تنبيه: د کومو خلکو وژل چې په جهاد کې جائز نه دي نو مراد ترينه أصلي کافر دي هر چې مرتدين دي نو ټول به وژل کيږي او هيڅوک به ترينه مستثنی نه وي د مرتدينو به صرف ماشومان او ليوني نه وژل کيږي او نور به ټول وژل کيږي ددی حديث د عموم له وجې چې نبي عليه السلام فرمايي:[مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ .[رواه البخاري وغيره]

ژباړه: چا چې دين بدل کړ [مرتد شو] قتل يې کړئ .

خلافت پیشرفتہ

اول قسط

الله تعالی فرمايي

﴿ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴾ [سورة النور؛ 55]

خلافت پېژندنه

١

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلى يومِ الدِّينِ... أَمَّا بَعْدُ:

قال الله تعالى! وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ. [سورة النور؛ ٥٥]

مسلمانانو ورونو! اسلامي دين واقعا چې د اصلاح او سهولت حقيقي دين دی، د رحمت او ښېګړې دين دی، د انسانيت په جامه کې د انسانانو دين او د ابدي سعادت ځانګړې لاره ده.

همدغه دين دی چې وربانديې ابراهيم عليه السلام ټولو بچو ته د پېروۍ امر کړی، الله تعالى له هغه څخه حکايةً فرمايي " رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمِ. سورت بقره:٢١١

ژباړه: ای زموږ ربه مونږ ستا لپاره تل تابعداره وګرځوه او ځمونږ له اولاد څخه هم يوه ډله هميشه تابعداران او منونکي وګرځوه، موږ ته مو مناسک راوښايه او توبه راباندې اوباسه ته توبه قبلونکی او نهايت زيات مهربان يې.

همدغه اسلامي دين دی چې الله تعالى پرې موږ ټولو انسانانو ته د خپل ډېر رحم او مهربانۍ له مخې د تمسک او په دنياوي چارو کې د تطبيق امر او د تنفيذ حکم کړی.

رب العلمين فرمايي " يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ سورت ال عمران:٢٠١

ژباړه : ای مومنانو! د الله تعالى څخه په حقه توګه وډار شئ او تاسو د اسلامي دين پرته په بل هيڅ دين مه مرئ.

بل ځای کې زموږ خالق فرمايي " وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ. المائدة ' ٤٤

ژباړه؛ او چا چې په هغه حکم فيصله ونکړه چې الله تعالى نازل کړې، پس دغه کسان دوی کافران دي،

بل ځای فرمايي " وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ. المائدة ' ٤٥

ژباړه؛ او چا چې په هغه حکم فيصله ونکړه چې الله تعالى نازل کړې، پس دغه کسان دوی ظالمان دي،

بل ځای فرمايي " وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ. المائدة ' ٤٧

ژباړه؛ او چا چې په هغه حکم فيصله ونکړه چې الله تعالى نازل کړې، پس دغه کسان دوی فاسقان دي،

نو د اسلامي شريعت احکام ګران او سترې کونکي نه دي بلکې اسان او د هر چا د وس او توان مطابق دي، الله تعالى د ديني اسانتياو په اړه فرمايي " يُرِيدُاللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ. سورت بقره : ٢١

ژباړه : الله تعالى پر تاسو د اسلامي دين منلو کې اسانتياوې غواړي او درباندې سترېا او تکليف نه غواړي.

او دا حقيقت دی چې د اسلامي شريعت احکام د دنيا په چارو کې تنفيذول اسان کار دی ځکه چې الله پاک د اسلامي دين په منلو کې د ټولو انسانانو د احوالو مراعات او خيال ساتلی دی، ټول واجب شوي احکام يې د هغوی لپاره رحمت ګرځولي. په روژه کې يې د مسافر په اړه د افطار حکم راستولې دی، څلور رکعتيز مونز يې ترې په دوه رکعتيز مونز د مکمل اجر او ثواب څخه ډک ګرځولي، د ناجوړه اړوند يې د قران کريم په نصوصو کې ګڼ شمېر سهولتونه او اسانتياوې په نښه کړي، ناجوړه يې د خپل توان په اندازه د مونز په ادا کولو مکلف کړې، له دې کبله خو يې په ټولو انسانانو باندې په اسلامي دين کې غلو حرام او نا روا بللې ده ترڅو دغه زياتی کول د اسلامي دين د سماحت سره منافات ونه لري،

نبي کريم صلى الله عليه وسلم دغسې غلو کونکو او د شاق کارونو انجامولو اړوند فرمايي: هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ قَالَهَا ثَلَاثًا. صحيح مسلم: ١٧٦٠

ژباړه: درې ځل يې وفرمايل " په دين کې تشدد او سختي کونکي تباه او برباد شول،

خو دومره ده چې د اسلامي شريعت د سهولت معنا دا نه ده چې د هغه واجبات دې پرېښودل شي او يا دې د هغه په چارګاه او ممنوعه علاقه باندې تېرې وشي، بلکې هغه شخص چې په دغسې بې معنا او لا بنياده خبره باندې د جرم ارتکاب وکړي هغه ته اسلامي شريعت او اسلامي خلافت سنګينه سزا اوروي ترڅو دغه ډول خلک بېرته د اسلامي شريعت په احکامو ملزم وګرځي.

د نورو اديانو هوښيارانو او د سليم عقل څښتنانو د اسلامي دين پر احکامو غور وکړ، نو غاړه يې ورته کېښوده، د اسلام په حکمتونو کې يې سوچ وکړ نو مينه يې ورسره پيدا شوه، د اسلام حکيمانه قانون او ضوابطو يې زړونه خپل کړ نو تعظيم يې ورله وکړ، ترڅو چې څوک روغ عقل، روښانه بصيرت او د مستقيم فکر څښتن وي له اسلام سره يې د ښايسته محاسنو له کبله او له سترو فضيلتونو له کبله اړيکه ټينګه وي، اسلامي دين د توحيد داسې عقيده راوړې ده چې هم يې سليم عقل ايجابوي او هم پرې روغ طبيعت اقرار کوي ، خلک دې ته دعوت کوي چې نړۍ يو برحق معبود لري او هيڅ برخه دار ورسره نشته، دغه معبود برحق داسې لومړی ذات دی چې لومړی دی اول نه لري او اخر دی فناء نه لري، لکه رب العالمين فرمايي " هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ. [سورة الحديد ايت ٣]

او په يو اوږد حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي " أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ ، وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ ، اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ ، وَأَغْنِنَا مِنَ الْفَقْرِ.

ژباړه ؛ زه په تا سره د هر ضرري شيز څخه پناهي غواړم، چې ته نيوونکې د هغه د تندي نه يې، ای الله! ته اول يې پس نشته مخکې له تا څخه هيڅ شيز، او روسته هم ته يې پس نشته ستا روسته هيڅ شې، او ته ښکاره يې پس نشته ستا له پاڅه هيڅ شې، او ته پټ يې پس نشته اخوا ستا څخه هيڅ شې، ما قرض اداء کړه او ما د فقيرې او غريبې څخه غني کړه.

نو الله تعالى مطلقه اراده او پوره قدرت لري هغه محيط ګېره اچونکی علم لري، په مخلوق باندې واجب دي چې سرونه ورته ټيټ کړي او سرغړونه يې ونه کړي، د الله د اوامرو په منلو او له نواهيو څخه يې په ځان ژغورلو د هغه د رضا سره سم اعمال ترسره کول په انسان واجب دي، د مخلوق په نفسونو او د دنيا په کنارو کې يې براهين او دلايل قايم کړي، پر استدلال او غور

سوچ یې عقلونه هځولي دي ترڅو د الله پېژندګلو او عظمت ته د دلیل پر بنسټ ورسیږي او په سمه توګه یې حقوق ادا کړي،

نو د رب العالمین په حقونو، واجباتو او امرونو کې یو أمر دادی چې انسان د اسلامي خلافت لاندې ژوند او زندګي وکړي، او د مسلمانانو د خلیفه سره بیعت وکړي، او بغیر له بیعت او خلافت څخه ژوند ونکړي، څوک چې د اسلامي خلافت سره نه یو ځای کیږي، او د اسلامي خلیفه سره بیعت نه کوي، یا د اسلامي خلیفه او د الله تعالی د سلطان سپکاوي کوي، یا د اسلامي خلافت پر خلاف پاڅون کوي، یا د اسلامي خلافت پر خلاف شیطاني دعوت کوي، یا د اسلامي خلافت په أمیرانو پسې بدی ردې وایي، نو دغسې خلکو لپاره په اسلامي دین کې ډیره سخته سزا ذکر شوې، او دغسې خلکو په اړه اسلامي شریعت کې ډیر سخت حکم بیان شوی، نو موږ به د ناصر ذات په نصرت سره په دغه لیک کې د خلافت اړوند بعضې مسائل ذکر کړو.

په دی درس کې د خلافت په اړه دغه لاندې مسائل ذکر کیږي:

اول ؛ د خلافت لغوي او اصطلاحي معنا.

دویم ؛ د خلافت اسلامي أهمیت.

دریم ؛ د خلافت د قائمولو حکم ذکر کول په قرآن، حدیث، اجماع او په عقل سره.

دخلافت لغوي او اصطلاحي معنا:

خلافت لفظ د خَلَفَ یَخْلُفُ څخه أخیستل شوی دی د باب نصر ینصر نه، او ددی باب مصدر دی. په لغت کی خلافت د چا څخه وروستو راتللو ته وایي، چې یو سړی لاړشي او د هغه پر ځای بل راشي او د هغه ځای سنبال کړي، د هغه په کرسۍ باندی کیښني ، د هغه مسؤولیت واخلي او دغه شخص ته بیا خلیفه ویل کیږي،

په اصطلاح کې اهل علمو مختلف تعریفونه کړي چې تقریبا مقصد یې یو دی چې د هغې څخه به بعضې مختصر تعریف راواخیستل شي ،

اول تعریف :

(هي خلافة الرسول – صلی الله علیه وسلم – في إقامة الدین بحیث یجب إتباعه علی کافة الأمة).

ژباړه؛ داد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته ددین په قائمولو کې د هغه خلیفه کیدل دي په داسې شکل چې په ټول امت یې تابعداري لازمه ده.

دویم تعریف :

(هی الرئاسة العامة في شؤون الدنیا والدین) .

ژباړه؛ دا په دین او دنیا دواړو کې لویه او ستره مشري.

دریم تعریف؛

(والخلافة العامة هي الخلافة علی جمیع الناس في جمیع الناس في جمیع البلد)

ژباړه؛ خلافت عامه د هغه خلافت او مشري ده چې په ټولو خلکو کې، په ټولو خلکو باندې او په ټولو ښارونو باندې وي.

د اسلامي خلافت أهمیت

دا خو د خلافت لغوي او اصطلاحي معنا شوه، وس رازو د خلافت أهمیت ذکر کوو، او دا ځکه چې کله د یو شي أهمیت بیان او ذکر شي نو هغه ته د انسان توجو پیدا شي او په زړه او ذهن کې ځای ورکړي،

نو د اسلامي خلافت قیام ډیر زیات مهم دی ځکه چې الله تعالی ټول انسانان او پیریان د خپل عبادت لپاره پیدا کړي، الله تعالی فرمایي " وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ . الذاریات: ٥٦

ژباړه ؛ ما نه دي پیدا کړي پیریان او انسانان مګر د خپلې بندګۍ لپاره.

نو د الله بندګي په خالصه توګه هله کیدیشي چې کله اسلامي خلافت موجود وي چې د توحید د مخې نه هر قسم خندونه او رکاوټونه ختموي او هیڅا ته اجازه نه ورکوي چې د غیر الله بندګي وکړي یا د غیر الله قوانین نافذ کړي، او رب العالمین چې څومره أحکامات او حکمونه رالیږلي دي، هغه بغیر د اسلامي خلافت څخه عملي کول او نافذول نا ممکمن دي، لکه د ډیرو مودو راهیسې موږ ګورو چې قران کریم کې د الله تعالی احکامات شته خو نه عملي کیږي، بلکې د الله تعالی د احکاماتو پر خلاف نو احکامات او قوانین جوړیږي، او خلک یې ښه عزت کوي، په مال او نفس سره ترینه دفاع کوي، لکه وس په نزدی وخت کې په پاکستان کې د ټرانس جینډر قانون پاس شو، او ډیر خلک ورته خوشحاله دي، ددغه کفري قوانینو خلک عزت او قدر کوي، خو د اسلام او اسلامي قوانینو غم او فکر ورسره نشته، د کفارو خلک قدر او عزت کوي، خو مسلمان ته په سپک او کمزوري نظر ګوري، او داسې نور غټ غټ جرمونه، نو ددی ټولو ځواب دادی چې اسلامي خلافت نشته، ځکه دنیا دغسې د ظلمونو څخه ډکه ده، نو له دی وجې نه ټول انسانان اسلامي دولت ته محتاج دي داسې دولت چې شریعت پکې نافذ شي او حدود پکې قائم شي. دی وجې نه امیر المؤمنین علی بن ابي طالب رضی الله عنه فرمایي " لا بدَّ للناس مِن إمارة بَرةً كانت أو فاجرة، قالوا يا أميرالمؤمنين : هذه البرَّة عرفناها، فما بالُ الفاجرة ؟ قال: تقام بها الحدود وتأمن بها السبل ويجاهد بها العدو ويقسم بها الفئ. السیاسة الشرعیة لابن تیمیه رحمه الله " ٦٣

ترجمه " د خلکو لپاره امارت قائمول لازم دي که نیک وي او که بد وي دوی وویل اې امیرالمؤمنینه نیک امارت خو موږ پیژنو د بد امارت څه فائده ده ؟ نو هغه وفرمایل چې حدود به د هغې په وجه قائمیږي او لارې به ورسره په امن وي او د هغې په وجه به دښمن سره جهاد کیږي او مال فی به پکې تقسمیږي.

شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله په السیاسة الشرعیه کې وایي " ددی خبرې پیژندل لازم دي چې د خلکو مشري او قیادت کول ددین د غټو واجباتو څخه دي بلکې دین بغیر د امارت نه نشي قائمیدلې ځکه چې د انسانانو مصلحت نه حاصلیږي مګر په اجتماع سره د وجې د حاجت د بعضو نه بعضو ته.

بیا ددی علت بیانوي او وایي " ځکه چې الله امر په نیکو او منع د بدو کارونو څخه فرض کړې ده او دغه امر بغیر د قوت او امارت نه نشي عملي کیدلې همدغه راز ټول هغه کارونه چې الله واجب کړي دي چې جهاد دی عدل دی، او د حج قائمول او د اخترونو کول او د مظلوم مدد کول دي او حدود قائمول چې دغه ټول بغیر د امارت څخه نه حاصلیږي. السیاسة الشرعیة " ١٦٢

او همدغه راز ددنیا سیاست چلول، او د سیاست مشري کول داده خلیفه کار دی نو چې خلافت نه وي او مسلمانان بغیر د خلافت څخه ژوند کوي، بیا خو به په دنیا کې مشري د کافر او مفسدینو په لاس کې وي، او اسلام او مسلمان به دغه کافر ذلیله کول غواړي، لکه څنګه چې وس موږ او تاسو دغه حال پخپلو سترګو باندې ګورو،

رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث کې فرمایي " کَانَتْ بَنُو

إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ. متفق عليه

ژباړه؛ د بني اسرائيلو مشري به أنبياؤ کوله، کله به چې يو نبي وفات شو نو بل نبي به راتلو، او يقينا ځما څخه روسته بل نبي نشته او زر دی چې خليفګان به راځي.

نو دی حديث څخه دا معلومه شوه چې مخکې به په دنيا کې د خلکو مشري أنبياؤ کوله خو د نبي عليه السلام څخه روسته به ددنيا او په دنيا کې د خلکو مشري شرعي خليفه کوي، او هر څوک دغه مشري نشي کولای، او نه ورته اجازت شته، مطلب په دنيا کې به د ټولو مسلمانانو يو أمير وي، يو به يې بيرغ وي، يو به يې اواز وي، او يو الله أکبر به وي، او نور کفري او د جهالت بيرغونه او اوازونه به نوي دا به ختمولائ شي.

د اسلامي خلافت قائمولو حکم

د اسلامي خليفه ټاکل دټول امت مسلمة فريضه ده. دخليفه د ټاکلو په وجوب باندی دلائل ډير زيات دي ځکه د امير او مشر ټاکل د بديهاتو څخه ده او دشريعت نه معلوم بالضرورة ده بلکې د ټولو انسانانو په فطرت کې دا خبره ناسته ده چې دځان لپاره امير او مشر خامخا ټاکي يعنی دفطرت تقاضا هم دا ده چې پرته د امير او مشر، حاکم ،خليفه وغيره نه ژوند کول ناشونی دی او د ګډوډي او مشکلاتو سبب دی دلته به په اختصار سره د کتاب او سنت او دشرعي قواعدو څخه مختصر دلائل ذکر کړو، ان شاء الله تعالی.

قران کريم څخه دلائل:

اول دليل؛ الله تعالی فرمايي "واذ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً البقرة " ٣٠

ژباړه؛ او کله چې وويل رب ستا ملائکو ته چې يقينا زه پيدا کوم په زمکه کې يو خليفه.

مفسر قرطبي رحمه الله وايي " هذه الآية أصل في نصب إمام وخليفة يسمع له ويطاع ، لتجتمع به الكلمة ، وتنفذ به أحكام الخليفة . ولا خلاف في وجوب ذلك بين الأمة ولا بين الأئمة إلا ما روي عن الأصم حيث كان عن الشريعة أصم ، وكذلك كل من قال بقوله واتبعه على رأيه ومذهبه .ا.ه. الجامع ١/٢٦٤

ژباړه؛ دا ايت دليل دی په مقرره ولو د خليفه، چې حکم به يې اوريدلې شي او اطاعت به يې کيږي دی لپاره چې د مومنانو خبره پرې راجمع وي او احکام د خليفه دی سره نافذ شي او هيڅ خلاف ددی په وجوب کې په امت کي نشته او نه په مابين د أئمه ؤ کې مګر هغه اختلاف چې د اصم څخه نقل دی چې هغه د شريعت نه هم کوڼ دی او همداسی ټول هغه خلک چې د هغې خبری پسی تللي دي او د هغی د رائ او مذهب تابعداري يې کړې ده.

دويم دليل " الله تعالی فرمايي " يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ ۖ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا . النساء: ٥٩

ژباړه؛ ای مومنانو د الله او د رسول اطاعت وکړئ او د مشرانو ستاسو نه پس که چيرته اختلاف وکړئ تاسو په يو شي کې نو وګرځوئ ' فيصله د هغې 'الله او رسول ته که چيرته ايمان لرئ په الله او په ورځ د آخرت دا کار غوره دی او ښه انجام والا دی.

حافظ ابن کثير رحمه الله پخپل تفسير کې وايي " والظاهر - والله أعلم - أن الآية عامة في جميع أولي الأمر من الأمراء والعلماء ،

ژباړه؛ ظاهره داده- والله اعلم - چې ايت عام دی په باره د ټولو مشرانو کې، که اميران دي او که علماء دي.

ايت څخه د استدلال طريقه " په دی ايت کريمه کې الله تعالی دخپل ځان او د خپل رسول او د اميرانو اطاعت لازم ګڼلې د اولی الامر څخه مراد اسلامی حکام (حکمرانان) دي او همدا راز په دوهمه درجه کې ترې علماء هم مرادکيدلې شي نوچې هرکله د امير اطاعت فرض دی نو چې امير موجود نه وي نواطاعت به دچا کيږي؟ نو چی اطاعت يې فرض دی نو د هغه ټاکل هم فرض دي ځکه فقهي قاعده ده : (مالايتم الواجب الابه فهوواجب) يعني کوم يو شی چې داسی وي چی واجب نه پوره کيږي مګر په هغې باندې پوره کيږي نو هغه هم واجب دی نو اطاعت دامير ممکن نه دی مګرپه ټاکلو د امير سره، نو د أمير ټاکل هم واجب او فرض دي.

دريم دليل " الله تعالی فرمايي " لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۖ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَنْ

يَنْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ. الحديد " ٢٥

ژباړه؛ يقينا موږ راليږلي دي خپل رسولان په واضح دلائلو سره او نازل كړي دي موږ دوى د ملګرتيا لپاره كتابونه او د تللو شي، دى لپاره چې ودريږي خلک په انصاف سره او پيدا كړى ده موږ وسپنه چې په هغې كې سخت د جنګ سامان دى او نوري فائدى دي خلكو لره او ددى لپاره چې ښكاره كړي الله تعالى هغه چا لره چې مدد كوي د هغه او د رسولانو د هغه، سره د نه ليدلو نه يقينا الله تعالى قوت والا زورور دى.

ايت نه استدلال طريقه " دى ايت كې الله تعالى أمر كړي دى پيغمبرانو او د هغې تابعدارو ته چې د خلكو په منځ كې هغه عدل قائم كړي كوم چې د الله په كتاب كې بيان شوى دى نو دغه عدل بغير د قوت او خلافت نه نشي قائميدلي نو په دى وجه د اسلامي دولت قائمول واجب شو.

همدارنګه د حدودو او قصاص امرونه هم بغير د قوت او اسلامي دولت نه نشي قائمدلي، د غلامانو او وينځو احكامات هم بغير د خلافت او قوت څخه نشي قائمدلي، او داسې نور هغه واجب او فرضي احكامات چې هغه قوت او زور ته ضرورت لري نو هغه بغير د خلافت څخه نشي عملي كيدي نو اسلامي دولت او خلافت څكه قائمول واجب او لازم دي،

أحاديثو څخه دلائل :

مسلمانانو ورونو! د احاديثو څخه په دى اړه ډير دلائل ثابت دي چې بعضې د هغې څخه دادي،

اول دليل؛ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أن النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ، مَنْ مَاتَ، وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً". رواه مسلم

ژباړه؛ د عبدالله بن عمر رضى الله عنهما څخه نقل دي چې نبي عليه السلام فرمايلي دي " څوک چې مړ شو او په څټ كې يې د خليفه سره بيعت نه ؤ نو مړ به شي په مرګ د جاهليت.

استدلال طريقه " بيعت كول د خليفه سره واجب دي نو واجب چې په څه پورى موقوف وي هغه هم واجب وي نو د خليفه مقررول واجب دي.

دويم دليل؛ عن أبى سعيد الخدري رضي الله تعالى عنه أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قال : « إذا خرج ثلاثة في سفر فليؤمروا أحدهم » . رواه أبوداود في سننه كتاب الجهاد .

ژباړه : دابوسعيدالخدرى رضى الله تعالى عنه څخه روايت چې يقينا رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى : كله چې په تاسو كې درى كسان په سفر باندى ووځى نويوتن دى اميروټاكى .

شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله ددى حديث په شرحه كې فرمايي : فإذا كان قد أوجب في أقلِّ الجماعات وأقصر الاجتماعات ، أن يولي أحدهم ، كان هذا تشبيهًا على وجوب ذلك فيما هو أكثر من ذلك . (الحسبة لشيخ الاسلام) .

ژباړه : پس هركله چې د وړوكي نه په وړوكي جماعت اواجتماع كې يې دا خبره واجبه كړى ده چې په دوى كې دى يو تن ددوى مشر وټاكل شي نو په دى كې دى خبرى ته اشاره ده چې ددى نه په زياتو كې خو خامخا پكار ده .

دريم؛ د صحابه كرامو عمل :

كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شو نو تر هغه پورې يې هغه دفن نه كړ ترڅو چې د مسلمانانو لپاره يې خليفه او امير ونه ټاكه ، دنبي كريم صلى الله عليه وسلم مبارک بدن پورت ؤ هغه لا دفن شوى نه ؤ چې صحابه كرام په سقيف بني ساعدة كې راجمع شول او په دى خبره يې بحث وكړ چې امير بايد څوک وټاكل شي او واقعه او قيصه ډيره مشهوره ده د سيرت كتابونو ته رجوع وكړه،

د أمت اجماع

همدا راز د خليفه په مقررولو امت اجماع كړي چې ددغه اجماع خلاف صرف بعضو مبتدعينو كړي،

اول قول؛ هيتمي وايي " اعلم أيضاً أن الصحابة رضوان الله عليهم أجمعوا على أنَّ نصب الإمام بعد انقراض زمن النبوة واجب بل جعلوه أهم الواجبات حيث اشتغلوا به عن دفن رسول الله صلى الله عليه وسلم". الصواعق المحرقة: ٧

ژباړه؛ په دى خبره هم پوهه شه چې د صحابه ؤ اجماع ده چې د خليفه مقررول روسته د ختميدلو د زماني د نبوت څخه واجب دي بلكى صحابه ؤ دغه مهم واجب ګرځولي دى څكه د رسول الله صلى الله عليه ددفن كولو څخه په دى كې مصروف شوي وو.

دويم قول؛ امام ابن حزم رحمه الله وايي: اتفق جميع أهل السنة وجميع المرجئة وجميع الشيعة وجميع الخوارج على وجوب الإمامة وأن الأمة واجب عليها الانقياد لإمام عادل يقيم فيهم أحكام الله ويسوسهم بأحكام الشريعة التي أتى بها رسول الله ﷺ، حاشا النجدات من الخوارج .ا.ه. الفصل ٤/٨٧

ژباړه؛ د ټولو اهل السنة او د ټولو مرجئه ؤ ،شيعه ګانو او دخوارجو په دى اتفاق دى چې خليفه مقررول واجب دي او په امت لازم دي چې دداسې يو عادل خليفه تابعداري وكړي چې په دوى كې د الله تعالى احكام نافذوي او ددوى مشري د شريعت په هغه احكامو سره كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم راوړى دي بغير له خوارجو د نجد څخه.

دريم قول؛ امام ماوردي رحمه الله ويلي دي: وَعَقْدُهَا -اي الامامة-لِمَنْ يَقُومُ بِهَا وَاجِبٌ بِالْإِجْمَاعِ وَإِنْ شَذَّ عَنْهُمْ الْأَصَمُّ.. الاحكام السلطانية للماوردي،

ژباړه؛ او د خلافت قائمول په هغه چا چې د امت په مشرئ مقرر وي په اجماع د امت سره واجب دي، اګر كه ددى د وجوب نظريي لرلو نه اصم ځانته والى كړي دى،

څلورم قول؛ علامه نووى په شرح دصحيح مسلم كې فرمايي :

(وأجمعوا على أنه يجب على المسلمين نصب خليفة ..)

ژباړه؛ او په دى خبره باندي د أمت اجماع ده چې په مسلمانانو د خليفه مقررول واجب دي...

پنځم قول : ابن خلدون وايي؛

(نصب الإمام واجب ، وقد عرف وجوبه في الشرع بإجماع الصحابة والتابعين ، لأن أصحاب رسول الله - صلى الله عليه وسلم - عند وفاته بادروا إلى بيعة أبي بكر رضي الله عنه ، وتسليم النظر إليه في أمورهم ، وكذا في كل عصر من الأعصار ، واستقر ذلك إجماعًا دالًا على وجوب نصب الإمام) مقدمة ابن خلدون؛ ١ / ٩٨

ژباړه؛ د خليفه مقررول واجب دي او په شريعت كې يې وجوب د صحابه ؤ او د تابعينو د اجماع څخه ثابت دى څكه چې صحابه ؤ د نبي عليه السلام د وفات په وخت كې د ابو بكر رضي الله عنه سره په تلوار بيعت وكړ او د خپلو كارونو په اړه يې ورته مشري وسپارله او داسې په هره زمانه كې شوي دي نو دا يوه اجماعي مسله شوه چې د خليفه د مقررولو په وجوب دلالت كوي،

عقل څخه دليل

عقل هم ددى تقاضا كوي چې د انسانانو لپاره دى يو امير موجود وي چې د جګړي پر مهال هغه ته رجوع كوي همدا وجه ده چې هر قوم او دين والا ځان لپاره امير او مشر ټاكي او كله چې مشر نه وي نو هلته د انسان مال ، عزت ، دين وغيره محفوظ او مامون نه وي.

شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله په خپل كتاب السياسة الشرعيه كى فرمايي؛

(يجب أن يعرف أن ولاية أمر الناس من أعظم واجبات الدين ، بل لا قيام للدين إلا بها ، فإن بني آدم لا تتم مصلحتهم إلا بالاجتماع لحاجة بعضهم إلى بعض).

ژباړه؛ په دي خبره پوهيدل واجب دي چې د خلكو مشري كول ددين د غټو واجباتو څخه دي بلكې بغير له دي نه دين قايميدلي نشي، څكه د انسانانو مصالح بغير له اجتماع څخه نشي پوره كيدلي د وجې د حاجت د بعضو نه بعضو نورو ته.

د حنا کهر
کوربانه مامورین

الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين والخيبة والخسارة للكفار والمرتدين ولمن تبعهم من البلاعمة المجرمين أبناء الدنيا وأعداء الدين والصلاة والتسليمات على من أرسل بالسيف رحمة للعالمين وعلى آله وصحبه اجمعين ومن تبعهم في الطريق الى يوم الدين أمابعد!

دطالبانو کفر او ردت خو یوداسې جلي او بدیهي حیثیت پیدا کړی چې فکر نه کوم د کمې پوهې او عقل د خاوندانو دې په دې شک پاتې وي ،دوی هم په ډیره مینه وخت په وخت د معاصر ردت داسې بیلګې ننداري ته وړاندې کوي چې موږ یې هم حیران کړي یو ، او د دیرې حیرانتیا او تعجب خبره بیا داده چې دوی خپلو دغه کفري کړنو ته د اسلام جامه وراغوندي او خپل هره کفري کړنه به داسې توجیه کړي چې حق حیران به دې کړي .

موږ هم ستړي نه یو لله الحمد وخت په وخت ددوی د هر ردت څخه د پردې پورته کولو څخه زموږ دا مقاصد دي چې ددوی کشرخیل چې اوس هم ځانونه مجاهدین او خپل دغه کفري نظام اسلامي نظام بولي دوی ته ددوی د مشرانو هغه کړنې چې صریح کفر دې خو په دوی د اسلام په نامه تیروي ورپه ډاګه کوو، بل مقصد مو دادی چې ډیر ساده لوحه مسلمانان اوس هم ددې لونګۍ لرونکو او ږیره لرونکو مرتدینو په ظاهري لباس او غولونکو ډرامو غولیږي ترڅو دوی هم وپوهیږي چې ددوی کړنې له اسلامه نه ، بلکې له اسلام اباد څخه سرچینه اخلي ، ددوی د اسلامي نظام په نوم روانه کړې لوبه اسلامي نظام نه بلکې په دوحه کې په نوې بڼه ډیزاین شوې دیموکراسي ده ، چې په قران او سنت کې یې هیڅ کوم ثبوت او دلیل نه شته .

څو ورځې وړاندې طالب مشران او کشران د خپلې باداري حنا رباني کهر کوربانه وو، ددغې مرتدې فاحشې استقبال او دارومدار چې په کوم انداز وشو ، نو شاید د طالب ډیرې کشرخیلو به هم له خپلو مشرانو د دومره ذلت او تنزل تمه نه وه ، خو اوس نو طالب مشران پرې مکمل ورغلي هغه د پښتو متل دی اوبه یې هسې هم له سره اوښتي اوس نو دوی وایي چې څه یې یوه نیزه او څه یې دوه نیزې ..

اوس هسې هم مکمل د کفر په ملت ورننوتي اوس نو ورته هره کفري کړنه ډیره عادي ښکاري ، کله چې حنا رباني کهر د کابل په هوایي ډګر ښکته کیده نو خپلو غلامانو ته یې په داسې انداز د باداری مانور وړاندې کړ چې په ډیرې کشرخیلو یې هم بد ولږیدل.

خو ددوی خیاطان مجبوره دي چې د طالب مشرانو سوړې ، سوړې پرتګونو ته پیوندونه جوړ کړي ،او چرته څوک دوی ته د انتقاد ګوته ونه نیسي چې تاسې خو ځانونه د ازادۍ اتلان ګڼئ ، خپل مشران متقیان او شیوخ ګڼئ ، نو څنګه د یوې مرتدې فاحشې استقبال ته ولاړ دي په داسې حال کې چې دا مرتده باداره مو د خپلې عیاشۍ د اخري حد د ښودلو په حال کې ده ، ځکه نو د طالب ملیشو په رسنیو کې دا اوازه ګډه کړه چې دوۍ د کهر استقبال ته یو څو لغړیان ورلیږلي وو، او داسې کومه مشهوره څېره نه وه ورغلې

خو کله چې د کهر مخې ته ددوی د ټولو متقي (!) داسې په خوږه خندا او له نازه په ډک انداز د استقبال په بڼه راښکاره شو نو بیا یې خیاطانو ته هم چل نه ورتللو چې اوس نو ددوی په پرتوګونو څه ډول بخۍ



تیرې کړي .

په هر صورت ددې مرتدې د راتللو ډیر اهداف وو، چې له ټولو ستر

پذیرایی مقامات امارت اسلامی افغانستان حین ورود حنا ربانی کهر، وزیر دولت در امور خارجه پاکستان به کابل.

Pakistan's Minister of State for Foreign Affairs Hina Rabbani Khar upon arrival in Kabul was met by senior officials including Deputy Economic Minister Abdul Latif Nazari

....

نوټ: طالبان هم ډیر چالاک خلګ دی د نړیوالو ریواجونو مطابق یی د میلمنو مخته، د هرکلی لپاره، د میلمنو پشان یو څو لغړیان ورلیږلی دی ، هیڅ داسی یو مشهوره څیره نشته.

هدف یې خپلو ملیشو طالب مرتدینو ته دا احساس ورتازه کول وو، چې باید پاکستان ته مو د غلامۍ سرونه همداسې خم وي او ترڅنګ یې ټولو لوړ پوړو مشرانو څخه کاري راپورونه اخستل او دوی ته نوې وظایف او دندې سپارل وو .

نو اوس دحیرانتیا خبره دهغه چا په حق کې داده چې هغوی دادعوه کوي چې دطالب نظام شرعي نظام دی!! خوبیاهم دې شرعي نظام څخه د حساب اخستو او نویو ماموریتونو ورسپارلو لپاره بیا یوه مرتده ، پردۍ بې حجابه فاحشه خلاصې څښې او لوڅ مخ په داسې حال کې راځي چې شرعي محرم ورسره نه شته او استقبال یې دا پلن څښتي داسې په خندا او ادا کوي ، چې لیدونکې یې په لیدو د شرم احساس کوي خو همدا دشرعي نظام مجاهدین(!) یې استقبال ته وردرومي .

اوبیا همدغه ښځه دلته ددوی سره دیو میز په چوکۍ مخامخ بغیر له حجابه کښیني او د همدې پلاستیکي شرعي نظام له مشرانو ا علماؤ نه بلکې عملاؤ سره ملاقاتونه او مجلسونه کوي.

نو په دی اساس مجبوریم چی دطالبانو څخه وپوښتم چی ایادا امورشریعت کی جواز لري؟.

که لري یي په کوم دلیل؟

دقرآن کوم ایت دی؟ درسول الله صلی الله علیه وسلم کوم حدیث دی؟

راځئ ! همدې بحث ته به ددغه عنوان لاندې دوام ورکړو .

(دالله شریعت او دطالبانو حکومت)

مخکې له دې چې همدې بحث ته ننوزو دا یادونه ضروري بولم چې طالب مشران او کشران یې اوس

دا یي د هغه متقي (!) سړي حال دې چې ددې نورو پرهیزګارانو به یي څه حال وي .

هسې هم د اسلام او شرعي احکامو په کېسه کې نه دي زموږ هدف له دې بحث او دداسې کړنو په رد کې د قران او احاديثو څخه د دلايلو له راوړو دادې چې نور عام مسلمانان د طالب مرتدينو په دې کفري کړنو پوهه کړو ، په دې اړه خو دشريعت واضح فرامين موجود دي، چې طالب مرتدينو يې ښکاره مخالفت کړی.

راشئ چې زه يې دربانديې واوروم اول دا چې اسلام دښځو دپاره په قران کريم کې واضح فرمان داجاری کړی په سُورَةُ الأَحزَاب ۳۳ ايت کريمه کې فرمايي

وَقَـرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَٰهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ .

ژباړه : پخپلو کورونو کښې مېشتې اوسئ، او د تېر جاهلي دور غونديې سينګار کړي، بې سَتره مه ګرځئ.

وګورئ دا فرمان دی دالله تبارک وتعالی چې په قرآن کی يی د أمر په صيغې سره ذکر کړی، چې ښځه دکور ده دابه د جاهليت دزمانې تاريخ نه تازه کوي چې ډول اوسنګاروکړي او د هغې سره بيا بې ستره اوبيې حجابه ووځي ، اوداځکه چې دزنا نه په وتلو او بې حجابی کې بې حده تاوانونه، فسادونه او دټولنې خرابي پرته ده، ددې ډيرو فسادونو او تاوانونو ، دمخنيوي په موخه شريعت دوی ته امر کړی ،چې دوی به په کورونو کی ميشتې اوسي او بهر به نه ګرځي، ځکه ښځه عورت دی او عورت چی څومره پټ او مستور وي دومره عِرض او عزت محفوظ وي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايی الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتِ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ .

ژباړه: ښځه داعورت دی نوپس چې کله دا (له کوره) رابهر شي نو شيطان يې ځارنه کوی .

چې څنګه پرې خلق ګمراه کړي) دغه ډول صحيح مسلم کې دجابر رضی الله عنه څخه روايت دی فرمايي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل

إِنَّ الْمَرْأَةَ تُقْبِلُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ ، وَتُدْبِرُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ .

ژباړه: بې شکه ښځه چې مخامخ کيږي هم دشيطان په صورت (شکل) کې وي او چې شا ګرځوي هم دشيطان په شکل کی وي.

رقم الحديث ۲۴۹۹ امام نووی رحمه الله ددې حديث په شرح کی فرمايي:

قَالَ الْعُلَمَاءُ مَعْنَاهُ الْإِشَارَةُ إِلَى الْهَوَى وَالدُّعَاءِ إِلَى الْفِتْنَةِ بِهَا لِمَا جَعَلَهُ اللَّهُ تَعَالَى فِي نُفُوسِ الرِّجَالِ مِنَ الْمَيْلِ إِلَى النِّسَاءِ وَالِالْتِذَاذِ بِنَظَرِهِنَّ وَمَا يَتَعَلَّقُ بِهِنَّ فَهِيَ شَبِيهَةٌ بِالشَّيْطَانِ فِي دُعَائِهِ إِلَى الشَّرِّ بِوَسْوَسَتِهِ وَتَزْيِينِهِ لَهُ وَيُسْتَنْبَطُ مِنْ هَذَا أَنَّهُ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ لَا تَخْرُجَ بَيْنَ الرِّجَالِ إِلَّا لِضَرُورَةٍ وَأَنَّهُ يَنْبَغِي لِلرَّجُلِ الْغَضُّ عَنْ ثِيَابِهَا وَالْإِعْرَاضُ عَنْهَا مُطْلَقًا

په کابل کې د اسلامي امارت د ځانګړو ځواکونو له لوري هغه کس ونيول شو چې د تيرې جمعې په ورځ يې د پاکستان په سفارت بڼې کړې وې.
دا کس د يو بهرنې هيواد تبعه او د داعش ډلې غړی دی.
په تحقيقاتو کې جوته شوې چې دا بريد د داعشيانو او بغاوتګرو له لوري په ګډه تنظيم شوی و.
٢/١

هو !
د داسې زمرو نيول د ګيدړانو کار نه دی، د طالب مرتدينو دا ادعاوې کاملاً درواغ او هسې تبليغات دي او دوی تل د خپل شرم پټولو لپاره داسې تبليغات کوي طالب مرتدين په همدې تړاو د ډارمو په جوړولو کې د آی ايس آی روزل شوې شاګردان دي که خپل کشرخيل غلط کړي خو نور مومنان او د اسلامي دولت سربښندويان نه شي خطا کولای ، او په دې سره غواړي چې ډاريدلې نړۍ ته يو ډاډ ورکړي چې ددوی خوا پرينېږدي او دلته ورسره واوسي هسې نه چې دا کفار ترې لاړ شي او دوی د اسلامي دولت ګذارونو ته ځانته پرېږدي نو همدې ډار طالبان سخت وارخطا کړي .
ځکه يې نو په دې وروستيو کې کفارو او طواغيتو سره يو ځل بيا ناستو او پټو مجلسونو زور اخستی ، خو موږ د طالب مرتدينو په شمول د ټولې نړۍ کفارو ته وايو چې تاسې ددې ډالري کڅوړو او د نړۍ د کفارو په مرسته نه شئ کولای د الله عزوجل د لښکرو مخه ډب کړئ

انتظار کوئ راتلونکې ورځې زموږ او ستاسې د حساب او پريکنده جګړو ورځې دي باذن الله .

په پلازمينه (کابل) کې پر پاکستاني سفير د بريد ترسره کونکي

برګ سپی د لیوه ورور وي

لنډه کیسه

له اوغز څخه دمشرانو په امر کڅونو ته روان وو، طالب خړیان د خپلو برګیانو ورونو امریکایي درنده ګانو په هوایي ملاتړ د هسکې مېنې شیخا او انګور کلا ساحو ته رارسیدلي وو، په یو کنډو چې ورپورته شو، له هغې لورې یو مجاهد راروان و، موږ د څېړیو لاندې ورته کیناستو، ملګرې راورسید په لومړي نظر مې ونه پیژانده، زیات کمزوری شوی و، مخ یې هم سوځیدلی و، او له سر څخه یې هم پلاسترونه تاوو وو، بیک مو ترې راکوز کړ، یو شیبه سره کیناستو، له ډېر خواږه او تاوده روغبړه پس مې ورته کړه: وروره باور وکړه په لومړي نظر مې ونه پیژندې، الله دې درڅخه دا سختۍ او زخمتونه قبول کړي.

خوږه خندا یې وکړه: هو په دې لاره کې خو دا کېسې شته، الله مو دې خاتمه نه خرابوي.

پوښتنه مې ترې وکړه: ته خو زخمي هم یې خنګه بیرته مخ په جګړه ور روان یې، همله به دې کڅونو کې لږ ارام کړې وې؟

په پوره ډاډ یې ځواب راکړ: نه وروره دومره خوږ نه یم، اوس الحمد لله خه یم، ملګري کم دي، چې ورشم خه ده، بل هلته سنګرونو کې دوایي ته ضرورت و، په ډېره سخته مو یو څه ستنې، د دردونو ګولۍ او پټۍ راپیدا کړې.

دغه وخت یې په بیک لاس کیښود او خبره یې پسې وغځوله: ددې دوآیي رسول هم ضرور دي.

ما خپل ملګري ته مخ وروګرځاوه، ورته مې وویل: هغه ازبک ماشومان ملامته نه وو، چې د وزیرو تنګي په (وچه لګړ) ناو کې په مخه راغلل ما او تاته یې لار نه راښوده.

ملګرې مې په خندا شو ویل یې: هو والله، دادی ددې ځوان له سره پټې لا تاو ده او د جګړې لومړې لیکې ته روان دی خو ما او تاته اجازه نه شته.

راغلي ملګري په خندا پوښتنه وکړه: ازبک ماشومانو درته څنګه لار نه ښوده ولې؟

ورته مې کړه: وروره موږ ته وزیرو تنګي کې امر وشو چې تورې بورې ته واوړئ، په (وچه لګړ) کې مو لار ورکه کړه ازبک ماشومان په مخه راغلل، زما مخ په رومال کې پټ و، زه یوې ډېږې ته شوم، ده ترې پوښتنه وکړه چې تورې بورې ته په کوم طرف واوړو.

ماشومانو سخت په غصه راوکتل په ماته ګوډه پښتو یې وویل: تاسې ته لار نه ښایو، دې ملګري مې ورته ویل: ولې لار نه راښایي؟ ماشومانو همغسې په بد وضیت په ډېره غصه جواب راکړ: مجاهدین جنګ ته روان دي او تاسې له جنګه تښتئ.

ملګري مې ورته وویل: موږ ته مشرانو امر کړې چې تاسې تورې بورې ته واوړئ، هلته د څه کار پسې ځو.

ماشومانو ماته ګوته ونیوله: هغه کس څوک دی؟

دې ملګري مې ورته ویل څه یې کوئ، لار نه راښایي او د خلکو پوښتني کوئ.

دې ته مې اشاره وکړه چې بس راځه ورسره مه ټینګیږه.

نو ستا په لیدو د هغه ازبک مهاجرو ماشومانو دا خبره رایاده شوه او تر مرګه به مې یاده وي.

راغلي ملګري په خندا وویل: نه وروره، الله دې ستاسې د ټولو ورونو حفاظت وکړي، مشران پوهیږي، دا خو مشران دي چې کشران مجاهدین وي هم تاسې ته به د خطر ځای ته د مخکې کیدو اجازه درنه کړي، ستاسې کارونه خو داسې دي لکه په جګړه کې د ټوپکو تشې شاجورې چې ډکوئ

موږ خبرې کولې چې دغه وخت ډرونونه هم رازیات شول، ملګري ته مې د بوې شیبې ځنډ وویل، خپلې پوښتنې مې پسې وغځولې: وروره کېسې راته وکړه، دا ځل خو دې خړیانو سره دا برګیان بیخي ښکاره ودریدل؟

ملګري راته یو ځل بیا وموسکل: کېسې درته کوم خو ستا خو دا کار دی چې بیا یې لیکې، خو زما یو شرط دی چې زه که شهید وم او که ژوندی وم او دا کېسې دې که لیکلې او که هر چاته دې کولې نو زما نوم به نه اخلې.

زه ددې ورور دې اخلاص، له ریا، تشهیر او سمعت څخه ډار بیخي حیران کړم، سترګې مې رالمدې شوې ورته مې کړه: خه وروره دا مې درسره وعده شوه چې کله هم ستا ددې خبرو د لیکلو موقعه راغله نو ستا نوم به نه ذکر کوم.

راغلي ملګري ځان یو څه راسم کړ او کېسه یې پیل کړه:

وروره د ا ځل کېسه بیخي بدله ده، په مرکخیلو کې مو سنګر و، ور اخوا په پورې څوکه زموږ تر ټولو محکم بل سنګر و، لس کسه ملګري په کې وو، کتل مو چې طالبان به لکه د رمو وروختل خو بیرته به مو لیدل چې شنه دوړه به یې ختله او لاندې به یې منډې وهلې، سحار رڼایي لګیدلې وه، همداسې هم ښکاریدل خو چې په دوربین کې مې ورته وکتل له څو مختلفو لوریو د سل کسه په شاوخوا کې طالب مرتدین دغه سنګر ته د ورختلو په حال کې وو، په ملګري مې غږ کړ:

حمزه اورې؟

هو وروره، څه حال احوال دی؟

ورته مې کړه: وروره خلک بیا در روان دي ورته تابیا کې شئ.

په خندا یې راغبرګه کړه: بیغمه اوسه موږ ته ښکاري، الله به یې ذلیله کړي، خو نن فضا ډېره خرابه ده، تاسې احتیاط ډېر وکړئ، ملګري ګرځیدو ته مه پریږده.

ورته مې وویل: په سترګو وروره، ملګري احتیاط کوي خو زه حیران یم چې دا رزیلان څنګه په دې طرف راغلل، مخې ته یې د ملګرو دوه سنګرونه وو او له پرون راهیسې هغوی هم رابطه کې نه شته؟

ملګري په شفر کې پوهه کړم: وروره هغوی باندې تیره ورځ دوی پرلاپسې تعرضونه وکړل خو ناکام شول، بیا د معاذ او مسعود دوی سنګرونه جیټانو او ډرونونو سخت بمبار کړل، غالباً ټول به شهیدان وي، نو له هغې وروسته بیا دا د امریکا نوې کمانډویان طالب مرتدین په هغه سنګرونو وروختل او دادی تر دې ځایه د ډرونونو په بدرګه راورسیدل، خه وروره دستي دې الله مل شه، موږ دې خبیثانو ته تیار په مورچو کې یو، شاید رانیږدې وي، که تا څه لیدل مالومات راکوه.

ورته مې کړه: سمه ده وروره.

ډرونونو نن په دې طرفونو بیخي بد حال را اخستی و، ملګرو ته مې د نه خوځیدو او په ځای کیناستو توصیه وکړه، زه خپله د حمزه دوی د سنګر په طرف زیر شوم، تقریبا نیم سات یا درې پاوه وروسته جګړه پیل شوه، طالبانو داسې راکټې ویشتې لکه د پیکا مرمۍ چې ورو‌ي، بیخي یې نوبت نه ورکاوه، خو له څو ساعته سختې جګړې وروسته بیا هم الله ذلیله کړل او بیرته لاندې په منډو وو، مایي مخابره راکشف کړې وه، له خبرو یې پوهه شوم چې مرداران

يي هم د حمزه دوی د سنګر په خوا وشا کې پاتې دي ، خو دا ځل دا خبيثان د مخکې په څېر بيخې لاندې کينوتل بلکې د سنګر نه لېر لاندې يي ځانونه ځای په ځای کړل .

په حمزه مې غږ کړ: کراس نمبر ته لاړو ، له سلامه پس مې ورته کړه : وروره څوک خو خوږ نه ياستئ ؟

په ستړې غږ يي راغبرګه کړه : وروره نصير او هاشم هم د الهام خواته لاړل (الهام مخکې شهيد شوې وو د حمزه مطلب دا ووچې نصير او هاشم هم شهيدان شول) او بشير او ابوبکر مريضان دي ، د ابوبکر وضيت هم خه نه دی ، ستا که قعقاع سره رابطه کيږي ورته وآيه له تيرو دوه ورځو اوبه او خوراک هم نه لرو او ابوبکر انتقال غواړي .

ورته مې وويل : خه وروره الله مو باثباته ساته ، زه به کوشش وکړم چې قعقاع سره رابطه وکړم ، ته خپله څنګه يي ؟

او نور ورونه څنګه دي ؟

په مرژواندې خندا يي ځواب راکړ : زه الحمد لله جوړ يم داسې معمولي چرو وهلی يم ، تشويش وړ نه ده ، خو ملګري زيات تږي دي ، زموږ د اکمال لارې دوی له څو ورځو د څار لاندې ساتلي دي ، تيره ورځ يي هم د اکمال دوه ملګري له ډرون څخه وويشتل ، ملګري سخت تږي او وږي دي ، بس دعاوې کوه ، دوی غواړي موږ ژوندي ونيسي خو د اارمان به ګورته يوسي باذن الله .

ورته مې کړه : خه وروره دا خلک پوره لاندې ښکته نه شول ، ممکن بل پلان ولري ، ورته متوجه اوسئ .

حمزه سره مې الله په اماني وکړه ، د طالب مرتدينو د مخابرو د کشف لپاره مې انتن نور هم لوړ کړ ، لېر وروسته يي په يو نمبر کې د دوه کسانو خپ غږ واوريدل شو ، يو بل ته وايي :

حاجي اغا ته وايه دا خلک سخت مقاومت کوي ، ورته وايه هسې پرې ملګري نور مه خرابوه ، همغه د نورو په شان لوبه ورسره په کار ده .

له مقابل لورې ورته جواب وشو : خه ته صبر وکړه .

زه هم ورته همدې نمبر کې کيناستم ، لېر وروسته غږ شو : مولوي صيب اورې؟

ورته وايي : هو اورم څه غورې سوې .

مقابل لورې يي وآيي : مولوې صيب اجي صيب وآيل ، تاسې صبر وکړئ ، رابطې مو کړي ، دغه سر ايله اوس خارجيانوته مالوم سو .

ددوی په دې خبرو مې زړه مې بې واره ټوپونه شروع کړل ، ددوی له نمبر څخه ووتم په حمزه مې ډيرې نارې ووهلې خو چا ځواب رانکړ ، پوهه شوم چې اوس په همدې څوکه هم ډرون يا جيټ ګذارونه کوي ، ملګرو ته مې وويل : وروره د حمزه دوی سنګر پسې زموږ هم همدا حال دې ، بس داسې کړو چې که دې طرف ددوی تعرضونه شروع شول نو دا څوکه پريږدو او مخ ته ورته کمينونه ورکوو، دا زړې مورچې پريږدو .

يو ځل بيا مې په حمزه غږ وکړ، خه وو ځواب يي راکړ : اورم وروره .

ورته مې جريان ووايه ، پلان مې هم ورسره شريک کړ ، ويل يي موږ يي هم له اندازې همدا فهم واخست ، سمه ده همدا ستا خبره عملي کوو، سره مو الله په اماني وکړه .

ملګرو ته مې وويل : په احتياط ووځئ له خپلو مورچو خه ورلاندې ، نورې مورچې جوړې کړئ دا څوکه پريږدو ، داسې په يو ځآی خه نه يو ، موږ په خپل کار مصروف وو چې د ډرون د څو پرلاپسې ګذارونو تراخه غږونه مو واوريدل ، دغه وخت د حمزه دوی سنګر له ما پنا و، زه لېر لاندې کيوتې وم ، زما څخه په ورپورته مورچه کې مې په خپل ملګري په خاص نمبر کې غږ وکړ:

ځواب يي راکړ.

پوښتنه مې ترې وکړه ؟

ويل يي : وروره د حمزه دوی سنګر يي څلور ګذاره وويشت .

سمدستي مې په حمزه غږونه شروع کړل خو ځواب يي نه کاوه ، زه هم په احتياط پورته مورچې ته وختلم ، په دې خاطر چې د حمزه دوی له احواله ځان خبر کړم ، د ځنګل د سوځيدلو اونو څخه اوس هم لوګي پورته کيدل ، نور نو غرمه وه ، چې کتل مې طالب مرتدين بيا په حرکت راغلل ، مخ بره په ډيره تيزې د ورختلو په حال کې وو، په حمزه مې ډيرې نارې وکړې خو ځواب مې نه مونده .

د ډير درد او خفګان د انتظار په ترخو شيبو کې مې په دوربين په اسانۍ سره د امارتيانو قطارونه ليدل ، چې په پورته بمبار شوي سنګر ورختل ، دوی چې څومره څوکې ته ورنيږدې کيدل ، زما د زړه درزا زياتيده ، لېر وروسته مې د ډزو غږونه تر غوږه شول ، زړه مې خه شو، متبادلې ډزې شروع شوې ، خه شيبه جګړه وشوه ، يو ځل بيا مې کتل چې امارتي مشرکين مړه غوږونه مخ ښکته په منډو وو.

چې جګړه کلاره شوه ، نو دا ځل حمزه خپله راغږ کړ :

د حمزه د غږ په اوريدو مې د نا اشنا خوښۍ احساس وکړ، بې اختياره مې چغې کړې الحمد لله ثم الحمد لله ،وروره ژوندې يي ؟

دا ځل يي د تېر څخه په توپير په پوره ډاډ چې په غږ يي تر ډيره ستړيا نه وه ځواب راکړ : هو الحمد لله تر اوسه خو ژوندی يم .

نور ملګري څنګه دي ، بشير او ابوبکر څنګه شول ؟

اوبه او خوراک څنګه شو ؟

حمزه راته کړه : وروره بشير خو خپله تللی شو ، سحار په دې بله لار خپله ښکته شو ، ابوبکر هم د الهام څنګ ته لاړ (مطلب دا چې شهيد شو) موږ شپږ کسه ملګري پاتې وو، د ډرونونو په ګذارونو کې زبير هم الهام ته ورغی او ستا اشنا خالد هم زخمي دې ، سخت دې دعاوې کوه .

دا ځل دا خبيثان بيخي نيږدې راغلل فکر يي کاوه چې بمبار به ټول

وژلي يو ، موږ هم ستا د پلان په اساس مخ ته وروتلي وو، خه چې له موږ ورتير شول پرې راباندې مو کړل خه مرداره مو ترې د الله په فضل وکړه ، څو کسه مرداران يې هم پاتې شول ، موږ ته د همدوی په لاس الله اوبه راورسولې ، درې څلورو سره پټکونو کې اوبه وې، په هغې مو گذاره وکړه ، د يو خبيث د واسکټ جيبونه د بادامو او مميزو څخه ډک وو، په وينو يې هم لړلې وو، او د نصوارو بوی يې هم کاوه ، ومو نه خوړل .. دې خبرې سره يې نری خندا وکړه .

زه حمزه سره په خبرو وم چې د کروز درنو چاودنو مې له وارخطايي له لاسه مخابره وغورځوله ، پروت مې وکړ ، چې کتل مې پرلاپسې دولس کروزونه راغلل او د حمزه دوی له سنگر او خوا وشا څخه دوړې او لوگي پورته شول .چې کروزونه ختم شول په حمزه مې ډيرې ناري وکړې خو غږ يې رانکړ .

پوهه شوم چې ټول شهيدان شول ، راسره ملگرو ته مې ويل اوس نو نوبت زموږ د سنگر دی ، ممکن بيگا ته او يا هم سحار وختي دلته دا خبيثان تعرض وکړي ، د ملگرو مورالونه خورا لوړ وو، هر يو يې په خپلو انفرادي مورچو کې ناست وو، موږ سره هم خوراک ختم و، اوبه يو څه وې خومشکل دا وو چې ملگرو حرکت نه شو کولای له خپلې اصلي مورچې او مرکز څخه مې په فرعي مورچو خواره کړي وو، او اوبه په بره سنگر کې وې ، په ډيره سخته به ملگري ورتلل ، يوه بوشکه اوبه مو درلودې نور لوښي هم نه وو ، چې په خپلو انفرادي مورچو يې وويشو ، نور نو قضا ماذيگر و، د حمزه دوی په بمبار شوي سنگر طالب مرتدين ورختلي وو، چې مخابرو ته يې لاړم ، زموږ ددې قوي سنگر د فتحې مبارکي يې يو بل ته ورکوله ، ويل يې دا يې ډير محکم سنگر و، نه پوهيږو دې کې څه بلاگانې ناستې وې ، خو خه سوه له يوه مخه ختم دي .

سبا لس بجې وې چې خبره زموږ تر سنگر راورسيده ، څه به مو سر خوږوم ، د طالب مرتدينو څو پرلاپسې بريدونه الله ورمات کړل ، په موږ هم د ډرونونو گذارونه شروع شول ، موږ چې د څوکې کوم سنگر پريښې وو، هغه يې لومړي وويشت له اوبو ،اضافه مهماتو او نورو ضروري شيانو يې خلاص کړو ، او بيا به د طالبانو له هر بريد وروسته زموږ انفرادي مورچې هم تشخيص کيدلې او بمباريدلې ، موږ دولس کسه ملگري وو، وخت په وخت راڅه ملگري زخميان کيدل او شهيدانيدل ، په موږ اخري گذارونه د B1 وو، اکثره ملگري شهيدان شول ، فقط درې څلور ملگري په زخمي حالاتو کې کوز شول ، دغه وخت بيخي ځانته پاتې شوم ، مهمات هم راسره ختم شول، د مخابرې سيلونو هم کار پريښود او نور مو نه درلودل ، زه روغ وم ،خو ما هم خپله مورچه له مجبورۍ پريښوده .

او بيا نو پرلاپسې همدا لوبه د مرکخيلو له تنگي د هسکې مينې تر مرغه پورې راورسيده ، په هر سنگر کې به ددوی د پرلاپسې ماتې وروسته د امريکآيي کرزونو ، ډرونونو او نورو غټو طيارو د درنو بمبارونو وروسته زموږ د ملگرو په سوځيدلو جسدونو طالب مرتدين راختل ، د فتحې ناري به يې وهلې او يو بل ته به يې زيري ورکول ، کله ، کله به ورته د ملگرو حوصله ختمه شوه ،په مخابرو به يې ورسره بحث شروع کړ چې : تاسې څنگه مجاهدين ياست امريکا مو هوايي ملاتړ کوي ؟

هر طالب به يې په قهقه وخندل او ويل به يې : دې ته سياست وايي ، داعشيانو نورې کېسې مه کوئ تغر مو نور درټول کړی دی ، ځانونه ټينگ کړئ ، موږ ظالمان په ظالمانو وهو ..تاسې ماشومان ياستئ په دې کېسو نه پوهيږئ ، تاسې هم کافر ياستئ او امريکايان هم کافر دي د يو کافر وهل په بل ، دا زموږ د مشرانو سياست ده .

يوه ورځ يې يوه طالب سره زموږ يو ورور غږيده طالب ورته وايي : دا خو زموږ د ملا بردار اخوند کارنامه ده چې داسې مات وگوډ کړئ .

ملگري ورته ويل : هو ته خه وايي هغه پښتانه يو متل کوي چې : برگ سپي د ليوه ورور وي .

ملگري تر دې ځايه کسه راورسوله ، زه او راسره ملگري ورته بيخي گوته په غاښ حيران او چوپ ناست وو.

ورته مې کړه : وروره الله عزوجل به دا رزيلان خاماخا رسوا او شرمنده کوي ، دا راته ووايه چې د ملگرو شهادتونو او جدايي خو به ډير زورولې يې په دې جگړو او جنگونو کې دې کومه سخته صحنه وکتله چې د يوې خاطرې په څېر به درسره د عمر تر پايه مله وي او هيره به دې نه شي ؟

ملگري غاړه تازه کړه ، چې ورته مې وکتل په غټو سترگو يې د اوښکو پردې غوړيدلې وې د دردونو څخه د ډک اسويلي په ملتيا يې يو ځل بيا خبرې پيل کړې :

وروره په دې ورستيو کې خو زيات تکړه او مخلص ملگري د طالب مرتدينو په ملاتړ امريکايي خنځيرانو بمبار کړل او د اکثرو يې سوځيدلي جسدونه په سنگرونو کې پاتې شول ، خو زه دېوې صحنې په ليدو ډير ودرديدم او هغه دا وه چې کله د ملوې او مرغې په طرفونو کې جگړه روانه وه د طالب مرتدينو په ملاتړ سخت ډرونونه ، او کروزونه هم راوريدل او طالب مرتدين بې خاره او بې ډاره زموږ په بمبار شويو سنگرونو راختل ، زه په يو سنگر کې زخمي شوم ، ملگرو را رخصت کړم ، چې راکيوتلم نو په يو خوړ کې مې درې څلور کسه مجاهدين وکتل چې ډرون ويشتلي وو، چې نيږدې ورغلم نو مسلم پاچا مې په کې وپيژانده ، ږيره او ويښتان يې په گردونو خړ ، پړ وو، کله مې چې د پاچا خړ سر او خړه ږيره وکتله نو ماته هغه ورځ رايادە شوه چې موږ د مسلم پاچا د مور او بچو په شمول دده د تره د زوی فلاح الدين د بچو جسدونه موچې کله د طالبانو د ورونو امريکايي درنده گانو له لورې د بمبار شوي کور څخه راويستل نو د ړنگو کوټو له منځه مو د يو ماشوم زگيروې واوريد ، زر ، زر مو هغه ساحه راوسپړله چې کتل مو د مسلم پاچا کشری زوی محمد و، په زخمي حالات کې مو په منډه راوويست، محمد مو د اوغز په طرف د تداوۍ لپاره وليږه ، چې کتل مې مسلم له بره غره څخه راکوزيده ، چې راورسيد نو په مخ او ږيره يې همدغسې خړگردونه پراته وو، چې خپل ړنگ کور ته راورسيد نو پوښتنه يې وکړه : کوم کس ژوندی پاتې دی که نه ؟

موږ ورته بې ځوابه شو، ما ورته وويل بس صبر کوه دا د الله فيصلې دي ، په تقدير راضي اوسه ، فقط محمد مو ژوندی راوويست ، نور جسدونه لا بند پاتې دي ، بيا نو په شريکه لگيا شو او د ښځو او ماشومانو په شمول مو د ديارلس کسانو جسدونه له ړنگو کوټو راوويستل .

څو ورځې وروسته بيا د ملوې خوړ کې انگور کلا په طرف روان وم چې له هغې لورې دوه کسه راروان وو، سخت حالات وو، ډرونونه بيخي زيات وو، چې رانيږدې شول، ومې پيژندل يو يې مسلم پاچا و، خپل زخمي زوی محمد يې په اوږه را اړولې و، له روغبړه وروسته يې راته کړه : د محمد علاج اوغز کې ونه شو، اوس يې مرغې ته اړوو که چرته يې ښکته د کوزيدو ترتيب الله برابر کړي او لاندې يې چرته تداوي وشي .

په دغه ورځ مې چې هم وکوت د مسلم پاچا ږيره او ويښتان په گردونو خړ وو.

زما به دا سترې ، ستومانه ، عاجزه ، فقير او مخلص مجاهد هيڅکله هير نه شي ، چې په هر حالات کې به مې وکتلو نو دا به د جهاد په دې اغزنه لار سترې ستومانه په يو طرف خامخا په منډه و، او چې کله به مې وکتلو نو په ږيره او ويښتو به يې د جهاد د لارې گردونه ناست وو، آن تر دې چې کله مې له شهادته پس ددې جسد هم په يو خوړ کې وکتلو په ږيره او ويښتو يې خړ گردونه پراته وو.

همدې خبرو سره ملگرې چوپ شو ، مخ يې له موږ څخه په خپله څنگل پټ کړ او خه ډير يې وژړل .

شيبه وروسته يې په لمدو سترگو راوکتل او اخري خبره يې دا وکړه چې : ما د خپلو ډيرو ټوټه ، ټوټه ملگرو جسدونه راټول کړي خو ورته مې ژړلي نه دي خو کله چې مې د مسلم پاچا جسد وکتلو ، نو هغه وخت مې هم خپلې اوښکې تم نه شوې کړای او دادی تر مرگه به راسره د مسلم پاچا د جهاد په گردونو د خړې ږيرې او خړو څڼو دا تصوير په سترگو کې وي .

ملگرې خپلې خبرې ختمې کړې ، بيک يې غاړې ته واچوه او له موږ يې اجازه واخسته په خپله مخه لاړ .

خو څو ورځې وروسته خبر شو چې دا هم شهيد شو.

تقبله الله .

د ممبر او سنگر سړی

د مامند په اسمان د امريکايي بي پيلوټه الوتکو شمار نه کيده ، بهر د خلکو حرکت نه ترسترگو کيده ، موږ هم د يو خوږ په غاړه د لاري په سر په يو اوچت ځاى کې د گڼو ونو لاندې کيناستو ، هدف مو دا و، که دا ډرونونه لږ ورک شي نو حرکت به وکړو.

موږ په همدې تمه د انتظار ترخې شيبې شميرلې چې له لرې مو په يو کس نظر ولگيد ، په لوڅه لار زموږ په لور په گړندو گامونو راروان دى ، د هر قدم اخستو سره يې زموږ د زړونو درزا زياتيده او همدا دعاوې مو کولې چې الله زر يې دغه پورې گڼو اونو ته په خير ورسوه ، هره شېبه په همدې انتظار وو چې اوس به پرې ډرون بريد کوي ، ځکه هغه د افريدو مجاهدينو خبره چې: ډرونونو هم د گذار کولو گيرونه ورکول .

اخر هم ځوان په چټکو قدمونو د اونو بڼ ته راورسيد او زموږ له سترگو پنا شو .

يو څه ځنډ وروسته مو شاته ښکالو تر غوږه شوه ورسره سم مو غږ واوريد !

څوک ياست !

دلته څه کوئ ؟

چې ورمخ مو کړ ، نو همغه ځوان وو چې څو شيبې مخکې موږ له خوړه پورې د پټو په منځ کې په يوه لوڅه لار د راتلو په حال کې ليدلې وو.

هو!

دا مولوي صيب احسان الله (شاکر) و، زموږ په ليدو يې په شونډو خوږه خندا خوره شوه ، په ورين تندي يې غيږ خلاصه کړه ، ما او ملگري ته مې کلک ، کلک راغاړيوت .

له روغبړه وروسته يې راته کړه : الله بنده گانو په دې ډرونونو کې داسې حساس ځاى کې ناست ياستئ ، ما فکر وکړ چې نور څوک دي ، ځکه درپسې له ډير لرې راغلم ، ما ويل هسې نه څوک خطرناک خلک نه وي په داسې ځاى کې ناست دي چې ټول مامند ترې څارل کيږي ، چاته ضرر ونه رسوي .

موږ هم په خندا ورغبرگه کړه : ان شآء الله ستاسې په څېر ويښ او بيداره ورونه چې وي نو جواسيس دومره جرآت نه شي کولاى.

مولوي صيب هغه وخت د امنيت اداره کې و ، شپه او ورځ به په خدمت بوخت وو، د ويرې او ډار سړى نه و، په داسې سختو ډرونونو کې موږ له لرې ليدلي وو او په دې خاطر چې ځان مطمين کړي ، د خپل ځان پروا يې ونه کړه او د مالوماتو ترلاسه کولو لپاره په داسې حال کې زموږ څنگ ته راورسيد چې موږ پرې په ورستيو کې هيڅ پوهه نه شو.

مولوي صيب احسان الله شاکر ته الله عزوجل پراخه استعدادونه ورکړي وو، د رهبرۍ او قيادت سړى و، په ځوانۍ کې يې د الله عزوجل د نظام د قيام په لاره کې زيات ستر خدمتونه او کارونه وکړل .

خپل نوم يې رضوان او د پلار نوم يې زبير و، دباجوړد اتمانخيل د عليزو د کلي و، له کوچنيوالي څخه يې ديني ذده کړو سره ډيره مينه وه ، په ماشومتوب کې ديني ذده کړې پيل کړې او د علم حاصلولو په موخه په مختلفو مدارسو وگرځيد،په تنکۍ ځوانۍ کې يې د حديثو دوره وکړه له فراغت وروسته يې د پاکستان مرتد فوځ په خلاف د جهاد ډگر ته راودنگل ، اخر يې د جهاد په اغزنه لار د تل لپاره د تللو نيت وکړ او له خپل کلي څخه د هجرت په نيت ووت، هغه وخت به مولوي صيب اکثره په داخلي تشکيلونو کې پاتې کيده ، د پاکستان په مختلفو سيمو او ښارونو کې ډير زيات پاکستاني فوځيان او د آى ايس آى ايجنټان د تېرو مردکو ښکار کړل ، مولوي صيب احسان الله شاکر د ډار سړى نه وو، د پاکستاني مرتدينو لپاره د مرگ او ډار په پيغام بدل شوې وو، دوه ځله بندي هم شو ، خو نوموړى دومره کلک انسان و، چې د سختو شکنجو باوجود يې هم کوم ثبوت پرې ونه موند او بيرته به الله عزوجل را اذاد کړ، کله چې په نړۍ د اسلامي خلافت د ظهور لمر وپرقيد ، نو مولوي صيب هم له خوشالۍ څخه په جامو کې نه ځايده ، د اسلامي خلافت په اړه يې لا له پخوا مطالعه او مالومات درلودل او ددې داعيې د لارويانو مجاهدينو په اړه يې چې تحقيقات وکړل نو بيخي يې زړه مطمين شو، لا يې اسلامي خلافت سره بيعت نه وو کړى چې په خپلو ليکو کې يې اسلامي خلافت لپاره دعوت شروع کړ، د مولوي صيب په دعوت گڼ ملگري يې د اسلامي خلافت سره يو ځاى شول ، مولوي صيب له لومړنيو کسانو څخه وو چې ننگرهار ته يې د اسلامي دولت تمکين ته هجرت وکړاو له همغه پيله يې په ډيرو سترو معرکو کې برخه واخسته ، مولوي صيب له لومړي سره ، د هر بريد او هرې دفاع سر لارى و، په هره جگړه کې به په لومړۍ ليکه کې روان و، دده په لاس الله عزوجل همغه مهال په خراسان ولايت کې د اسلامي دولت تمکين ته ډير قوت ورکړ، ډير وخت به د خپلو مجاهدينو ملگرو قومانده د همده په غاړه وه ، هغه وخت يې ډير امارتي مشرکين او د جمهوريت مرتدين له تيغه تېر کړل ، په ډيرو جگړو کې خپل جوهر وښود او ورسره استعدادونه يې پټ پاتې نه شول ، د مولوي صيب نوم د هر ووړ او زوړ په خوله و، په مشرانو او کشرانو زيات گران و، د خپل اخلاص ، ذکاوت ، ديانت او شجاعت له وجې د خراسان لومړي والي حافظ سعيد خان تقبله الله ته هم ډير نيږدې و،نوموړى يې هغه مهال د امنيت د ادارې معاون وټاکه او ددې ترڅنگ به چې چرته کومه سخته جگړه او سخت محاذ و، نو حافظ صيب به مولوي صيب ور استاوه ، او مولوي صيب به هم د الله په مرسته او فضل له هرې جگړې او هر محاذه هسکه غړى گټونکى راستنيده .

مولوي صبب په هره برخه او هر ميدان کې د خپل نظام په خدمت بوخت و، هر استعداد يې چې درلود نو د اسلامي نظام د قيام او دوام لپاره يې ترې کار اخست ، د نورو ډيرو مصرفيتونو سره ، سره مولوي صيب د دعوت د دريځ سرلارى هم و، الله عزوجل د پراخه علميت سره ډيره فصيحه او خوږه ژبه هم ورکړې وه ، مولوي صيب به د خلافت غږ راديو څخه بيانات هم کول او ددې ترڅنگ د انقلابي شعر د ليکنې ډير لوړ استعداد او عالي فکر يې هم درلود ، چې ډيرى وخت به د خلافت غږ راديو د څېړۍ سيوري مشاعره کې د مولوي صيب شعر مولوي صيب په خپل غږ وړاندې کاوه

د خراسان د لومړي والي حافظ سعيد خان له شهادته وروسته د خراسان دويم والي هم مولوي صيب شاکر ته ډيره مينه ورکوله ، او خه پوره باور او اعتماد يې پرې درلود او د حافظ صبب په څېر به يې هر سخت محاذ ته مولوي صيب استاوه ، مولوي صبب د امنيت په اداره کې هم ځانگړې پرمختگونه درلودل او په ډيرو سختو شرايطو او حالاتو کې يې د امنيت اداره ډيره منظم وساتله او ډيرې لاس ته راوړنې يې هم درلودې ، مولوي صيب احسان الله هغه څوک و، چې ستړيا يې نه پيژانده په ډيره مينه او اخلاص يې

د اسلامي نظام هر خدمت ته اوږه ورکوله ، هغه مهال به د امریکایانو سترې او مجهزې قوې په تمکین د بریدونو لپاره راتللې او که به هر تعرضي یا دفاعي برید و، نو د ډېری بریدونو قومانده به د مولوي صیب په لاس کې وه ، په همدې لړ کې یو ځل د مامند شډل سیمې ته د امریکایانو یوه ستره او مجهزه قوه راغله چې د پراخه هوایي ملاتړ څخه هم برخمنه وه ، دوی په ډېر کبر او غرور غوښتل چې په مامند راداخل شي ، د خراسان دویم والي شیخ صیب عبدالحسیب تقبله الله مولوي صیب د تعرضي ګروپونو امر وټاکه او په دغه ستره قوه د برید لپاره یې شډل ته واستاوه ، احسان الله مولوی صیب په دغه ستره قوه له برید وړاندې تعرضي ورونو ته یوه انقلاب خیزه وینا وکړه ، په خپلو خبرو کې ټولو ملګرو ته د جګړې داسې مورال او روحیه ورکړه چې هر یو ملګرې د شهادت لیونۍ تندې واخست او په دښمن د ورغوړه کیدو په لټه کې شو ،د مولوي صیب ددغه وینا یوه جمله داده (امریکایان له سلګونو میله لرې ځای څخه راغلي او دادی غواړي چې د مامند دره هم له موږ څخه واخلي دښمن موږ پسې دي درې ته راننوزي موږ چې بیا په ډېر بدحالت کې د خروې او خښکي په ناونو کې وژني نو دا خه نه ده چې په همدې شډل کې یې غاښونه وروبریښوو؟)

له وینا وروسته یې په ډېرې عاجزۍ د ژړا په ملتیا د الله عزوجل څخه د مرستې غوښتنه وکړه ، له دعا وروسته یې ملګري منظم کړل او د دښمن په لوریې په داسې حال کې حرکت وکړ چې راکټ یې په اوږه و او د ټولو ملګرو مخ ته روان و، دا ډېره سخته جګړه وه ، د امریکایانو په مجهزه تعرضي قوه برید کول ددې میړنیو زلمو یو عدت ګرځیدلی و، د څو ساعته پرلاپسې سختې جګړې وروسته له دښمن څخه د جګړې په ډګر کې مرداران او ایم بي عرادې هم پاتې شوې او پښې یې سپکې کړې ، په دغه جګړه کې مولوي احسان الله شاکر هم دښمن ته ډېر نیږدې شوی و، چې مخامخ په سینه یې مرمۍ وخوړې ، خپل ارمان ته ورسید او د الله عزوجل لور ته ورغی.

تقبله الله .

د خلافت د مجاهد پيغام

يم خوښ چې د الله لور ته ورځم ټوټه ټوټه
بريا ده چې د رب لاره کې شم ټوټه ټوټه

شو جوړ به سره مهر باندې ای جنتي حورو
زخمي غواړې ټټر که مې سر کړم ټوټه ټوټه

بچی د ابراهيم يمه، هر شرک ځيني بېزاره
بوتان به د نمرود ټول ماتوم ټوټه ټوټه

بچو د فرعونيانو له وحشت ډکو چاپو کې
بيا کړل معصوم بچيان ډير په ستم ټوټه ټوټه

د وخت منافقينو دين تحريف کړ، کړي پرې لوبې
لگيا يمه خوږ دين راټولوم ټوټه ټوټه

اقصی که اندلس که بخارا که خراسان دی
شيندلی امت بيا يوځای کوم ټوټه ټوټه

زندان له طواغيتو به خورکی آزادومه
کړم زر به يې ولچکونه په قسم ټوټه ټوټه

زړگی به مې شي يخ شروع چې هره خوا وي فتحې
او نسکور ټول طاغوتيان چې ووينم ټوټه ټوټه

نو هله به رښتيني مجاهد د خلافت يم
شهيد چې شم ستا لاره کې او يم ټوټه ټوټه

مؤسسة العزائم الإعلامية

سيرة النبي صلی الله علیه وسلم

سيرت ديارلسم درس

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

محترمو مسلمانانو ورونو، د نبي عليه السلام د سيرت مباركه لړی د صحيح احاديثو په رڼا کې شروع وه، تير درس کې تر دې ځای پورې خبره رسيدلې وه، چې نبي عليه السلام توحيد دعوت جهري کړی و، او مسلمانانو باندې هري خوا نه مظالم شروع و، اوس د الله په توفيق سره د دغه مظالمو تذکرې ته ادامه ورکوو.

د ابو ذر رضي الله عنه اسلام قبلول او د مشرکانو ردعمل:

د اسلام د لومړيو اتلانو ژوند انځور د ابو ذر رضي الله عنه د ايمان قبلولو واقعه کې هم ښکاري، حافظ ابن حجر په فتح الباري کې وايي چې ابو ذر رضي الله عنه اسلام د ابتدايي دوه کالو څخه وروسته و، او دا خبره يې سمه ده ځکه دعوت جهري شوی و، د مکې څخه د اسلام دعوت د مديني ليرې پرتو سيمو ته رسيدلی و.

د ابو ذر رضي الله عنه د اسلام واقعه يوه د عبد الله عباس رضي الله عنهما نه صحيح البخاري او مسلم کې نقل ده، او بل روايت يواځې د مسلم دی، د عبد الله بن صامت نه چې د ابو ذر رضي الله عنه وراره دی، دواړو کې تطبيق لږ ګران دی، ځکه احوال پکې بدل بدل دي، خو بيا هم ترجيح به هغه روايت ته وي، چې بخاري او مسلم پرې اتفاق کړی وی. مونږ به دلته دواړه روايتونه ذکر کړو. ان شاء الله.

ابو ذر غِفاري د غِفار د قبيلې څخه او دغه قبيله مدينې منورې ته نږدې پرته وه، دغه قبيله په غلا او لار نيولو مشهوره وه، دې قبيلې حرامې مياشتې حلالولې يعني: په حرامو مياشتو کې يې هم جنګ او تجاوزونه کول، خو په خپله ابو ذر رضي الله عنه د هغو خلکو څخه و چې د شرک د اعمالو څخه بيزاره او موحِّد و، په حق دين پسې ګرځيده، اسلام راوړلو ترمخه يې الله جل جلاله ته لمونځ کاوه. امام مسلم او امام احمد د هغه د اسلام واقعه بيانه کړې ده:

چې ابو ذر رضي الله عنه وويل: زه، زما ورور اُنَيس او زموږ مور د خپلې قبيلې څخه چې د غِفار قبيله وه را ووتلو او زموږ د قبيلې دا عادت و چې حرامې مياشتې يې حلالولې، ترڅو چې زموږ يوه ماما ته ورغلو چې هغه د مال او عزت خاوند و، زموږ ماما زموږ عزت وکړو او ښه معامله يې را سره وکړه، خو د هغه قوم زموږ سره حسد پيدا شو چې دا بيا څوک دي چې دلته راغلي او ما ته يې وويل: کله چې ته د خپله اهله څخه را وتلې، اُنيس به دې خپلې کورنی ته پرې ايښی وای، په دغه وخت کې زموږ ماما راغلی موږ هغه ته د ده د قوم حال وواېه، داسې معلومېدل چې د ده هم دغه فکر و، نو موږ ورته وويل: هغه نيکې چې دې د مخه را سره کړې وې هغه دې عبث او ضائع کړې او بيا به هيڅکله ستا مخ ونه وينو، موږ هغه خپلو اوښانو ته ور ولاړ شوو او خپل سامان مو پرې بار کړل، ماما مو سر په څادر کې پټ کړو او ژړل يې، موږ روان شو څو مکې مکرمې ته نږدې شو. اُنيس يو کس سره جنجال شو او د اوښانو يا ګډو او بيزو شرط يې کيښود. [يو بل باندې يې په شعر کې فخر کاوه] نو دواړه کاهن ته لاړل نو هغه أنيس غوره کړ، نو هغه بيرته د اوښانو سره مونږ ته راغی.

ابو ذر رضي الله عنه ورته وايي: اې وراره! د مخه تر دې چې زه د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ووينم ما درې کاله لمونځ کاوه، هغه ورته وويل: چا ته دې کاوه؟ ويل الله ته، ده ورته وويل: د لمانځه په وخت کې دې مخ کومې خوا ته کاوه؟ ابو ذر رضي الله عنه وويل: هري خوا ته چې به مې الله جل جلاله مخ برابر کړو او د ماخستن لمونځ مې د شپې ترآخره کاوه. ابو ذر رضي الله عنه وايي: کوم وخت چې موږ مکې مکرمې ته نږدې شو زما ورور اُنيس وويل: زه په مکه مکرمه کې کار لرم ته تر هغو زما انتظار کوه چې زه بيرته راځم او دا لاړو، خو ډير وځنډيدو، کله چې راغلی ما وويل: ولې وځنډېدې؟ ده ويل: يو سړی مې وليدو داسې دعوه يې کوله چې الله جل جلاله دغه ستا په دين را لېږلی دی، وايي: ما ورته وويل: چې خلکو د ده په باره کې څه ويل؟ وررو مې وويل: خلکو ويل: چې شاعر، ساحر او کاهن دی، ابو ذر رضي الله عنه وايي زما ورور اُنيس شاعر و او نور يې هم راته وويل: ما د کاهنانو خبرې اورېدلې دي، د هغو پر قسم خبري يې نه کولې او د ده قول مې د شعر په ترازو کې واچاوه په والله هيڅوک به دا ونه وايي چې دا شعر دی، په والله دا صادق دی او خلك دروغ وايي، ابو ذر وايي: ما خپل ورور ته وويل: آيا ته تر هغو زما انتظار کوې چې زه ورشم او په خپله يې ووينم؟ وررو مې ويل: هوا! خو د مکې خلکو سره ډير احتياط کوه چې دوی د ده سره دښمني کوي او څوک نه ور پرېږدي چې خبري يې واوري، ابو ذر رضي الله عنه وايي: زه روان شوم ترڅو مکې مکرمې ته ورسېدم، هلته مې کتل يو ضعيفه سړی مې پيدا کړو او د هغه څخه مې پوښتنه وکړه، ما ويل: هغه څوک چې تاسي واياست د دينه اوښتی دی چيري دی؟ سړي ما ته اشاره کړه او ناري يې کړل: دغه دی د دينه اوښتی، د مکې ټول خلك را باندې را ټول شو په ډبرو په هډوکو هر څه چې په لاس ورځي په هغه مې وهي ترڅو چې بې هوشه ولوېدم، نه پوهېږم چې څه وخت را پورته شوم خو داسې وم لکه سور منار، [ټوله په وينو لړلی وم] د زَمزَم څاه ته ورغلم اوبه مې وڅښلې او هغه وينې مې د ځانه څخه ووينځلې او بيا د کعبې پردو لاندې شوم. ابو ذر رضي الله عنه وايي:

اې وراره! تقريباً يوه مياشت مې په مکه مکرمه کې تېره کړه او د خورلو ډياره مې هيڅ شی نه درلودو فقط د زَمزَم اوبه څښکلې، تر داسې اندازې چاغ شوم چې نس مې ګونجې وکړې (يعني: خېټه مې پيدا کړه) او په خپله سينه کې مې هيڅ لوږه نه حسول، ترڅو چې د سپوږمۍ په رڼا يوه روښانه شپه پر اهل مکه راغله او په دغه شپه کې الله جل جلاله د مکې په خلکو خوب غالبه کړو.

پر کعبه مبارکه هيچا طواف نه کاوه بيله دوو ښځو، دغه دوې ښځې چې پر ما راغلې په دغه وخت کې يې په خپلو دعاوو کې إساف او نائله يادول او بلل، ما ورته وويل: دغه دوه څه صفت لري دا خو هغه دوه زنا کاره دي. ابو ذر رضي الله عنه وايي دغو دوو ښځو په نارو او غالمغال شروع وکړه او ويل کشکي زموږ د نفرو څخه يو څوک دلته موجود وای. ښځې په دغه نارو کې د حرم شريف څخه وتلې چې د ها خوا څخه رسول الله صلي الله عليه وسلم او ابوبکر الصِدِّيق رضي الله عنه د غره د طرفه څخه را کښته کېدل، دغه ښځې په مخه ورغلې د ښځو څخه يې پوښتنه وکړه: څه درته پېښه ده ؟ ښځو ويل: د کعبې تر پوښو [پردو] لاندې يو د دينه اوښتی

سړی دی، دوی ویل چې هغه سړي څه وویل؟ ښځي وايي: داسي خبره يې وکړه چې خوله پرې ډکيږي، [ډيره لويه خبره يې وکړه]. ابوذر رضي الله عنه وايي: بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم او د ده ملګری راغلل حجراسود يې مسحه کړو، د کعبې طواف يې وکړو او لمونځ يې وکړو (ابوذر رضي الله عنه پوهه شو چې همدا زما د مطلب سړی دی) ابو ذر رضي الله عنه وايي: زه ورغلم او زه اول هغه څوک وم چې د اسلام په تحيه سره مې تحيه ورته وويل، [السلام عليکم مې ورته وويل] رسول الله صلي الله عليه وسلم راته وويل: عليک و رحمة الله او ويې ويل: د کوم ځای يې؟ ما ورته وويل: د غِفار د قبيلې، رسول الله صلي الله عليه وسلم لاس پر تندي کېښودو، ابو ذر رضي الله عنه وايي ما د ځانه سره وويل: لکه دا چې يې نه شوه خوښه چې ما د ځان نسبت د غِفار قبيلې ته وکړو، دا إراده مې وکړه چې لاس يې ونيسم، خو د ده ملګري (چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم په عادت تر ما ډير خبر و او پوهېدو) زه منعه کړم، بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم راته وويل: د څومره مودې راهيسي دلته اوسيږې؟ ما ويل: تقريباً د ديرشو شپو او ورځو په منځ کي، نو ويل: خواړه چا درکول؟ ما ويل: خواړه مې نه درلودل فقط د زَمزَم اوبه مې څښلې او زه پرې چاغ شوم حتی خېټه مې وکړه او په سينه کي مې هم هيڅ لوږه نه ده حس کړې، رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: هو دا مبارکې اوبه دي او دا اوبه د وږي سړي غذاء ده، ابوبکر الصِدِّيق رضي الله عنه وويل: يا رسولَ الله! اجازه راکړه چې نن شپه زه ده ته خواړه ورکړم. رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: هو ور يې کړه.

بيا نو رسول الله صلي الله عليه وسلم او ابوبکر الصِدِّيق رضي الله عنه روان شو او زه هم ورسره ملګری شوم ترڅو چې ابوبکر رضي الله عنه يوه دروازه خلاصه کړه او موږ ته يې د طائف د مميزو څخه يو څو موټي راکړل. ابو ذر رضي الله عنه وايي: دا نو هغه اول خواړه وه چې ما په مکه کي وخوړل او څومره چې الله جل جلاله را ته مقرره کړي وه هغومره په مکه کي پاتې شوم او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم راته وويل: زه يوې داسې ځمکې ته بېول کېږم چې ډيري خرماوي لري او زه ګمان نه کوم چې بل ځای دي وي بېله يثرِبه، آيا ته ستا قوم ته زما د طرفه تبليغ او دعوت کوې؟ ښايي چې الله جل جلاله په تا سره دوی ته نفعه ورسوي او تا ته د دوی په سبب اجر او ثواب درکړي، ابوذر رضي الله عنه وايي بيا نو د مکې مکرمې څخه روان شوم تر څو زما ورور اُنيس ته ورغلم، هغه را ته وويل: څه دي وکړل ؟ ما ويل: زه مسلمان شوم او د هغه سړي تصديق مې وکړو، اُنيس ويل: زه هم نه غواړم چې بېله ستا د دين څخه بل دين اختيار کړم، زه هم مسلمان يم او د رسول الله صلي الله عليه وسلم تصديق کوم، بيا موږ دواړه زموږ مور ته ورغلو هغې ته مو خپل دين او حال ووايه، هغې ويل: زه هم ستاسي د دين څخه مخالفت نه کوم زه هم مسلمانه يم او هغه څه منم چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يې وايي، نو موږ د دغه ځايه څخه روان شو، څو خپل قوم او د غِفار قبيلې ته ورسېدلو او هلته مو په دعوت شروع وکړه. د مخه تر دې چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مدينې منورې ته راشي زموږ د قوم ځينې خلك مسلمانان شو او ځينو ويل: کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مدينې منورې ته راشي موږ اسلام راوړو، کله چې بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم مدينې منورې ته راغی هغه نورو پاتې خلکو هم ايمان را وړو.

او بيا د أسلم قبيله چې غِفار ته نږدې وه مدينې منورې ته راغله او ويل: يا رسول الله! موږ هم پر هغه څه ايمان را وړی دی کوم چې زموږ ورونو د غِفار قبيلې پر را وړی دی، د أسلم قبيله هم مسلمانان شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: «غِفار غَفَرَ اللهُ لَهَا، وَ أسلَم سَالَمَهَا الله». غفار قبيله دې الله وبښي او أسلم دې الله سالمه لري. [صحيح مسلم او مسند أحمد]

سبحان الله، اې لوستونکيه وروره، د ابو ذر رضي الله عنه د اسلام راوړلو بيان مو واوريدو، رازه چې لږ خپل سر ګريوان کې ښکته کړو او د دغه مبارک صحابي د حق پلټنې خواري راپه زړه کړو، ګوره يوه مياشت د خواړو پرته په بيت الله کې تيروي، ورزې او شپې د خپل هدف پسې کوشش کوي، وهل ډبول يې وخوړل خو کفارو ته تسليم نشو، سرټيټی نشو، د شپې يې هر راتلونکی څاروو تر دې چې يوه ورز خپل هدف ته ورسيدو، آيا زما او ستا همت او عزم د ابوذر رضي الله عنه نيمايي همت ته رسيږي ؟؟

دويم حديث چې صحيح البخاري او صحيح مسلم دواړو راوړی دی، او اکثرو علماؤ د ابو ذر رضي الله عنه دې حديث ته راجح ويلي دي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي:

قَالَ أَبُو ذَرٍّ: كُنْتُ رَجُلًا مِنْ غِفَارٍ، فَبَلَغَنَا أَنَّ رَجُلًا قَدْ خَرَجَ بِمَكَّةَ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ، فَقُلْتُ لأَخِي: انْطَلِقْ إِلَى هَذَا الرَّجُلِ كَلِّمْهُ وَأْتِنِي بِخَبَرِهِ، فَانْطَلَقَ فَلَقِيَهُ، ثُمَّ رَجَعَ، فَقُلْتُ مَا عِنْدَكَ؟ فَقَالَ: وَاللَّهِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَأْمُرُ بِالخَيْرِ وَيَنْهَى عَنِ الشَّرِّ، فَقُلْتُ لَهُ: لَمْ تَشْفِنِي مِنَ الخَبَرِ، فَأَخَذْتُ جِرَابًا وَعَصًا، ثُمَّ أَقْبَلْتُ إِلَى مَكَّةَ، فَجَعَلْتُ لاَ أَعْرِفُهُ، وَأَكْرَهُ أَنْ أَسْأَلَ عَنْهُ، وَأَشْرَبُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ وَأَكُونُ فِي المَسْجِدِ، قَالَ: فَمَرَّ بِي عَلِيٌّ فَقَالَ: كَأَنَّ الرَّجُلَ غَرِيبٌ؟ قَالَ: قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَانْطَلِقْ إِلَى المَنْزِلِ، قَالَ: فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ، لاَ يَسْأَلُنِي عَنْ شَيْءٍ وَلاَ أُخْبِرُهُ، فَلَمَّا أَصْبَحْتُ غَدَوْتُ إِلَى المَسْجِدِ لِأَسْأَلَ عَنْهُ، وَلَيْسَ أَحَدٌ يُخْبِرُنِي عَنْهُ بِشَيْءٍ، قَالَ: فَمَرَّ بِي عَلِيٌّ، فَقَالَ: أَمَا نَالَ لِلرَّجُلِ يَعْرِفُ مَنْزِلَهُ بَعْدُ؟ قَالَ: قُلْتُ: لاَ، قَالَ: انْطَلِقْ مَعِي، قَالَ: فَقَالَ مَا أَمْرُكَ، وَمَا أَقْدَمَكَ هَذِهِ البَلْدَةَ؟ قَالَ: قُلْتُ لَهُ: إِنْ كَتَمْتَ عَلَيَّ أَخْبَرْتُكَ، قَالَ: فَإِنِّي أَفْعَلُ، قَالَ: قُلْتُ لَهُ: بَلَغَنَا أَنَّهُ قَدْ خَرَجَ هَا هُنَا رَجُلٌ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ، فَأَرْسَلْتُ أَخِي لِيُكَلِّمَهُ، فَرَجَعَ وَلَمْ يَشْفِنِي مِنَ الخَبَرِ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَلْقَاهُ، فَقَالَ لَهُ: أَمَا إِنَّكَ قَدْ رَشَدْتَ، هَذَا وَجْهِي إِلَيْهِ فَاتَّبِعْنِي، ادْخُلْ حَيْثُ أَدْخُلُ، فَإِنِّي إِنْ رَأَيْتُ أَحَدًا أَخَافُهُ عَلَيْكَ، قُمْتُ إِلَى الحَائِطِ كَأَنِّي أُصْلِحُ نَعْلِي وَامْضِ أَنْتَ، فَمَضَى وَمَضَيْتُ مَعَهُ، حَتَّى دَخَلَ وَدَخَلْتُ مَعَهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ لَهُ: اعْرِضْ عَلَيَّ الإِسْلاَمَ، فَعَرَضَهُ فَأَسْلَمْتُ مَكَانِي، فَقَالَ لِي: «يَا أَبَا ذَرٍّ، اكْتُمْ هَذَا الأَمْرَ، وَارْجِعْ إِلَى بَلَدِكَ، فَإِذَا بَلَغَكَ ظُهُورُنَا فَأَقْبِلْ» فَقُلْتُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالحَقِّ، لَأَصْرُخَنَّ بِهَا بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ، فَجَاءَ إِلَى المَسْجِدِ وَقُرَيْشٌ فِيهِ، فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ، إِنِّي أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، فَقَالُوا: قُومُوا إِلَى هَذَا الصَّابِئِ، فَقَامُوا فَضُرِبْتُ لِأَمُوتَ، فَأَدْرَكَنِي العَبَّاسُ فَأَكَبَّ عَلَيَّ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْهِمْ، فَقَالَ: وَيْلَكُمْ، تَقْتُلُونَ رَجُلًا مِنْ غِفَارَ، وَمَتْجَرُكُمْ وَمَمَرُّكُمْ عَلَى غِفَارَ، فَأَقْلَعُوا عَنِّي، فَلَمَّا أَنْ أَصْبَحْتُ الغَدَ رَجَعْتُ، فَقُلْتُ مِثْلَ مَا قُلْتُ بِالأَمْسِ، فَقَالُوا: قُومُوا إِلَى هَذَا الصَّابِئِ فَصُنِعَ بِي مِثْلَ مَا صُنِعَ بِالأَمْسِ، وَأَدْرَكَنِي العَبَّاسُ فَأَكَبَّ عَلَيَّ، وَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ بِالأَمْسِ، قَالَ: فَكَانَ هَذَا أَوَّلَ إِسْلاَمِ أَبِي ذَرٍّ رَحِمَهُ اللَّهُ " متفق عليه.

ژباړه: ابوذر رضي الله عنه فرمايي: زه د بني غفار قبيلې يو کس وم، خبر شوم چې په مکه کې يو داسې څوك پيدا شوی چې ځان نبي بولي، ما خپل ورور ته وويل: ته دې کس ته ورشه، خبرې ورسره وکړه او ما ته يې احوال راوړه، هغه لاړ، ملاقات يې ورسره وکړ او بيرته راغی، ما پوښتنه ورنه وکړه چې څه خبر دې راوړی؟ ده راته وويل: په الله قسم چې ما يو داسې شخصيت وليد چې په نيکۍ امر او له بدۍ نه نهي کوي. ما ورته وويل: پوره خبر دې ندې راوړی، زړه مې پرې ډاډه نه شو، نو بيا مې د توښې توبره او همسا راواخيسته او د مکې په لور روان شوم، (مکې ته ورسيدم) خو رسول الله صلی الله عليه وسلم مې نه پيژانده، او دا هم ښه نه راته ښکاريده چې له چا نه يې پوښتنه وکړم، د زمزم اوبه به مې څښلې او په مسجد حرام کې به وم، بالاخره علي رضي الله عنه راغی راته ويې ويل: بيګانه معلوميږې! ما ورته وويل: هو، ده راته وويل: نو راځه زما سره کورته لاړ شه، زه هم ورسره لاړم، خو نه هغه رانه د څه پوښتنه کوله او نه ما ورنه پوښتل او نه مې څه ورته ويل. کله چې سهار شو نو بيا مسجد حرام ته لاړم تر څو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په هکله څه معلومات حاصل کړم خو هيڅوك هم نه و چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په هکله يې معلومات راکړې وای، بيا علي رضي الله عنه راته راغی ويې ليدم، راته ويې ويل: دې سړي تر اوسه خپل ځای (کور) ندی پيژندلی؟ ما ورته وويل: نه، ده راته وويل: ښه، نو راځه زما سره لاړ شه، بيا يې

راته وويل دا راته ووايه ستا کار څه دی؟ او د څه پخاطر دې ښار ته راغلی یې؟ ما ورته وويل: که ته زما راز ساتې نو درته وبه وایم: هغه راته وويل: صحيح ده، (راز دې ساتم) نو ما ورته وويل: خبر شوی یم چې دلته یو داسې کس پیدا شویدی چې ځان د الله تعالی نبي صلی الله علیه وسلم بولي، ما خپل ورور دلته را استولی و چې راشي خبرې ورسره وکړي، هغه بیرته راستون شو، خو څه اطمیناني او تسلي بخش خبر یې نه و راوړی، نو تصمیم مې ونیو چې زه باید پخپله لدې شخص سره وګورم. علي رضي الله عنه راته وويل ته صحیح ځای ته رارسیدلی یې، ګوره زه د همغه په طرف روان یم، په کومه چې زه تلم په همغه لار راپسې راځه او که د لارې په اوږدو کې له داسې چا سره مخامخ شوو چې ستا لپاره خطرناك و، نو زه به د دیوال خوا ته پدې بهانه دریږم چې ګویا زه خپلې څپلۍ جوړوم، خو ته به تیریږې او خپله لار به وهې، بیا علي رضي الله عنه روان شو، زه ورپسې وم تر څو هغه ننوت او زه هم ورپسې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته ور ورسیدم او عرض مې ورته وکړ چې اسلام راته را وړاندې کړه! رسول الله صلی الله علیه وسلم اسلام راته بیان کړ، نو زه په همغه ځای مسلمان شوم، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وويل: ابو ذره! دا خبره پټه ساته او بیرته خپل وطن ته لاړ شه، او کله چې زمونږ د بري خبر در ورسید نو بیا راشه. ما ورته وويل: په هغه ذات قسم چې ته یې په حقه رالیږلی یې، زه به د دوی په مینځ کې دا په ډاګه اعلانوم. بیا مسجد حرام ته راغلم، قریش ناست وو، ما ورته وويل: اې قریشو! واورئ : أشهد أن لا اله الا الله وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل د عبادت وړ څوك نشته، او زه شاهدي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی بنده او رسول دی.

دوی وويل: دا بې دینه راونیسئ، یو ځل خلك را پاڅیدل او په مرګ یې ووهلم، تر څو عباس رضي الله عنه راغی پر ما یې ځان را واچاوه بیا یې قریشو ته مخ وراړه او ورته ویې ویل: تباه شئ، تاسې د غفار قبیلې سړی وژنئ؟ پداسې حال کې چې ستاسې تجارت او ستاسې لار په غفار قبیله باندې ده! نو پدې سره خلکو زه پریښودم او رانه لاړل. سبا سهار بیا هملته ورغلم او هماغه پرونۍ خبره مې بیا اعلان کړه، خلکو بیا وويل: دا بې دینه ونیسئ، او بیا یې همغه پرونۍ معامله راسره وکړه (ډیر یې ووهلم) دا ځل بیا عباس رضي الله عنه ورنه خلاص کړم، پر مایې ځان راواچاوه او هماغه پرونۍ خبره یې ورته وکړه. وايي دا د ابو ذر رضي الله عنه د اسلام پیل و. الله دې پرې رحم وکړي.

د دار الکفر غازیانو لپاره دې واقعه کې زیات شمیر عسکري، استخباراتي، ایماني او دعوتي فوائد دي. لکه د ابو ذر دغه مزلونه او د حق تحقیق وګورئ، چې د الله په فضل همدې تحقیق له امله اسلام ورته نصیب شو، او کومو کسانو چې د توحید دعوت دومره مهم ونه ګاڼه او مړه شو نو هغوی جهنم د کندو استوګن شو. نعوذ بالله. مونږ تاسې ته ترې دا عبرت او درس راوځي چې باید مسلمان د توحید مسئله کې، د شرك پیژندنې یا د اسلام نواقضو پیژندنې په باب کې میاشتې میاشتې مزلونه وکړي، ولږې او نهارې تیرې کړي، وهل او ټکول وخوري، خو متاسفانه چې نن سبا خلک په همدې اکتفاء کوي چې مونږ اودس کوم مسلمان یم او د اسلام ماتونکو کړنو څخه نه ځان خبروي او نه ترې ځان ساتي، نو که یوازې مونږ باندې څوك خلاصیدای نو ابو ذر رضي الله عنه د اسلام څخه مخکې درې کاله مونځ کاوه، خو هغه به دا کافي ګڼلای وای خو نه، دا مونږ د ټولو عقائدو او احکامو سره منل لازم دي نو نن سبا هم د اسلام او ایمان ارکان، واجبات، شرایط او نواقض ټول پیژندل او د هغوی په مقتضی عمل کول لازم دي. دې واقعې نه دا مسئله هم راوځي چې کله اسباب د تحقیق موجود وي نو بیا د انسانانو جهل عذر نه دی ولو که دغه حق ته رسیدو په لار کې ستر ستر خنډونه هم وي خو په خلکو تحقیق لازم دی او معذوره نه دي.

دې واقعه کې د علي رضي الله عنه د دعوت حرص او امنیتي حس او ظرفیت هم درک کولای شو، چې مطلوب ته ځان هم رسوي خو احتیاطي تدابیر په پام کې نیسي. لهذا مجاهده وروره د دعوت سره سره به امنیتي تدابیر ټول برابرو، بیا به پر الله توکل کوو، د ښاري ژوند هر ډول احتیاط به زده کوو، د روابطو د کنټرول احتیاط، د اوسیدو امنیت، د ګرځیدو امنیت، د عملیاتو پر وخت امنیتي کمربند خیال ساتل، د شپې امنیت، چې مجهز او بیداره واوسو، الغرض غفلت به نه کوو.

بله ایماني فائده پکې دا ده چې هر وخت رخصت باندې عمل هم پکار نه وي بلکې عزیمت باندې عمل هم کله مثبتې پایلې لري، او بعضې علماؤ خو دا لیکلي دي چې د دین د مشرانو لپاره رخصت نشته، رخصت د کشرانو لپاره دی، د مسلمانانو قائدین به په عزیمت عمل کوي ځکه چې مشر هم رخصت او کشر هم رخصت منتخب کړي، نو خلکو ته به حقیقي مسئله او دین څنګه ښکاره کیږي ؟ خصوصا کله چې په ټولو خلکو اتمام د حجت هم نه وي شوی او د شبهاتو ازاله پاتې وي، لکه نبي علیه السلام، ابو بکر، بیا عمر او حمزه رضوان الله علیهم أجمعین ددوی ایمانونه خه ښکاره و. خو نن وخت کې امیران پدې خبره خه پوهیږي، او دوی به ملګرو ته لارښودنه کوي چې دا د عزیمت وخت دی او دا د رخصت وخت دی، حالات او اوضاع فرق کوي. نو دلته هم نبي علیه السلام ابو ذر رضي الله عنه ته وويل چې اسلام دې پټ کړه، خو د ابو ذر همت اوچت و، او ویې ویل چې نا دا د توحید کلمه به د قریشو په مخکې وایم نو نبي علیه السلام منع نه کړو. نن هم داسې د ابو ذر غفاري وارثان او د هغه په څیر زمریان شته، چې په حرم کې د دغه مشرکو چارواکو په مخکې د توحید غږ اوچتوي او د دولت الاسلام باقیه شعارونه زمزمه کوي خو حرم د ابو جاهل لمسیانو په لاس کې بندي دی، چې د ابو ذر په څیر نني مسلمانان پکې ځوریږي، تر دې چې د شهادت لوړ مقام ته رسیږي.

نبي علیه السلام ته د صحابه وو شکایت:

د مکې کفارو مظالم له حده واوښتل، د دوی د وحشت او بربریت کیسې رانقل کولو پرمهال د مومن زړه څخه وینې څاڅي، او د صحابه وو لوړ عزم او حوصلو ته بې اختیاره سلامونه کوي. دغه مومنان یو وخت د تعذیبونو څخه ډیر تنګ شول، لکه د تمکین د نشتوالي پرمهال د کفر، ظلم او استبداد د غلبې له امله چې د مسلمانانو زړونه مرۍ ته راشي نو امیرانو

ځخه پوښتنه کوي، چې دا تمکین به کله وي ؟ مونږ به تر کومه د دې مشکلاتو سره لاس او ګریوان یو، کله به مونږ د دارالاسلام په سیورو کې دمه کوو ؟ نو بعینه دغه تصویر د خباب رضي الله عنه په حدیث کې هم ویستل شوی دی، خباب بن أرت رضي الله عنه وایي: شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً لَهُ فِي ظِلِّ الكَعْبَةِ، قُلْنَا لَهُ: أَلاَ تَسْتَنْصِرُ لَنَا، أَلاَ تَدْعُو اللَّهَ لَنَا؟ قَالَ: «كَانَ الرَّجُلُ فِيمَنْ قَبْلَكُمْ يُحْفَرُ لَهُ فِي الأَرْضِ، فَيُجْعَلُ فِيهِ، فَيُجَاءُ بِالْمِنْشَارِ فَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ فَيُشَقُّ بِاثْنَتَيْنِ، وَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ، وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الحَدِيدِ مَا دُونَ لَحْمِهِ مِنْ عَظْمٍ أَوْ عَصَبٍ، وَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ، وَاللَّهِ لَيُتِمَّنَّ هَذَا الأَمْرَ، حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ، لاَ يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ، أَوِ الذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ، وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ» صحیح البخاري.

ژباړه: یو ځل زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم، رسول الله صلی الله علیه وسلم د کعبې سیوري ته په یوه څادر تکیه وهلې وه. دغه وخت مونږ د کفارو له لاسه ډیر په عذاب وو، ما ورته وویل: اې رسول الله صلی الله علیه وسلم !الله تعالی ته سوال او دعا نه کوې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې خبرې په اوریدو سره را کیناست مبارک مخ یې تك سور شو او ویې فرمایل: هغه خلك چې له تاسې نه مخکې تیر شویدي، غوښې، رګونه او اعصاب به یې تر هډوکو پورې د اوسپنې په ږومنځو توږل کیدل، خو پدې سختیو سره به هم هغوی له خپل دین نه اوړیدل، او بیا یې وفرمایل: الله تعالی به دا دین مکمل، غالب او بریالی کوي تر دې چې سپور به له صنعاء نه تر حضرموت پورې سفر کوي او له الله نه پرته به د بل څه ویره ورسره نه وي ـ راوي زیاتوي ـ او میږو ته به د لیوه خطره او ویره هم ور سره وي. خو تاسې عجله او بیړه کوئ.

دا هم باید وویل شي چې د فتحې دا زیري څه پټ او مخفي نه وو بلکه دا د مسلمانانو او کفارو ټولو غوږونو ته رسیدلي وو، وایي چې اسود بن المطلب او ملګرو به یې چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه رضي الله عنهم ولیدل، نو د استهزاء او ریشخند له مخې به یې ویل: دا دي د ځمکې پاچایان راغلل وګورئ دوی به په کسری او قیصر باندې بریالي کیږي!! بیا به یې شپیلي کول، چك چك او لاسونه به یې سره پړکول چې وروسته به راشي. ان شاء الله.

دا د مشرانو انداز وي، کله کشرانو ته داړ په پار غصه کیږي، خپل شته فعالیت ورته کم ښکاره کوي، د دوی څخه په تکلیف کې پورته خلك ورته ذکر کوي ترڅو دوی خپل تکلیف کم وګڼي، او کله ورته نرمه وایي، دلته نبي علیه السلام څومره پراخه تمکین بشارت ورکړو، دا ځکه چې په الله یې کامل توکل و، د توحید په بریا یقیني و، او لار او مسیر یې هم سم و نو ځان یې د منزل په درشل کې لیدو، چې د نبي علیه السلام پدغه مبارك ارشاد سره صحابه وو ته نوی روح ورپه برخه شو او هغوی د استقامت لمن نور هم کلکه کړه.

نن هم مونږ تاسې ته همدا نبوي ارشاد متوجه دی، چې اسلامي نظام خو د الله تعالی ستر نعمت دی، هغه ډیرې قرباني غواړي، ډیر نازولي ځوانان به د استشهاد په ډګر کې بریالي کیږي، هله به د عدل، انصاف، امن او راحت څخه ډک نظام رامنځ ته کیږي.

دا خو د یو عاجز او فقیر بنده خباب شکایت و، کوم چې مشران او مخور صحابه وو هغوی هم نور د مشرکانو مظالمو څخه راتنګ شول، نو راغلل او د خپل شان مطابق شکایت یې وکړو. خباب وویل چې اې د الله رسوله، د الله تعالی څخه دعا وغواړه، او عبد الرحمن بن عوف ورته وایي چې اې د الله رسوله، مشرکانو سره جنګ کوو، خبره ورسره په میدان معلوموو.

عبد الله بن عباس رضي الله عنه وایي: عبد الرحمن بن عوف او د هغه ملګري په مکه کې نبي علیه السلام ته راغلل او ورته یې وویل: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا كُنَّا فِي عِزٍّ وَنَحْنُ مُشْرِكُونَ، فَلَمَّا آمَنَّا صِرْنَا أَذِلَّةً، فَقَالَ: «إِنِّي أُمِرْتُ بِالْعَفْوِ، فَلَا تُقَاتِلُوا» فَلَمَّا حَوَّلَنَا اللَّهُ إِلَى الْمَدِينَةِ، أَمَرَنَا بِالْقِتَالِ، فَكَفُّوا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: {أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ} [النساء: 77] سنن النسائي وسنده صحیح.

ژباړه: اې د الله رسوله، مونږ چې مشرکان وو نو عزت مند وو، خو کله مو چې ایمان راوړ نو مونږ ذلیله شو، هغه ورته وفرمایل: ماته په بښنې امر شوی، نو تاسې جنګ مه کوئ. وایي کله چې الله تعالی مونږ مدینې ته منتقل کړو نو مونږ ته یې په قتال باندې امر وکړو، نو هغوی د قتال څخه ځان بند کړو، نو الله تعالی دا آیت نازل کړو:

[ایا تا هغو خلکو ته کتلي نه دي چې هغو ته ویل شوي وو چې خپل لاسونه له جنګه منع کړئ، لمونځ قائم کړئ ...]

دا د مشرانو خلکو د شکایت انداز و، نو نبي علیه السلام داړ ورکړو چې اې صحابه وو زه خو الهي اوامرو موافق مزل کوم، کوم امر چې راته وشي هغه عملي کوم، نو اسلام نه مخکې او وروسته حالت مه قیاس کوئ، موسی علیه السلام ته هم قوم ویل ستا راتګ نه مخکې هم تکلیفونه وو او ته چې راغلی هم په مونږ امتحانات دي. هغه ورته د صبر او د الله تعالی څخه د استعانت تلقین وکړو چې بیا ورته رب تمکین ورکړ او فرعون یې ورته په سیند کې غرق کړ.

صحابه هم انسانان وو، بعضي خلك کمزوري هم وو نو طبعا جهاد ګران شی دی، ځکه بعضو باندې د جهاد فرضیت پرمهال دا حکم سخت تمام شو، او الله تعالی د انسان فطرت پدې الفاظو بیان کړی: وهو کره لکم، نو کراهت طبعي به حتما وي. خو الله تعالی مومنانو ته زجر وکړو یا هم دا په بلیغ الفاظو تحریض او هڅونه وه، چې پرون مو همدا خبرې کولې نن جهاد فرض شو، میدان ته شئ او مه وروسته کیږئ. بیا نو صحابه وو جهادونو او تعرضونو ته ملا وتړله تر دې چې ټول جزیرة العرب یې د شرك حاکمیت څخه د توحید په سپینو اوبو ومینځو.

او دا د منافقانو ځانګړې خصلت و چې د غزا غږ پرې د مرګ غږ و، او تیر وخت کې دا د بني اسرایلو صفت و چې لاپې به یې کولې خو عمل میدان کې به بیا صفر ول.

سورت بقره کې الله تعالی د هغوی حکایت بیانوي:

[أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللهِ , قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا , قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا , فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ , وَاللهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ] سورت البقرة.

ژباړه: ایا تا سوچ کړیدی د موسی علیه السلام څخه وروسته د بني اسرائیلو ډلې ته، کله چې هغوی خپل پیغمبر ته وویل : زمونږ له پاره یو باچا وټاکه، چې مونږ د الله په لار کښې جنګ وکړو، پیغمبر پوښتنه وکړه : بیا خو به داسې نه وي چې تاسې ته د جنګیدو امر وشي او تاسې ونه جنګیږئ، هغو ځواب ورکړ: نه خیر دا ځنګه کېدای شي چې مونږ د الله په لار کښې ونه جنګیږو، په داسې حال کښې چې مونږ له خپلو کورونو څخه ایستل شوي یو او زمونږ اهل وعیال له مونږ څخه بېل کړای شویدي؛ خو کله چې هغو ته د جنګیدو امر وشو نو له لږ شمېر نه پرته نور ټول په شا لاړل، او الله تیری کوونکي پیژني.

د حزقیل علیه السلام قوم ته چې د جهاد حکم وشو نو دوی وډار شو چې جهاد کې خو مرګونه رازي، لهذا خپله سیمه یې پریښوده او وتښتیدل.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ (243) سورة البقرة.

ژباړه: ایا تا د هغو خلکو حال ته پاملرنه کړېده،چې دمرګ له وېرې د خپلو کورونو څخه وتلي وو او دهغو شمېر زرګونو ته رسېده ؟ الله هغو ته ووېل: ومرئ بیا یې هغوی د دوهم ځل له پاره راژوندي کړل حقیقت دا دی چې الله پر انسانانو زیات مهربان دی خو زیاتره خلك شکر نه ادا کوي.

امام طبري خپل تفسیر کې وایي: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه یو قول دا دی: عَدَدٌ كَثِيرٌ خَرَجُوا فِرَارًا مِنَ الْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَأَمَاتَهُمُ اللَّهُ، ثُمَّ أَحْيَاهُمْ، وَأَمَرَهُمْ أَنْ يُجَاهِدُوا عَدُوَّهُمْ. ژباړه: دا ډیر کسان وو، د الله په لاره کې د جهاد څخه تیښتې له امله وتلي وو، نو الله تعالی مړه کړل بیا یې راژوندي کړل او دښمن سره یې د جهاد حکم ورته وکړ.

او همدې بني اسرائیلو موسی علیه السلام ته ویلي وو: {فَاذْهَبْ أَنْتَ

وَرَبُّكَ فَقَاتِلا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ} [الْمَائِدَةِ: 24] ژباړه: ته او ستا رب لاړ شئ جنګ وکړئ مونږ دلته ناست يو.

خو د مومنانو شان دا وي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: «مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ النَّاسِ لَهُمْ، رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، يَطِيرُ عَلَى مَتْنِهِ، كُلَّمَا سَمِعَ هَيْعَةً، أَوْ فَزْعَةً طَارَ عَلَيْهِ، يَبْتَغِي الْقَتْلَ وَالْمَوْتَ مَظَانَّهُ. أخرجه مسلم.

ژباړه: په خلکو کې د غوره ژوند والا هغه کس دی چې د الله په لار کې يې خپل د اس واګې رانيولي وي، په شا يې الوځي، هر کله چې ددښمن د راتلو له امله د ډار يا خوف غږ اوري نو په الوتلو هلته ورځي، قتل او مرګ په هغه ځايونو کې لټوي چې هلته پيدا کيږي.

دويم د پورته آيت کريمه او واقعې نه يوه فايده دا راوځي، د مجاهدينو صفونو کې چې څوک اعتراضات زيات کوي، چې دا کار داسې ولې نه کيږي، او دا داسې ولې نه کيږي، نو هغه بيا د عمل ميدان کې اکثر پاتې رازي، د کار والا مجاهد دا نښه وي، چې خبرې کمې کوی، عمل زيات کوي، اعتراضات ډير نه کوي، يوه مشوره ورکوي خو د کار مشوره ورکوي. او ناکاره سړي نښه دا وي چې د اسلام په نصرت کې ونډه نه لري او يوازې د انتقاد په غشو مجاهدين ازاروي.

الغرض د تکليف او مشقت څخه ډک ژوندون روان وو، هرې خوا نه مشکلات وو، عتبه بن غزوان رضي الله عنه چې مشر صحابي دی، هغه يوه خطبه کې خپل پخواني حالت ذکر کړی، د فائدې لپاره به دغه حديث ټول رانقل کړو: خالد بن عمير العدوي وايي عتبه بن غزوان رضي الله عنه مونږ ته خطبه راکړه، د الله تعالی حمد او ثناء يې بيان کړه، بيا يې وويل: [بهز وايي چې هغه وويل نبي عليه السلام مونږ ته خطبه راکړه]: أَمَّا بَعْدُ، «فَإِنَّ الدُّنْيَا قَدْ آذَنَتْ بِصَرْمٍ وَوَلَّتْ حَذَّاءَ، وَلَمْ يَبْقَ مِنْهَا إِلَّا صُبَابَةٌ كَصُبَابَةِ الْإِنَاءِ، يَتَصَابُّهَا صَاحِبُهَا، وَإِنَّكُمْ مُنْتَقِلُونَ مِنْهَا إِلَى دَارٍ لَا زَوَالَ لَهَا، فَانْتَقِلُوا بِخَيْرِ مَا بِحَضْرَتِكُمْ، فَإِنَّهُ قَدْ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ الْحَجَرَ يُلْقَى مِنْ شَفَةِ جَهَنَّمَ، فَيَهْوِي فِيهَا سَبْعِينَ عَامًا، لَا يُدْرِكُ لَهَا قَعْرًا، وَوَاللهِ لَتُمْلَأَنَّ، أَفَعَجِبْتُمْ؟ وَلَقَدْ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ مَا بَيْنَ مِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ مَسِيرَةُ أَرْبَعِينَ سَنَةً، وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَيْهَا يَوْمٌ وَهُوَ كَظِيظٌ مِنَ الزِّحَامِ، وَلَقَدْ رَأَيْتُنِي سَابِعَ سَبْعَةٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَا لَنَا طَعَامٌ إِلَّا وَرَقُ الشَّجَرِ، حَتَّى قَرِحَتْ أَشْدَاقُنَا، فَالْتَقَطْتُ بُرْدَةً فَشَقَقْتُهَا بَيْنِي وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ، فَاتَّزَرْتُ بِنِصْفِهَا وَاتَّزَرَ سَعْدٌ بِنِصْفِهَا، فَمَا أَصْبَحَ الْيَوْمَ مِنَّا أَحَدٌ إِلَّا أَصْبَحَ أَمِيرًا عَلَى مِصْرٍ مِنَ الْأَمْصَارِ، وَإِنِّي أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ أَكُونَ فِي نَفْسِي عَظِيمًا، وَعِنْدَ اللهِ صَغِيرًا، وَإِنَّهَا لَمْ تَكُنْ نُبُوَّةٌ قَطُّ إِلَّا تَنَاسَخَتْ، حَتَّى يَكُونَ آخِرُ عَاقِبَتِهَا مُلْكًا، فَسَتَخْبُرُونَ وَتُجَرِّبُونَ الْأُمَرَاءَ بَعْدَنَا». أخرجه مسلم.

ژباړه: د حمد او ثناء څخه وروسته دا خبره ده چې يقينا دنيا د تللو خبر ورکوي او زر شا راړوي (يعنې زر ختميدونکې ده) او ددې څخه فقط دومره لږ وخت پاتې دی لکه د لوښي په بيخ کې چې لږې اوبه پاتې وي. او يو کس يې څکي، او يقينا تاسو ددې دنيا څخه داسې کور ته ورځئ چې د هغې زوال نشته، نو خپل غوره اعمالو سره منتقل شئ، يقينا مونږ ته دا خبره بيانه شوی چې د جهنم د غاړې څخه يوه ګټه جهنم ته غورځول شوې وه، نو په هغه کې ۷۰ کاله روانه وه، خو بيخ ته ونه رسيده. او قسم په الله دا به ډکيږي. (سره ددومره پراخوالي نه) آيا تاسو تعجب کوئ ؟ او يقينا مونږ ته دا خبره هم بيانه شوی چې جنت د دوه دروازو ترمنځ ۴۰ کاله مزل دی، او يوه ورځ به خامخا داسې راځي چې دا به د رش د وجې ډک وي او يقينا ما ځان د نبي عليه السلام سره اووه کسانو کې اووم ليدلی دی، زمونږ لپاره خوراک د ونو پاڼې وی، تر دې چې کولمې مو زخمي شوی. ما يو څادر موندو هغه مې دوه حصې کړو يوه مې خپله واخسته او بله مې سعد بن مالک (ابن أبي وقاص) ته ورکړه، نيمايي څخه ما لنګ ووهو او د نيمايي څخه سعد لنګ ووهو، خو دا دی نن په مونږ کې هر يو د ښار امير ګرځيدلی، او زه د الله څخه پناه غواړم چې په خپل نفس کې ځان لوی ګڼم او د رب به نزد سپک يم، يقينا هر نبوت ختم شوی، او آخري انجام يې ملوکيت او باچاهي ګرځيدلی، زر دی چې تاسو به خبر شئ او زمونږ نه وروسته اميران به وآزمايئ.

دا د لومړيو صحابه وو حال وو، نو اې مسلمانانو مونږ تاسې خو ډير خه يو، الحمد لله د امکاناتو او اسبابو پراخي الله راکړې ده، نو زمونږ فعاليت د اسلام د نصرت لپاره زيات دی او که نه هغه وړې تېرې او بې کاليو مومنان صحابه وو پدې کې نمبر وړی دی ؟

د تمکين سفر دی، لار کې ګړنګونه کړليچونه غورځې پرځې لري، کله به پکې داسې ولړې هم رازي، کله به په خيټو پسې ګټې تړل هم رازي، الله دې مونږ تاسې ته عافيت رانصيب کړي، ځکه دومره ايمانونه مو ندي، خو پدې ازغنه لار کې دا پړاونه هم شته. نو معلومه شوه چې د هغه خلکو خبره خطا ده چې وايي دعاګانې به کوو تر دې چې الله تعالی اسلامي خلافت قائم کړي !! که د حرکت، اسارت او شهادت پرته يوازې په دعاګانو کيدای نو نبي عليه السلام او صحابه وو باندې به دغه حالات نه راتلل بلکې هغوی به پرته له جنګ څخه ټوله نړۍ فتحه کړې وای!!

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي: كَانَ الإِسْلاَمُ قَلِيلًا، فَكَانَ الرَّجُلُ يُفْتَنُ فِي دِينِهِ إِمَّا يَقْتُلُونَهُ وَإِمَّا يُوثِقُونَهُ، حَتَّى كَثُرَ الإِسْلاَمُ فَلَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ» صحيح البخاري.

ژباړه: ابتداء کې اسلام [مسلمانان] لږ و، مسلمان به د دين له امله ځوريدو، يا به هغوی وژلو او يا به يې تاړه، تر دې چې اسلام زيات شو نو فتنه پاتې نه شوه. نن هم دا حالت دی، ځکه نبي عليه السلام دا پيشن ګوئي ورکړې وه: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا، وَسَيَعُودُ كَمَا بَدَأَ غَرِيبًا، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ». رواه مسلم.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اسلام په اول کې نآشنا و او دا به همدغه شان بيا نآشنا ګرځي، نو د غرباءو [نآشنا خلکو] لپاره زيری دی.

د نبي عليه السلام اذيت زغمل:

د جهري دعوت دوره شروع وه، صحابه وو باندې د مکې مشرکانو هر قسم ظلمونه کول، وهل، ټکول، تړل، شاقه کارونو باندې ځورول، په شګو کې راښکل، د بسو لوګي کول، سور لمر ته څملول، په سکروټو باندې اچول تر دی چې سکروټې به د صحابه وو په وينو زوو باندې وچې شوې، سميه بي بي پکې شهادت وګټو، خو ددغه صحابه وو تاريخ څخه روښانه تاريخ د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم دی، هغه داعي چې د توحيد دعوت يې على الأعلان کړی، خپله سينه يې د کفارو هر قسم ګزارونو ته سپر کړې، د حکمت او مصلحت په نوم کوم مداهنت يې نه پيژندو، بلکې د رب د امر تعميل کوي. او تر قيامته صدقه جاريه د ځان لپاره پريږدي. د مکې مشرکانو په صحابه وو باندې هر نوعه تعذيب امتحان کړ، خو هيڅ ګټه يې ورته ونه کړه، آخر يې دا پريکړه وکړه چې ترڅو ددې دعوت سرچينه جاري وي نو دا د ايمان او اسلام فصلونه به زرغون وي، نو وحشت يې دې حد ته ورسيدو چې سيد البشر نبي عليه السلام باندې يې هم آخر اسره ونه کړه، هغه ذات چې د هغه حياء او وقار له امله خلکو بد ورته نشو کتلای خو يو وخت مشرکانو دې ټولو حدونو څخه تجاوز وکړو او د الله محبوب ته يې هم لاس ورواچاوه. انا لله وانا اليه راجعون. لاندې کرښو کې د امام الأنبياء لخوا د قريشو مظالمو ګاللو لنډ داستان بيانوو. ان شاء الله.

١.د ابو لهب او د هغه ښځې لخوا ځورونه:

د دې امت بدبخت ترين انسان ابو لهب و چې تر ټولو لومړی يې په محمد رسول الله عليه السلام باندې کفر کړی دی او د هغه پرضد يې سنګر نيولی، په هر ځای کې يې د هغه مخالفت کړی دی، نبي عليه السلام يې په کاڼو باندې ويشتی دی. له بعثت نه مخکې د ابو لهب زامنو عتبه او عتيبه د رسول الله صلى الله عليه وسلم له لوڼو (رقيې او ام کلثوم رضي الله عنهما) سره نکاحونه کړي وو خو لا واده نه وې، له بعثت نه وروسته ابو لهب خپل زامن دېته اړ ايستل چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم لوڼو ته طلاق ورکړي. [سند مو ورله مونده نه کړو]

کله چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دوهم زوی عبدالله وفات شو، ابو لهب له ډيرې خوشالۍ نه منډې کړې او خپلو ملګرو ته

یې زیرې ورکاوه چې محمد صلی الله علیه وسلم ابتر (میرات) شو. [سند مو ورله موندو نه کړو]

نو د هغه زنانه هم د خپل خاوند څخه د شقاوت پاخه درسونه لوستي وو، نو ښکاره خبره ده چې د خپل خاوند په څیر د اسلام او محمد رسول الله علیه السلام د دښمنۍ په لمبو سوځیده. حافظ ابن کثیر وایي چې د ابو لهب ښځه د قریشو معززو زنانه وو څخه وه، ام جمیل یې کنیه او خپل نوم یې اروی بنت حرب بن أمیه و. او دا د ابو سفیان خور وه، د معاویه رضي الله عنه عمه وه. دې ظالمې به اغزي راټولول او د شپې له مخې به یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دروازه او لارو کې ورته شیندل. [سند مو پیدا نه کړو] نوموړې ډیر خرابه ژبه درلوده، د الله تعالی د رسول صلی الله علیه وسلم په شان کې یې ډیره ګستاخي او بې شرمي کوله، تورونه او تهمتونه به یې ورپسې تړل، فتنې او فسادونه به یې جوړول، او همدا وجه ده چې قرآنکریم ورته حماله الحطب ویلي دي.

اسماء بنت أبي بکر رضي الله عنها وایي: لَمَّا نَزَلَتْ {تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ} [المسد: 1] أَقْبَلَتِ الْعَوْرَاءُ أُمُّ جَمِيلٍ بِنْتُ حَرْبٍ وَلَهَا وَلْوَلَةٌ وَفِي يَدِهَا فِهْرٌ وَهِيَ تَقُولُ: مُذَمَّمٌ أَبَيْنَا، وَدِينَهُ قَلَيْنَا، وَأَمْرَهُ عَصَيْنَا، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ قَرَأَ قُرْآنًا وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ فَلَمَّا رَآهَا أَبُو بَكْرٍ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ أَقْبَلَتْ وَأَنَا أَخَافُ أَنْ تَرَاكَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهَا لَنْ تَرَانِي» وَقَرَأَ قُرْآنًا اعْتَصَمَ بِهِ، كَمَا قَالَ وَقَرَأَ {وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَسْتُورًا} [الإسراء: 45] فَأَقْبَلَتْ حَتَّى وَقَفَتْ عَلَى أَبِي بَكْرٍ وَلَمْ تَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَتْ: يَا أَبَا بَكْرٍ إِنِّي أُخْبِرْتُ أَنَّ صَاحِبَكَ هَجَانِي فَقَالَ: لَا وَرَبِّ هَذَا الْبَيْتِ مَا هَجَاكِ قَالَ: فَوَلَّتْ وَهِيَ تَقُولُ: قَدْ عَلِمَتْ قُرَيْشٌ أَنِّي بِنْتُ سَيِّدِهَا.

ژباړه: کله چې {تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ} نازل شو، نو ړنده ام جمیل بنت حرب راغله او د [نبي علیه السلام په اړه یې] د هلاکت چیغې وهلې او په لاس کې یې کاڼي وو، او هغې ویل: موږ د مذمم (په بدو یاد شوي) نافرماني کړې، د هغه دین مو پریښی دی، د هغه خبره مو نده منلې. رسول الله صلی الله علیه وسلم په جمات کې ناست و، بیا یې قرآن ولوستو او هغه سره ابو بکر و، کله چې ابو بکر هغه ولیده نو ویې ویل: اې د الله رسوله، هغه خو راغله او زه ډاریږم چې تا به ویني. رسول الله علیه السلام ورته وفرمایل: دا هیڅکله ما نشي لیدلای. او قرآن کریم یې ولوستو هغه سره یې ځان محفوظ کړ او دا آیت یې ولوستو [کله چې ته قرآن لولې نو مونږ ستا او پر اخرت د ایمان نه راوړونکو تر منځ یوه پرده حائله ګرځوو] هغه راغله تر دې چې ابو بکر خواته ودریده او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ونه لید. هغې وویل: اې ابو بکره، زه خبره شوې یم چې ستا ملګري زما هجوه بیان کړې ده [(هجوه په شعر کې بدي بیانولو ته وایي ځکه دوی قرآن ته د شعر نسبت کوو)] هغه ورته وویل: نه، د کعبې په رب مې دې قسم وي هغه ستا هجوه نده کړې، وایي هغه وګرځیده او ویل یې: قریشو ته معلومه ده چې زه د هغوی د سردار لور یم.

[دا روایت مسند حمیدي، مسند أبي یعلی، مستدرک للحاکم کې راغلی، سندونو کې یې کمزوري شته، اګر که بعضې محققینو ورته حسن لغیره ویلي دي]

مفسر قرطبي د سورت اسراء ددغه آیت د لاندې واقعات لیکلي دي، یوه یې خپله واقعه ذکر کړې: وایي زمونږ د اندلس قرطبه په سیمه کې یوځل ما سره داسې پیښه وشوه، چې زه د دښمن سره جنګ څخه پټ شوی وم، لږ وخت نه و تیر چې ما پسې دوه کسان په اس باندې سپاره راووتل او زه په پراخه میدان کې وم، هیڅ شی نه و چې زه یې پټ کړی وی، نو ما د سورت یس لومړي آیتونه او نور قرآن کریم لوستلو، هغه دواړه په ما باندې تیر شو او بیرته راوګرځیدل، یو بل ته وویل: دا خو شیطان [پیری] و، الله عزوجل د هغوی سترګې ړندې کړې او زه یې ونه لیدم، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا عَلَى ذلك. تفسیر القرطبي.

عجیب بدبخته خلک وي چې الله عزوجل یې قرآن کې بدي بیانه کړې او تر قیامته یې خلک لولي او لعنت پرې وایي. یا د اسلام په تاریخ کې داسې کمزوری کار وشي چې تر ابده یې نوم بد یادیږي او مسلمانان پرې لعنتونه وایي. أعاذنا الله منها.

او دې قریشو کفارو به نبي علیه السلام ته مذمم ویل ځکه محمد معنا ستایلی شوی، صفت ویلی شوی او مذمم معنا بدي ویلی شوی.

أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: «أَلَا تَعْجَبُونَ كَيْفَ يَصْرِفُ اللَّهُ عَنِّي شَتْمَ قُرَيْشٍ وَلَعْنَهُمْ، يَشْتِمُونَ مُذَمَّمًا، وَيَلْعَنُونَ مُذَمَّمًا وَأَنَا مُحَمَّدٌ» صحیح البخاري.

ژباړه: آیا تاسې تعجب نه کوئ چې الله تعالی څنګه د قریشو بد رد او لعنت له ما څخه اړولی دی، دوی مذمم ښکنځي، مذمم باندې لعنت وایي او زه خو محمد یم.

لکه نن سبا کفار مرتدین او ناپوهان اسلامي خلافت ته داعش نوم کاروي، سره ددې چې دا د اسلامي دولت نوم نه دی، بلکې مونږ د اسلامي خلافت لښکر یو. نو دوی ټول ښکنځل داعش ته کوي، اسلامي خلافت ترې الله تعالی محفوظ ساتلی.

ابو لهب سره لدې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم کاکا هم و او ګاونډی هم، خو بیا یې هم دا ټول ظلمونه ترسره کول. د ابو لهب کور د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کور سره بالکل جوخت، څنګ په څنګ و، نوموړي به لکه د نورو مشرکینو په شان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پخپل کورکې هم ضرر او اذیت رساوه. ابن اسحاق وایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګاونډیانو له جملې نه ابو لهب، حکم بن ابي العاص بن امیه، عقبه بن ابي معیط، عدي بن حمراء الثقفي، او ابن الاصداء الهذلي دومره شریر او خبیث وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې حتی پخپل کورکې هم له شره په امن نه و. دې شریرانو به په کور کې هم اذیت ورساوه، او لدې جملې نه یوازې حکم بن ابي العاص چې د اموي خلیفه مروان پلار و په اسلام مشرف شوی نور ټول مشرك مړه شویدي! د هغوی د اذیت رسولو یوه طریقه دا وه چې کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ کاوه نو کوم یوه به یې د میږې پریوان وربانديې وراچاوه، او یا به چې کله رسول صلی الله علیه وسلم دیګ باندې کړی و، نو دوی به پریوان را واخیست او د دیګ پر سر به یې وراچاوه. یا به یې د دروازې مخې ته وروا چاوه. بالاخره رسول الله صلی الله علیه وسلم مجبور شو چې یوه پنایي جوړه کړي تر څو د لمانځه په وخت کې د دوی له شره په امن وي. او کله به چې نوموړو مشرکینو پریوان او یا کثافت وربانديې ورواچاوه، نو د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم به په یوه لرګي سره را پورته کړ، په دروازه کې به ودرید او فرمایل به یې: اې بني عبدمناف! دا څه ډول ګاونډیتوب دی؟ بیا به یې پریوان ایسته واچاوه. [أخرجه ابن سعد في (الطبقات) (1/ 201) وفيه الواقدي وهو كذاب]

د دغه بدبخته کاکا او د هغې ښځې د لاسه د الله رسول علیه السلام دومره په عذاب و، ځکه خو الله تعالی یې په اړه سورت نازل کړ، او نوم یې ورله واخیسته، سره ددې چې د ستر کافر ابو جهل نوم یې هم ندی اخیستی، دې نه مونږ تاسې اندازه کولای شو چې ابو لهب څومره مضر انسان و. او ابن کثیر رحمه الله خپل تفسیر کې ذکر کړي دي چې دا سورت د نبي علیه السلام ستره معجزه وه، ځکه دغه دواړو بدبختانو تر آخره ایمان رانه وړو، نه یې ښکاره ایمان راوړ، نه پټ، نه ظاهر او نه باطن کې، نو دا د نبي علیه السلام ښکاره نبوت باندې باطني کلک دلیل و. خو دا دی پنځلس پیړیو وروسته هم د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم یاد لوړ او تازه دی او د ابو لهب او د هغه میرمن یاد میرات او په هر ځای ذلیله او رسوا دی.

۲.د ابو جهل او عقبه بن أبي معیط خباثت:

د ابو لهب پسې د امت تر ټولو ستر بدبخته انسان ابو جهل او عقبه بن أبي معیط ول، دا هغه خلک و چې د دښمنۍ هیڅ اصل یې نه مراعات کاوه، ډیر د پست اخلاق او کردار خاوندان و، راځئ چې د دغه جنایت کارو بعضې جنایاتو ولولو: عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) وایي: یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د کعبې خوا ته لمونځ کاوه، ابو جهل او ډله یې ناست وو، کوم یوه یې وویل: أَيُّكُمْ يَجِيءُ

بِسَلَى جَزُورِ بَنِي فُلاَنٍ، فَيَضَعُهُ عَلَى ظَهْرِ مُحَمَّدٍ إِذَا سَجَدَ؟ فَانْبَعَثَ أَشْقَى القَوْمِ فَجَاءَ بِهِ، فَنَظَرَ حَتَّى سَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَضَعَهُ عَلَى ظَهْرِهِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ، وَأَنَا أَنْظُرُ لاَ أُغْنِي شَيْئًا، لَوْ كَانَ لِي مَنَعَةٌ، قَالَ: فَجَعَلُوا يَضْحَكُونَ وَيُحِيلُ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدٌ لاَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، حَتَّى جَاءَتْهُ فَاطِمَةُ، فَطَرَحَتْ عَنْ ظَهْرِهِ، فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ ثُمَّ قَالَ: «اللَّهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ». ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، فَشَقَّ عَلَيْهِمْ إِذْ دَعَا عَلَيْهِمْ، قَالَ: وَكَانُوا يَرَوْنَ أَنَّ الدَّعْوَةَ فِي ذَلِكَ البَلَدِ مُسْتَجَابَةٌ، ثُمَّ سَمَّى: «اللَّهُمَّ عَلَيْكَ بِأَبِي جَهْلٍ، وَعَلَيْكَ بِعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ، وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ، وَالوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ، وَأُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ، وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ» - وَعَدَّ السَّابِعَ فَلَمْ يَحْفَظْ -، قَالَ: فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَقَدْ رَأَيْتُ الَّذِينَ عَدَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَرْعَى، فِي القَلِيبِ قَلِيبِ بَدْرٍ. صحيح البخاري.

ژباړه: څوک به د بني فلان د اوښ لرى او کولمې راوړي او کله چې محمد صلى الله عليه وسلم په سجده ځملي دا شيان يې په شا ورواچوي؟ پدې وخت کې تر ټولو بدبخته او خبيث سړی (عقبه بن ابي معيط) پاڅيد هغه شيان يې راوړل او کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سر په سجده کيښود هغه شيان يې ورباندې ورواچول. ابن مسعود (رضي الله عنه) وايي: ما کتل خو هيڅ مې هم له لاسه نه و پوره، ويل مې کاشکي مرستندوی مې درلودی، ابو جهل او ملګرو يې خندل او له ډيرې خوشالۍ او غرور نه يو پر بل ورکږېدل يوې خوا بلې خواته اوړېدل، رسول الله صلى الله عليه و اله وسلم همداسې سر په سجده پروت و تر څو فاطمه (رضي الله عنها) راغله او هغه شيان يې ورنه ايسته کړل. رسول الله صلى الله عليه وسلم سر را اوچت کړ او درى ځله يې وفرمايل: اې الله! له قريشو سره پوه شې، چاره يې وروکړې. په مشرکينو هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم دې دعا اثر وکړ او ډيره سخته ورباندې تمامه شوه ځکه هغوی داسې باور درلود چې دلته دعاګانې قبليږي. رسول الله صلى الله عليه وسلم بيا نومونه واخستل: اې الله! ته د ابو جهل، عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، وليد بن عتبه، اميه بن خلف او عقبه بن ابي معيط چاره ور وركړې. ابن مسعود (رضي الله عنه) وايي اووم نوم يې هم ياد کړ خو زما په ياد ندی. ابن مسعود بيا وايي: قسم په الله دا ټول کسان چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې نومونه واخيستل د بدر په ورځ مې وليدل چې ټول مړه او مردار پراته او په کنده کې غورځيدلي وو.

انا لله وانا اليه راجعون، د الله د ځمکې په سر تر ټولو غوره انسان چې کله په جاهلي ټولنه کې د الله تعالى د نظام غبړ پورته کوي نو د ذهني او روحي فشارونو سربيره د فزيکي تعذيب دغه برخه ليک سره مخ کيږي، څوک يې په کانو ولي او څوک يې بيت الله کې د عبادت پرمهال پر شا باندې د ناولتيا ډک لرى او کولمې اچوي!! نو اې د حقې لارې مبارزه ته هم طمعه ونه لرى چې ددې عصر جاهلان به ستا په غاړه کې د ګلونو اميلونه دراچوي، کلا وحاشا ته د هماغه محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم وارث يې او دوی هم د دغه ابو جهل او عقبه بن أبي معيط لارويان دي، کچيرې دوی ستا په غاړه کې ګلان دراچول نو پوهه شه چې د محمد رسول الله عليه السلام، بلال، خباب، عثمان، زبير او د عمار لار څخه کوږ شوی يې، نعوذ بالله. لکه نن سبا چې طالبانو ته معاصره جاهلي ټولنه سرې او شنې قالينې غوړوي، بلکې طالبان د دغه جاهلي ټولنې د عضويت په پار د کفر امامانو ته زارۍ کوي، هره اونۍ ورته ۴۰ ميلونه ډالر راځي، هغه ډالر چې امريکا کې د فحاشيو، سود، ظلم، غصب، سګشويي، سګ فروشي، خنزير فروشي، شراب فروشي او نورو ناوړه منابعو څخه ترلاسه کيږي او امريکا يې خپلو اربکيانو طالبانو ته راليږي. اوس هم دا ګمان کول چې طالبان د اسلامي نظام خاوندان دي، يا هم دا خوش فهمي چې طالبانو امريکا ماته کړه، سراسر جهالت او دروغ دي، امريکا چې کله ويتنام کې ماتې وخوړه او په تيښته بريالۍ شوه، آيا بيا يې هره اونۍ ۴۰ مليون ډالر ورليږل ؟ او که نه يوازې په طالبانو مهربانه شوې ده ؟ سره ددې چې دا هغه بخيل او غله خلک دي چې د شرق او غرب کې د اقتصاد هره منبع پسې يې زړه چاودي، او يوه انه هم چاته بې مقصده نه ورکوي !! عقلمندو لپاره د سوچ ځای دی!!

او عجيبه لا دا چې د مکې مشرکانو نبي عليه السلام ته رياکار ويلی: صحيح البخاري په بل روايت کې دا الفاظ هم وي: أَلاَ تَنْظُرُونَ إِلَى هَذَا المُرَائِي. ژباړه: آيا تاسې دغه ځان ښودونکي ته نه ګورئ ؟

الله أکبر، خپله مشرکان دي او نبي عليه السلام ته د رياء نسبت کوي، د باطل پرسته خلکو همدا طريقه وي چې خپل ځان ته نه ګوري چې څومره په کفر، شرک او ارتداد کې ککړ يم خو حق پرستو باندې تهمتونه لګوي. بعينه نن طالبان هم دا چلن کوي چې سر نه تر خپو پورې په نواقضو کې ککړ دي خو بيا هم په اسلامي خلافت باندې اعتراض کوي چې تاسې کې د خوارجو دا صفت دی ؟ ډيره د تعجب وړ ده چې خپل ښکاره ارتداد نه ويني، هغه امور چې ستاسې خپل جنګيالي ايمن الظواهري هم درته په ډاګه کړل چې د ملګرو ملتونو رسميت اخستل کفر بواح دی، خو تاسې بيا هم په هغې سترګې پټوئ ؟

[فَانْبَعَثَ أَشْقَى القَوْمِ] دغه لرى او کولمې راوړنکی بدبخته انسان څوک و ؟ نو دا ابو جهل و، او علامه نووي وايي چې دا عقبه بن أبي معيط و، چې بل روايت کې يې تصريح شوې ده. د ثموديانو هم يو بدبخته انسان و چې د الله لخوا صالح عليه السلام ته ورکړل شوې اوښې باندې يې ګزار وکړو، الله تعالى يې په اړه فرمايي: [كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَاهَا (11) إِذِ انْبَعَثَ أَشْقَاهَا (12)] سورة الشمس. (ژباړه: ثموديانو د خپلې سرکشۍ له امله دروغ وګڼه. کله چې د هغه قوم ترټولو زيات بدبخته سړی قهرجن ورپسې پاڅېده.) چې نوم يې قِدَارُ بْنُ سَالِفٍ يا قُدَارُ بْنُ سَالِفٍ و. خو د مشرکانو بدبخته د ثموديانو بدبخته انسان څخه هم سرکشۍ کې زيات و، ځکه هغه په اوښه ګزار وکړو او دې ظالم د الله په پيغمبر باندې ګزار وکړ.

څومره دردونکې صحنه وه، چې د الله نبي د اوښ لرى او کولمو درونډ بوج د لاندې په تکليف و، او د مکې مشرکانو ددغه حالت څخه خوند اخستلو، او د ډيرې خندا او خوشحالۍ له امله په يو بل غورځيدل، او څوک نه و چې د نبي عليه السلام څخه يې دا درونډ بوج لرى کړی وی، دومره وخت کې چا د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم مومنې لورکۍ فاطمې ته خبر ورکړ، نو هغه په منډه منډه راغله او د پلار جان څخه يې دغه ناولتوب لرې کړ، سره ددې چې هغه هم دې وخت کې ډيره وړه وه، صحيح البخاري د همدې حالت بيان په بل حديث کې شوی، هغه کې دي: [وَهِيَ جُوَيْرِيَةٌ] هغه وړه وه. نو پدغه وړو وړو لاسونه يې هغه درونډ بوج د خپل پلار څخه لرى کړو. نو بيا نبي عليه السلام پاڅيدو. رښتيا هم لور په مور پلار زياته ځيريږي، بيا لګيا شوه د قريشو سردارانو ته يې بد رد وويل، په دومره کم عمرۍ کې د مشرکانو مشران ښکنځل يوازې محمدي نسل کولای شي خو د نور چا دا جرأت نه و.

بله عجيبه خبره دا ده چې نبي عليه السلام دومره تکليف کې و، خو د قريشو دغه امتحان باوجود يې خپل مونځ ندی قطع کړې، بلکې مونځ يې پوره کړه، بخاري روايت دی: [فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلاَةَ،] د قريشو هدف هم دا و چې نبي عليه السلام د مونځ څخه منع کړي خو د مونځ ادا کولو سره يې د قريشو پوزې په خاورو ککړې کړې. نو مومنه وروره د کفارو او مرتدينو تهديداتو او ګواښونو له امله به د اسلامي نظام نصرت په نيمه لار کې نه پريږدو بلکې د ټولو تهديداتو په شتون کې به منزل ته ځان رسوو. ان شاء الله. او نبي عليه السلام حرم کې مونځ ځکه کاوه، دې باندې به قريشو ته سخته غصه ورتلله، او حرم د دعوت خه ذريعه وه، دلته به د هر قوم او قبيلې نه خلک راتلل، نو د نبي عليه السلام مونځ هغوی ته خه دعوت و، او په هغوی باندې حجت تماميدو، خامخا به هغوی دا دعوت ځان سره خپل کلي او علاقې ته وړو. نو موحدينو او مجاهدينو ته دعوت باب کې داسې اعمال اختيارول پکار دي چې اثر او خبر يې تر لرى علاقو پورې رسيږي.

مسلمانانو ورونو او خويندو! دغه هم ورځ وه چې ابن مسعود وړوکی هلک و او هيڅ يې په وسع نه و،

حیران او پریشان یې خپل نبي ته کتل خو لږه موده وروسته د بدر داسې ورځ هم راغله چې همدغه بې وسعه او گډو بیزو شپونکی ابن مسعود د ابو جهل څخه سر غوڅوي. مجاهدینو ورونو او مجاهداتو خویندو، عزمونه مو لوړ او گامونه مو سپېڅلي کړئ، منزل نږدې دی. ان شاء الله.

ددې حدیث پاتې برخه په بل روایت کې ذکر شوې ده، دغه روایت کې أجلح بن عبد الله الکندي د ابو اسحاق السَّبیعي څخه تفرد کړی دی، او د ابو اسحاق نورو ثقه شاگردانو ندی ذکر کړی، لکه شعبه، سفیان ثوري او اسرائیل وغیره. خو أجلح خپله هم صدوق راوي دی [تقریب التهذیب] او بعضې علماؤ په نزد د ثقه زیادت مقبول وي ترڅو چې د نورو ثقاتو او أوثق څخه مخالف نه وي. حدیث داسې دی:

ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَسْجِدِ فَلَقِيَهُ أَبُو الْبَخْتَرِيِّ، وَمَعَ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ سَوْطٌ يَتَخَصَّرُ بِهِ، فَلَمَّا رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْكَرَ وَجْهَهُ، فَقَالَ: مَا لَكَ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَلِّ عَنِّي» ، قَالَ: عَلِمَ اللَّهُ لا أُخَلِّي عَنْكَ، أَوْ تُخْبِرُنِي مَا شَأْنُكَ، فَلَقَدْ أَصَابَكَ بِشَيْءٍ، فَلَمَّا عَلِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ غَيْرُ مُخَلٍّ عَنْهُ أَخْبَرَهُ، فَقَالَ: «إِنَّ أَبَا جَهْلٍ أَمَرَ فَطُرِحَ عَلَيَّ فَرْثٌ» فَقَالَ أَبُو الْبَخْتَرِيِّ: هَلُمَّ إِلَى الْمَسْجِدِ، فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو الْبَخْتَرِيِّ، فَدَخَلا الْمَسْجِدَ، ثُمَّ أَقْبَلَ أَبُو الْبَخْتَرِيِّ إِلَى أَبِي جَهْلٍ، فَقَالَ: يَا أَبَا الْحَكَمِ: أَنْتَ الَّذِي أَمَرْتَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطُرِحَ عَلَيْهِ الْفَرْثُ، فَقَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَرَفَعَ السَّوْطَ فَضَرَبَ بِهِ رَأْسَهُ، قَالَ: فَثَارَتِ الرِّجَالُ بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ، قَالَ: وَصَاحَ أَبُو جَهْلٍ: وَيْحَكُمْ هِيَ لَهُ، إِنَّمَا أَرَادَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُلْقِيَ بَيْنَنَا الْعَدَاوَةَ، وَيَنْجُو هُوَ وَأَصْحَابُهُ. كشف الأستار. [(انظر مسند البزار كشف الأستار 3/ 126 - 127 وفتح الباري 1/ 153 وعزاه لابن إسحاق في المغازي)]

ژباړه: بیا نبي علیه السلام د جمات څخه ووتلو، نو ابو البختري سره مخامخ شو، د ابو البختري سره یو چابک (امسا) وه، چې په لاس کې به یې نیوله، کله چې هغه نبي علیه السلام ولید نو مخ یې تغیر شو، او ورته یې وویل: ولې، څه درباندې شوي ؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: ما پرېږده. هغه وویل: نا الله ته معلومه ده چې نه دې پرېږدم تر څو چې راته دا خبره ونه کړې ؟ تا ته خو څه تکلیف دررسیدلی دی. کله چې نبي علیه السلام پوهه شو چې هغه یې همداسې نه پرېږدي نو خبر یې ورته ورکړو چې ابو جهل امر وکړو نو ما باندې خوشیان راواچول شول، ابو البختري وویل: رازه جمات ته، نو نبي علیه السلام او ابو البختري راغلل او جمات ته ننوتل، بیا ابو البختري ابو جهل ته متوجه شو او ورته یې وویل: اې ابو الحکم تا د محمد [صلی الله علیه وسلم] په اړه امر کړی و نو هغه باندې خوشیان واچول شو ؟ هغه وویل: هو. نو ابو البختري خپل چابک پورته کړو او د ابو جهل سر یې پرې ووهو، نو خلک یو بل پسې پاڅیدل، وایي ابو جهل وویل: تباه شئ، دا گزار دی د ده خاطر شي، یقینا نبي علیه السلام غواړي چې زمونږ منځ کې دښمني واچوي، او خپله او ملگري یې محفوظ شي.

دلته الله رب العالمین د یو کافر په واسطه د نبي علیه السلام انتقام واخیستو، دا ځکه چې کومو کفارو کې لږ شعور هم و، هغوی د نبي علیه السلام قدر او عزت کاوه. او مهمه دا ده چې الله عزوجل د خپل نبي انتقام چاته نه پرېږدي، ولو که دا د مسلمان، کافر یا حتی حیوان په توسط ولې نه وي. صلی الله علیه وسلم.

او د ابو جهل خباثت ته هم انسان حیران شي، چې د دومره تکبر سره هم ځان غلی کوي ددې لپاره چې مسلمانان خوشحاله نشي او اسلام ته گټه ونه رسي، دومره کلک د اسلام دښمن و. دې نه معلومیږي دا چې کفار هیڅکله د مسلمانانو خواخوږي نشي کیدای ولو که طالبان یا هم نورې ډلې ورته شل حیلې جوړې کړي.

أم سلمة رضى الله عنها

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي جعل في سِيَرَ الصالحين عبرةً للمعتَبرِين، وذكرى للذاكرين، وجعل في الصادقين منهم أسوةً وقدوةً للمقتدين، وأشهد أن لا إله إلا الله، وحده لا شريك له، إله الأولين والآخرين، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله. اما بعد :

قال تعالى " وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ. التوبة " ۱۰۰

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم " فَإِنَّمَا عِيَالُكِ عِيَالِي. رواه مسند احمد وغيره

ژباړه " یقینا ستا اولاد زما اولاد دی.

وس په دی درس کې د هغې زنانه لنډ شان سیرت بیانه وو چې دغه الفاظ ورته نبي علیه السلام استعمال کړي چې ستا اولاد زما اولاد دی.

أم سلمة رضى الله تعالى عنها

د ام سلمه رضی الله عنها پلار د مخزوم قبیلې یو وتلی سردار او د عربو په وتلو سخیانو کې یو نوم لروونکې سخي ؤ، تر دی چې ده ته به خلکو زاد الراکب وایه؛ او دا ځکه چې کاروانونه چې به دده طرف ته او یا له ده سره ملګري یوې خواته تلل؛ نو توښه به یې له ځان سره نه اخیسته،

ددې خاوند عبدالله بن عبدالاسد رضی الله عنه ؤ چې یو له هغه کسانو څخه ؤ چې تر هرچا لومړی مسلمان شوې ؤ، ځکه تر ده وړاندې یو ابو بکر رضی الله عنه او څو نورو د ګوتو په شمیر کسانو اسلام راوړی ؤ، ددې زنانه نوم هند ؤ؛ خو خلکو ورته أم سلمه ویل چې وروسته دا کنیه ددې د خپل نوم څخه ډېره مشهوره شوه،

ام سلمة رضی الله عنها له خپل خاوند سره یو ځائ ایمان راؤړ، دا هم له لمړنیو مسلمانانو ښځو څخه وه، کله چې د أم سلمه رضی الله عنها او ددې د خاوند د اسلام راوړلو خبره خوره شوه، په قریشو کې شور او زوږ جوړ شو او دی دواړو ته یې داسې عذابونه ورکول شروع کړ، چې کاڼه کاڼي یې لړزول؛ خو دوی یې نه کمزوري، نه متردد او نه یې سست کړ، کله چې په دوی عذابونه ډېر او سخت شول او رسول الله ﷺ ملګرو ته حبشې ته د هجرت کولو اجازه ورکړه، دوی دواړه د مهاجرینو په لومړي کتار کې وو،

أم سلمه رضی الله عنها او ددې خاوند د غربت او مسافرې هیواد ته لاړ او شاته یې په مکه کې خپل اوچت او ښکلې کور او ډېر عزتمند نسب پریښود، او دا ددې په بدل کې چې الله تعالی ترې راضي او خوشحاله شي ام سلمه رضی الله عنها صرف د الله تعالی أسرې ته پرته وه، سره له دې چې أم سلمه او خاوند ته یې د نجاشي حمایت حاصل ؤ، خو بیا یې هم د وحې د راتلو مرکز مکې ته ډېره تمنا درلوده او دا چې د هدایت مصدر د رسول الله ﷺ زیارت وکړو او ددغه مینې په اور کې د أم سلمه او د خاوند سینې سوځل کیدې،

وروسته د حبشې مهاجرو ته مسلسل داسې خبرونه ورسیدل چې په مکه کې د مسلمانانو تعداد زیات شوی، د حمزة بن عبدالمطلب او عمر بن خطاب رضی الله عنهما اسلام د مسلمانانو ملا مضبوطه کړې او تر یوه حده یې د قریشو د ظلمونو مخه نیولې ده، له دې خبرو سره سم یوې ډلې مهاجرینو مکې ته د بیرته ستنیدو عزم وکړ، دوی خپلې مینې او ډېرې تلوسې را وپارول، أم سلمه رضی الله عنها او خاوند یې دستنیدونکو په اول کتار کې وو،

خو بیرته ډېر ژر دا خبره څرګنده شوه چې دوی ته کوم خبرونه ور وړل شوی وو، هغه هسې تشې تورې افواهې او بې بنسټه دعوې وې، هغه راتګ چې مسلمانانو د حمزه او عمر رضی الله عنهما له اسلام راوړلو وروسته مکې ته وکړ، د قریشو له لوري په ډېر ستر هجوم سره د هغوی استقبال وشو، مشرکانو د مسلمانانو په تعذیبولو او ربړولو کې نورهم شدت اختیار کړ او دوی ته یې داسې عذابونه ورکول شروع کړ چې تردې وړاندې یې نه لیدلي نه کتلي او نه ورسره اشنا وو،

په دې وخت کې یو ځل بیا محمد ﷺ خپلو ملګرو ته مدینې ته د هجرت کولو اجازه ورکړه، یو ځل بیا أم سلمه او خاوند یې دا عزم وکړ چې ددین د حفاظت او کفارو له کړاونو څخه د خوندي کیدلو په نیت وغوښتل چې د مهاجرو په اول کتار کې ځانونه داخل کړي خو دا ځل د أم سلمه او د هغې د خاوند هجرت هغسې آسان نه ؤ، لکه دوی چې فکر کړی ؤ بلکې تریخ، سخت او شاته یې دومره کړاونه درلودل چې بل هرکړاو ورته هیڅ ؤ،

نور موږ خبره أم سلمه رضی الله عنها ته پریږدو ترڅودا د خپل کړاو کیسه راته وکړي ځکه د دې شعور په دې کې ډېر عمیق او زیات دی او همدا راز ددې تصویرونه به ډېر بلیغه او دقیق وي،

أم سلمه رضی الله عنها وایي" کله چې ابو سلمه رضی الله عنه مدینې ته د تللو نیت وکړ نو

ماته یې یو اوښ تیار کړ زه یې پرې سپره کړم، زما ماشوم سلمة زما په غیږ کې ؤ، ابو سلمه روان شو زموږ اوښ یې کشاوه او بل یې هیڅ شي ته توجه او نظر نه ؤ، تر دې وړاندې چې موږ له مکې څخه بیل شو زما د قوم بني مخزوم څه کسان مو ولیدل، چې زموږ طرف ته راغلل، أبو سلمه ته یې وویل" ته که څه هم د خپل ځان په اړه په موږ غالب یې، راستنولی دی نه شو؛ نو ددی ښځې دی څه حال دی ؟ دا خو زموږ د قوم لور ده موږ به دی ولې پریږدو چې ته دا بیا یې او په پردي هیواد کې یې گرځوې؟! وروسته یې لاس ور واچاوه او زه یې ورڅخه راستنه کړم،

کله چې زما د خاوند قوم بنوالاسد دوی ولیدل چې زه او زما زوی یې له ده څخه راستانه کړو ډیر سخت په غوصه شول او ویې ویل" تاسو خپله ښځه زموږ له سړي څخه ستنه کړه، والله که موږ هم خپل ماشوم ستاسو د قوم ښځې سره پریږدو! هغه زموږ بچی او موږ پرې حقدار یو، دوی یو له بله زما په وړاندی زما زوی سلمه سره کشاوه تر دی چې لاس یې ور ووتو او وروسته یې یووړ، په یو څو لحظو کې زه یوازې او حیرانه دریانه پاتې شوم، خاوند مې د خپل دین او ځان د خوندي ساتلو په نیت مدینې منورې ته لاړ! بچی مې کندکپر بنو عبدالاسد په زور راڅخه یووړ او په ما مې خپل قوم بنو مخزوم غالب شو او له ځان سره یې وساتلم، زما، خاوند او بچي تر منځ په یوه ساعت کې بیلتون سره راغی،

له دې ویرلړلې ورځې وروسته به زه هر سهار ابطح ته ورتلم او په هغه ځای به کښیناستم چې زما د ویرلړلي ساعت شاهد ؤ او د هغه لحظو ویر او یاد به مې کاوه چې زما، د زوي او خاوند تر منځ بیلتون پکې راغلی ؤ او تر هغه به مې ژړل چې د شپې به مې خپله خیمه وغوړوله، په دې حال کې زه څه دپاسه یو کال پاتې شوم چې بالاخره زما د تربرانو له جملې څخه یو کس یوه ورځ رابانډې راغی زما په حال یې زړه وسوځید او رحم یې رابانډې راغی زما قوم ته یې وویل" تاسو ولې دا مسکینه نه خلاصوئ؟ د دې، خاوند او زوي تر منځ مو بیلتون راوستی، په ډیرو زاریو سره یې ددوی زړونه نرم او احساسات یې راوپارول چې په نتیجه کې یې ماته وویل" که دی زړه وي په خپل خاوند پسې لاړه شه، خو زه به څنگه په خاوند پسې مدینې ته تللې وای چې زما بچی او د سینې ټوټه په مکه کې له بني عبدالاسد سره پاته وای؟! دا به څنگه ممکن ؤ چې زما سلگۍ او اوښکې دی دریدلې وای زه دی د هجرت په مېنه مدېنه کې وای او زما وړوکې زوی دی په داسې حال کې په مکه کې وای چې ماته یې هیڅ درک نه وای؟ ځینو خلکو زما ویر او بده ورځ ولیده زړونه یې زما په حال ورحمیدل له بنو عبد الاسد سره یې زما په اړه خبرې وکړې د دوی مهرباني یې زما طرف ته راجلب کړه او هغوی مې زوی سلمه راکړ،

زما خوښه نه وه چې نوره په مکه کې پاتې شم او د هغه چا په انتظار واوسم چې مدینې ته سفر ورسره وکړم ځکه له ماسره دا ویره وه چې بیا به داسې څه پیښ شي چې گمان یې نه کیږي او بیا به مې له خاوند سره د پیوستون په مخ کې یو خنډ جوړ شي، نو ځکه مې په بیړه خپل اوښ تیار کړ، بچی مې په غیږ کې راواخست د مدینې په طرف د خاوند په لټه په داسې حال کې روانه شوم چې د الله تعالی له مخلوقه هیڅوک راسره مل نه وو، خو کله چې تنعیم ته ورسیدم هلته له عثمان بن طلحة سره مخامخ شوم هغه راته وویل" ای د زاد الراکب لورې چیرته دی مخه کړې؟ ما ورته وویل" مدینې ته خاوند ته مې ځم،

عثمان وویل " آیا بل څوک درسره نه شته؟

أم سلمه " نه، والله یو الله تعالی او دوهم مې همدا زوی راسره دی،

عثمان وویل " والله که دی هیڅکله یوازې پریږدم چې مدینې ته لاړه شې یعنې زه دی بوزم ورپسې یې زما د اوښ مهار ونیو او روان یې کړ والله که په عربو کې تر ده له معزز او شریف سړي سره هیڅ وخت مخامخ شوې یم چې کله به یو ددمې کولو ځای ته ورسیدو اوښ به یې خې کړ یعنې اوښ به یې ودروه او بیا به له ما تیرشو زه به له اوښ څخه راکوزه شوم او په زمکه به کښینستم بیا به دی ور وړاندې شو کته به یې ورڅخه راکوزه کړه یوې ونې ته به یې بوتلو او ور پورې وبه یې تړلو، وروسته به له ما لرې تر یوې بلې ونې لاندې پریوت، چې کله به د کوچیدلو او د تللو وخت شو بیا به زما اوښ ته ورغی هغه به یې تیار کړ ماته به یې راوست بیا به شاته شو او وبه یې ویل" سپره شه چې کله به زه سپره شوم او په اوښ به مې ځان برابر کړ، ده به تر مهار ونیو او کش به یې کړ،

عثمان له ماسره هر وخت همداسې کول تر دی چې مدینې منورې ته راورسیدو،

عثمان چې کله په قباء کې یو کلي ته چې د بنو عمرو بن عوف کلی ؤ وکتل ویې ویل" ستا خاوند په همدې کلي کې اوسیږي ته همدلته د الله تعالی په برکت ور داخله شه له دې سره عثمان بیرته مکې ته راڅخه ستون شو،

له اوږده فراق وروسته زموږ بدحال بیرته په پیوستون بدل شو او د أم سلمة رضی الله عنها سترگې د خپل خاوند په لیدو سړې شوې ، أبو سلمه رضی الله عنه د خپل بچي او ښځې په لیدو بیرته نیک بخت شو له دې وروسته پیښې ډیرې په جلتئ یو په بل پسې لکه د سترگو رپیدلو پشان تیریدې،

هماغه وو چې بدر ته أبو سلمه رضی الله عنه حاضر شو او د نورو مسلمانانو ترڅنگ ابو سلمه رضی الله عنه هم له بدره په داسې حال کې راستون شو چې ښکاره او مضبوط مدد یې په برخه شوی ؤ، په هغه پسې د أُحد غزا منځ ته راغله له بدره وروسته د هغې منځ ته ورننوت او ډیر ښه امتحان یې ورکړ، خو له بده مرغه په داسې حال کې د جگړې له ډگر څخه راووت چې ډیر ژور زخمونه یې خوړلي وو، ده خپل علاج ته په دوامي شکل دوام ورکړ ، تر دی چې دایې باور شو چې نور نو زخمونه ټکور شول خو زخمونه د ننه خراب شوي وو، ډیر وخت لا نه ؤ تیر شوی چې زخمونه یې بیرته خلاص شول او أبو سلمه رضی الله عنه یې د بسترې خاوند کړ،

کله چې أبو سلمه رضی الله عنه دوهم ځل د زخمونو علاج کاوه خپلې ښځې ته یې وویل" ای أم سلمه! رضی الله عنها ما له رسول الله ﷺ څخه اوریدلي چې ویل یې" هر چا ته چې مصیبت ورسیږي او په دغه وخت کې اناالله وانااليه راجعون ووايي او داسې ووايي" ای الله زه د خپل مصیبت په باره کې ستا څخه د ثواب امید ساتم، ای الله ته ماته تر دې غوره څه راکړې، خامخا به الله دده دعا قبوله کړي،

او دغه دعا په حدیث کې داسې ذکر ده " إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا.

څو شپې أبو سلمه رضی الله عنه په خپله بستره پریوت، یو سحر رسول الله ﷺ دده تپوس ته راغی تر څو یې پوښتنه وکړي له پوښتنې وروسته نبي کریم ﷺ دده د کور تر دروازې لا تیر شوی نه ؤ چې أبو سلمه رضی الله عنه له ژوند سره مخه ښه وکړه او دنیا نه لاړ، نبي کریم ﷺ په خپلو مبارکو لاسو دده سترگې ورپټې کړې او د آسمان طرف ته یې وکتل او ویې ویل" ای الله أبو سلمه ته بخښنه وکړې او په خپلو نیزدی انسانانو کې دده درجه اوچته کړې او دده روسته ورتلونکو لپاره ته صبر ورکړې؛ موږ او ده ته بخښنه وکړې،

ای الله ! قبر ورته فراخه او نوراني وگرځوې،

أم سلمة رضی الله عنها ته هم هغه روایت ور په یاد شو چې أبو سلمه د رسول الله ﷺ څخه ورته نقل کړی ؤ؛ نو وی ویل" ای الله د خپل دې مصیبت اجر له تا غواړم، خو دې دا نه خوښوله چې ووایي ای الله ! موږ ته تر ده غوره بدله راکړې ځکه دې له ځان سره دا ویل چې څوک کیدای شي چې د أبو سلمه رضی الله عنه څخه غوره وي؟ خو بیا یې هم دعا پوره کړه،

مسلمانان د أم سلمه رضی الله عنها په غم دومره غمجن شول چې د بل هیچا په مصیبت دومره

نه وو غمجن شوي او په دې يې د عربو د کونډې نوم کيښود، ځکه چې په ټوله مدينه کې ددې ښوک خپل خپلوان نه وو بغير له هغه يوه زوي چې هغه هم داسې ؤ لکه د تيتر مرغه هغه بچې چې بڼې پرې نوي راښتلې،

مهاجرين او انصار ټول د أم سلمه رضی الله عنها په هغه حق خبر شول چې په دوی يې درلودو کله چې د ام سلمه رضی الله عنها د عدت او بيمارۍ ورځې ختمې شوې ابو بکر رضی الله عنه ورته راغی او د ځان لپاره يې د نکاح غوښتنه ورڅخه وکړه خو دې دده له غوښتنې څخه انکار وکړ، وروسته عمر رضی الله عنه ورته راغی، هغه يې هم دده د ملګري په شان ځواب کړ، په ده پسې رسول الله ﷺ ورته راغی أم سلمه رضی الله عنها ورته وويل " ای رسول الله ﷺ! زه درې خصلته لرم " زه ډيره غيرتي ښځه يم له ما سره دا ويره ده چې داسې څه به راڅخه ووينې چې تاته به قهر او غصه درولي او الله تعالی به د هغه غوصې له وجې په ما عذاب نازل کړي، بل دا چې زه يوه داسې ښځه يم چې وخت رابانديې تير شوی يعني ډير عمر واله يم، بل دا چې د عيال او بچو خاونده يم،

محمد ﷺ ورته وويل" کومه خبره چې تا د غيرت په باره کې وکړه زه به له الله تعالی څخه وغواړم چې قهر او غيرت درڅخه ختم شي، کومه خبره چې تا د تير عمر په باره کې وکړه نو ماته هم هغه څه رسيدلي کوم چې تاته رسيدلي يعني زما هم عمر تير شوی، پاتې شوه ستا د عيال او بچو خبره، نو ستا عيال زما عيال دی، وروسته رسول الله ﷺ له أم سلمه رضی الله عنها سره واده وکړ او الله تعالی يې دعا قبوله کړه او تر أبو سلمه رضی الله عنه يې ډير ښه بديل ورکړ، له دې وروسته د مخزوم د قبيلې هند يوازې د سلمه مور نه بلکې د ټولو مؤمنانو مور وګرځيده،

نَضَّرَ اللهُ وجهَ أمّ سلمةَ في الجنّةِ وَرَضِيَ عَنْها وأرضاها،

الله تعالی دی د أم سلمه رضی الله عنها مخ په جنت کې تازه وګرځوي او الله دی ترې راضي او دادی هم له ځانه راضي کړي. آمين

مسلمانانو ورونو کې ښوک د ام سلمه رضی الله عنها باره کې نور معلومات حاصلول غواړي نو هغه دی دغه کتابونه وګوري.

الاصابة " ٢٤٠ " الاستيعاب ٢/ ٨٠

أسد الغابة " ٥/ ٥٨٨ " تهذيب التهذيب " ١٢/ ٤٥٥

البداية والنهاية " ٨/ ٢١٤

او داسې نور د سيرت کتابونه

ددی سيرت څخه بعضې فائدې

اوله " کله چې انسان په نبوي منهج او لاره باندې روان شي او په مخ د زمکه باندې اسلامي قانون او نظام راوستل غواړي او د مخ د زمکې څخه کفري نظام او حاکمان ختمول غواړي نو دادی دغسې سختئ او تکليفونو ته ځان تيار کړي لکه څنګه چې په ام سلمه او د هغې په خاوند باندې راغلي وو او داسې نده چې يو انسان دی د کافرانو سره دښمني هم کوي يو انسان دی کفري قانون او نظام ختمول غواړي او هغه دی بيا هم د کفارو سره ژوند کوي هغه دی د کفارو سره په ډکه خوله باندې د خندا مجلسونه کوي بلکې دی به د کفارو په وژلو پسې ګرځي او کفار به دده په وژلو پسې ګرځي لکه څنګه چې په وس وخت کې د اسلامي خلافت مجاهدين دي، ولله الحمد علی ذلك،

دويمه " مسلمان ته چې د کفارو له طرفه کوم تکليفونه او سختئ ملاويږي نو دی به په دغه تکليفونو باندې داسې صبر کوي لکه څنګه چې ام سلمه او د هغې خاوند وکړ او مسلمان به په اسلام او ايمان باندې داسې کلک او مضبوط وي لکه څنګه چې ام سلمه او د هغې خاوند کلک وو،

دريمه " د وس وخت مسلمانانې ښځې د ام سلمه رضی الله عنها په ژوند او سيرت کې خه سوچ وکړي او د ځان سره يې ولګوي چې په مسلمانانو کې به څنګه غيرت وي مسلمانان به د الله په لاره کې په تکليفونو باندې څنګه صبره کوي او ايمان به يې څنګه کلک او مضبوط وي او د وس وخت مسلمانانو سړو او ښځو ته د ام سلمه رضی الله عنها پشان د غيرتي زنانه ؤ څخه شرم پکار دی،

څلورمه " په کوم ځائ کې چې مسلمان خپل ايمان او اسلام نشي ساتلې د هغه ځائ څخه هجرت کول او هغه ځائ پريښودل اګر که ستا هر څومره دنياوي نقصان پکې وي لکه څنګه چې صحابه ؤ اول حبشې ته او بيا مدينې ته هجرت وکړ،

پنځمه " د کفري قانون او نظام نه برأت کول او د کافر حاکم او بادشاه لاندې د ذلت وخت او زندګي نه تيرول او د اسلامي حکومت راوستلو لپاره مهنت خواري او کوشش کول لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه ملګري ددی په کوشش کې وو،

شپږمه " د هجرت په لاره کې به مسلمانانو سړو او ښځو ته تکليفونه رسيږي خو هغه به داسې صبر کوي لکه څنګه چې ام سلمه او د هغې خاوند وکړو د هجرت په لاره کې ښځه د خاوند او خاوند به د ښځې څخه جدا کيږي لکه څنګه چې ام سلمه او د هغې خاوند سره جدا شول د هجرت په لاره کې به پلار د زوي او زوی د پلار څخه جدا کيږي لکه څنګه چې سلمه د خپل پلار نه جدا شو د هجرت او جهاد په لاره کې به مور د بچي نه او بچې د مور څخه جدا کيږي لکه څنګه چې ام سلمه په يوه ورځ باندې د خپل خاوند او بچي سره جدايي راغله او داسې نور تکليفونه،

اوومه " دار الاسلام ته د هجرت په وخت دغه مجاهد ته دا خبرې کول چې ته د خپلو بچو سره پردي وطن ته ځې او داسې نور پيغورونه ورکول داده جاهل او کم عقل انسان کار دی لکه څنګه چې د ام سلمه رضی الله عنها خاوند ته د مکې مشرکانو ويل،

أتمه " کله کله به د جهاد او هجرت په لاره کې په مسلمان باندې تکليف او مصيبت دومره اوږد شي چې کالونو ته به خبره ورسيږي لکه څنګه چې په ام سلمه يعني د سلمه په مور باندې تکليف او مصيبت اوږد شو خو مسلمان سړي او مسلمانه ښځه به بيا هم خپل منهج او خپله لاره نه پريږدي بلکې داسې صبر به کوي او د خپل رب نه به دعاګانې غواړي لکه څنګه چې د سلمه مور او پلار صبر او د عاګانې کولې،

نهمه " کله چې يو مسلمان سړې يا مسلمانه ښځه په دين اسلام باندې کلک ودريږي او د خپل ايمان د حفاظت سوچ او فکر ورسره وي او د جهاد هجرت او د رب العالمين په لاره کې په مصيبتونو او تکليفونو باندې صبر کوي نو رب العالمين يې داسې مدد او نصرت کوي لکه څنګه چې د ام سلمه رضی الله عنها مدد او نصرت يې وکړ،

لسمه " مسلمان سړې او مسلمانه ښځه به د کافرانو او مشرکانو څخه اګر که هغه يې نيزدی خپلوان هم وي داسې نفرت کوي لکه څنګه چې ام سلمه رضی الله عنها کاوه چې د تګ موقعه ورته ملاؤ شوه نو بيا يې خپلوان او خپل کور او خاندان ته ونه کتل بلکې خپل مومن خاوند ته يې ځان ورساوه،

يولسمه " يوه زنانه د خپل نفس او د خپل ايمان د حفاظت لپاره دار الاسلام ته د پردي سړي سره هجرت کولې شي چې کله ورسره خپل ښوک نه وي لکه څنګه چې ام سلمه رضی الله عنها وکړ،

دولسمه " د مسلمان په هر غم او مصيبت باندې بل مسلمان خفه کيږي خو بعضې غم او مصيبت داسې وي چې په ښکاره باندې وړوکې ښکاري خو غم او خفګان ډير لري لکه څنګه چې صحابه رضی الله عنهم د ام سلمه رضی الله عنها په غم باندې وردريدل،

ديارلسمه " زنانه ته پکار دي چې دار الاسلام ته هجرت وکړي او خاوند يې وفات شي نو خپل هجرت خراب نکړي او په دار الاسلام کې پاتې شي لکه څنګه چې ام سلمه رضی الله عنها پاتې شوه،

څوارلسمه " کله چې يوه ښځه کونډه شي نو هغې ته دويم خاوند کول جايز دي او داده شرمه خبره نده لکه څنګه چې ام سلمه رضی الله عنها دويم واده وکړ خو نن د مسلمانانو په کورونو کې د کونډو ښځو ژوند د غلامانو او وينځو پشان دی او ظلمونه پرې خلک کوي،

پنځلسمه " کله چې انسان باندې مصيبت او غم راشي نو دغه دعا ويل " : إِنَّا للهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَأَخْلِفْ لِي خَيرًا مِنْهَا.

شپاړلسمه " اول ام سلمه صرف د سلمه مور وه خو چې کله يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره واده وکړ نو بيا تر قيامته د ټولو مومنانو مور شوه،

ډېر ژر
ان شاء الله تعالی

د مرتدو طالب ملېشو د اسلام د نواقضو باره کې په زړه پورې قیمتي او ګټور کتاب
یاد کتاب چې پښتو یې پخوا خپور شوی و، د طالبانو د ایمان نواقض پکې په خورا تفصیل
سره څېړل شوي او بیان شوي دي، دا ځل یې فارسی د العزائم خپرندویه ادارې څخه خپرېږي.
یاد کتاب ولولئ او د مرتدو طالب ملېشو د اسلام ماتونکو څخه ځانونه خبر کړئ او هم یې تر نورو ورسوئ.

په دې په زړه پورې مدلل او

معلوماتي کتاب کې

مؤسسة العزائم
الإعلامية

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي